په گردیز کی درژیم وسله وال
ځواکونه مجاهدینو ته تسلیم شول

منبع الجهاد

علمي ،جهادي ،سیاسي میاشتنی خپرونه

دالحاج «حقانی» د
کراچی د دوری راپورتاژ

الحاج „حقانی“:
دمجاهدینو اوستاسی تر منځ دښمنی دملحد رژیم له امله
وه اوس چی ملحد رژیم نشته زموږ دښمنی هم نشته

الحاج نظام الدین
«حقانی»:
په خوست کی
دمجاهدینو له خوا
واحده اداره جوړه
شوه

بسم الله الرحمن الرحيم

ارشادات الهی

ومباشید مانند کسانیکه پراگنده
شدند واختلاف کردند بایکدیگر پس
ازانکه امد بایشان احکام واضح

**دهیواد آزادی او د کابل فتحه خپل مجاهد
ولس ته د سولی، امنیت سوکالی او ملی وحدت
د تأمین او تینګښت په دعا بختوره غواړو**

منبع الجهاد

علمی ، جهادی ، سیاسی ،میاشتنی خپرونه

مؤسس :الحاج مولانا جلال الدين «حقاني»

دتأسیس کال: ۱۳٦۸هـ ش ،۱٤۰۹هـ ق

دریم کال ، نهمه،لسمه گنه -۱۳۷۱هـ،ش وري ،ثور د۱٤۱۲هـ ق رمضان المبارك ، شوال المكرم

په دې گڼه کې

شمیر	عنوان	مخ
۱:-	سرمقاله	(۲)
۲:-	شعله ور شدن اختلافات قومی ...	(٤)
۳:-	اسلامی صحافت	(۹)
٤:-	الحاج حقانی دکراچی	(۱۳)
۵:-	دجهاد مهم مرکزونه	(۲٦)
٦:-	په گردیز کی درژیم وسله وال....	(۲۹)
۷:-	الحاج نظام الدين حقانی له	(۳۵)
۸:-	دمجاهد غږراديو.......	(۳۹)
۹:-	کمونیزم دتکامل او.......	(٤۱)
۱۰:-	دپکتیا تاریخی معرکی	(٤٦)
۱۱:-	شعراوادب	(٤۸)
۱۲:-	لنډه کیسه (هدیره)...	(٤۹)
۱۳:-	راغلی لیکونه	(۵۷)
۱٤:-	ابدی ژوندی	(۵٩)

دهئیت تحریر ترنظرلاندی

مکاتباتی پته

پوست بکس نمبر (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاون پیښور

دتلیفون نمبر (۸۲۰) میرانشاه

بانکي پته

حبیب بانك ، کنت برانچ

صدررود،خانگه دحساب

نمبر:۲۰۵۵۹ پیښور پاکستان

کمپوزر: نجیب الله «حدران»

منبع الجهاد

بسم الله الرحمن الرحيم

جمعیت یاران طریقت
بعد از این تدبیرها

دادي لله الحمد تر ديارلس كلني جگړي وروسته هغه شيبې راورسيدې چې ټول ملت يې انتظار ايست دثور تر كرغيړني كودتا وروسته چې دكابل گوډاگي رژيم دقدرت واگې په لاس كې نيولې دي پرېې وزلو افغانانو يې له هيڅ ډول ظلم او ستم څخه ډډه ونكړه ، وينې يې توې كړې ، خلك يې ژوندي تر خاورو لاندې كړل ، كورونه يې دخاورو سره خاورې كړل دهيواد وگړي يې په هجرت مجبور كړل ، او يو نيم مليون يې په شهادت ورسول خو ددې ديارلس كلنو جناياتو او وينې تويونو سره سره په دې ونه توانيدل چې دمجاهدينو مقاومت كمزورې كړي بايې له مينځه يوسې په سركې خلقيانو ،پرچميانو دخلكو پر ستونو برچې كيښودې ، ترڅو وكولاې شي دخلكو په ستوني كې دخپلواكۍ او اسلاميت غږ ورك كړي خو چې په دې كار كې بريالي نشول خپل بادار يې راوباله او دمجاهدينو مقابل كې ودريدل ، منډې رامنډې وكړې ، خپلې ټولې مدرنې ځ درندې او سپكې وسلې يې استعمال كړې خو

اخر د مجاهدينو په مقابل کې په ګونډو شول او دې خبرې ته اړ شول چې :«..موږ به بيا هيڅکله دافغانستان خواته په بد نظر ونګورو»، دکابل دګوډاګي رژيم خبره هم په هماغو لومړيو ورځو کې ختمه وه خو دځينو نورو عواملو سربيره دمجاهدينو بې اتفاقي او ځانځاني ددې چانس ورکړ چې يو خوورځې نور هم ساه وکاږي ، او چې بيا کله دروسانو امپراتورۍ دړې وړې شوه ، په هر ځاي کې دازادۍ بيرغونه پورته شول دکابل رژيم دنسکوريدو شيبې لااګرندې شوې او اخر يې خبره له مينځه تلو ته راورسيده او دادې اوس عملاً په ټولو ښاريانو او ولاياتو کې دمجاهدينو او اسلام جنډه په رپيدو ده خو خبره داده چې داټول څه شول ،ددې لپاره چې اسلامي حکومت جوړشي دشهيدانو دوينو ارمان تر سره شي او دولس غوښتنو ته لبيک ووېلې شي او روښانه ده چې دارمان په مو هغه وخت تحقق مومي چې په ريښتوني توګه يوه بل ته دوروري لاسونه ورکړو، دشخصي اوګوندي ګټو تير شو او داسلام او هيواد ګټې په پام کې ونيسو ، که داحالات وي چې هر يو دځان دګټو دلاس ته راوړلو په هڅه کې شي ، ښايې هغه ارمان به مو چې دا ديارلس کاله مو دلاس ته راوړو په خاطر قرباني ورکړه تر سره نشي ،اخر تر څو به هر يو دځان په ګټو پافشاري کوو راځي چې نور داسلام او هيواد دګټو په خاطر فکروکړو څکه که په ځاني توګه څه کيدې نو خلقيانواو پرچميانو به کړې وې چې دروس په شان يو ابرقدرت يې هم ترشا ؤ ، بايد په ګډه د راتلونکي حکومت دجوړيدو لپاره تصميم ونيسو ، ژبنې او مليتي مسايلو ته لمن ونه وهو ، خپل ټول امکانات په دې لاره کې په کاروا‌چوو چې څنګه د يوې قوي ادارې په جوړيدو بريالي کيږو تر څو وکولې شو په افغانستان کې اسلام نافذ کړو او دخلکو غوښتنو ته عملي جامه ور واغوندو .

سياسي تبصره

شعله ور شدن اختلافات قومي وملیتي در افغانستان

عبدالوکیل

جامعه بشري ازاوان پيدايش خويش تاكنون طوائف، قبايل، اقوام ومليت هاي متنوعي را در اغوش خويش پرورشداده است .
جوامع بشري ايكه به علم وتخنيك عالي تري دست يافته اند ، كلتور وروان مشابه ومشترك انها بيشتر انكشاف نموده تجمع بشري از نوع ملت نيز درانها شكل تكامل يافته تري رابخود گرفته است ، باوجود انكه ملت ها به شكل واقعي وحقيقي ان در جوامع پيشرفته كاملترمي گردد ولي درجوامع نسبتاً ابتدايي ايكه داراي طرز توليد ساده تر ميباشد نيز وحدت ويگانگي ملي را به شكل ناتكميل يافته ان مشاهده كرده ميتوانيم ودر شناخت ملت ها زندگي كردن تحت بيرق واحد درزمين واحد ايكه داراي حدود معين بوده باشد نقش اساسي را دارا ميباشد اما زبان ، نژاد ، مذهب وتفاوت ها ي فرعي ديگر در ملت هاي جهان پديده ها وفكتور هاي فرعي بوده كه به طورطبعي نمي توان ماهيت يك ملت واحد وهمبسته راصدمه زند و در جهان معاصر ملتي كه در ان تنوع زبان يا مذهب ونژاد ويا ديگر تفاوت هاي غير عمده وغير اساسي موجودنباشد اصلاً وجود ندارد .
اين اختلافات فرعي ناشي از عوامل مختلف بوده كه ازجمله ان ميتوان عقب ماندگي عمومي ، اسيرو پارچه شدن اقوام ، مليت ها وملت ها توسط استعمار گران ومهاجرت هارانام برد .
هر گاه جوامع بشري را از نقطهء نظر رشد وتكامل اقتصادي ، سياسي ، فرهنگي واجتماعي مدنظر گيريم به مشاهده ميرسد كه به هر اندازه ايكه به سوي جوامع ابتدايي وبدوي ميرويم به همان اندازه شدت وتنوع اختلافات وتفاوت هاي مذكور بيشتري مي گردد ، وبه هر اندازه ايكه به سوي جوامع

پیشرفته میرویم به همان اندازه این تفاوت ها کمتر شده مي رود ، یعني اندازه وشدت انها از همدیگر متفاوت میباشد .

درطول تاریخ بشریت به مشاهده رسیده است که از اختلافات ، تفاوت ها وتضادهاي فوق الذکر سواستفاده هاي زیادي صورت گرفته شده است وانها را بخاطر بدست اوردن منافع استعماري واستثماري وشخصي خویش شدت داده ویا اینکه انها را نادیده گرفته است لاکن دوستداران انسانیت ، ملت وترقي ازیك سو نباید اختلافات ذکر شده را نادیده گیرد وانها را به طور مصنوعي حل وفصل پنداشت واز سوي دیگر باید از شدت دادن وظهور ان به طور مصنوعي وعمدي خودداري ورزند .

افغانستان نیزدرطول پیدایش خویش کشوري بوده که در ان طوائف ، قبائل ، اقوام وملیت هاي متنوعي زیست نموده وداراي تاریخ ، افتخارات ومنافع مشترك میباشد ، لاکن دشمنان این خاك قهرمانان وشهیدان کوشیده وگاهي به این اهداف شوم خویش نایل شده اند تا اقوام وقبایل وملیت هاي این مرزوبوم را بخاطر منافع شخصي و استعماري خویش در مقابل یکدیگر به منازعه انداخته تفاوت ها واختلافات ناچیز را به طور مصنوعي بزرگ ویا اهمیت جلوه گرمي سازندکه منجر به مصیبت ها وزیان هاي فراوان وجبران ناپذیري براي مردم مسلمان وحق دوست کشور افغانهاشده است .

اگر از تاریخ دورتر بگذریم وچشم دیدخود را در رابطه به این مسئله در افغانستان ابراز نمایم واز زمامداري ظاهرشاه تاکنون بررسي گردد دیده خواهد شد که مسله قومي وملیتي درافغانستان بسیار حساس ، مهم وقابل دقت میباشد ودشمنان اسلام ، وطن ومردم افغانستان از تشدید نمودن ویا نادیده گرفتن ان ها به طور مصنوعي این کشور را به سوي تباهي وویراني سوق داده است .

در زمان سلطنت ظاهرشاه

بعد از کودتا (۷) ثور ۱۳۵۷ هـ ش زمانیکه تره کي وامین بر مسند کرسي قدرت نشته بودند نقش ،حقوق وموقف ملیت پشتون را در مقابل ملیت هاي برادر دیگر کشور مان افغانستان به شیوه مطرح واقدام به عملي نمودن ان گردید که باعث برانگیختن احساسات ضد پشتون ها از جانب ملیت هاي دیگر این کشور شد اما زمانیکه روسها در شش جدي سال ۱۳۵۸ هـ ش بر کشور افغانها هجوم نظامي اوردند واین خاك اسلام را اشغال نمودند ملیت هاي غیر پشتون را بخاطر پشیماني ازپلان هاي استعماري خویش از طریق سهم دادن نسبتاً بیشتر در دستگاه دولتي رژیم کابل در مقابل ملیت پشتون قرار دادند ولي همه ملیت هاي افغانستان اعم از پشتون ، تاجیك ، ازبك ، هزاره ، ترکمن ، نورستاني ها ، پشه یي ها ، بلوچ ها .... نسبت به ملیت ، زبان اختلاف مذهبي ومحلي ، اسلام واستقلال ملي را جحان داده علیه استعمار کمونستي روس ومزدوران ان جهاد مسلحانه را هر چه بیشتر شدیدتر و طوفانیترنمودند

بعد از کودتا ۷ثور خوصاً دراین اواخر رژیم کابل براي نجات از سوقط خویش دست به تشکیل ملیشه هاي قومي زد ، وانها را براي جنگ در مقابل مجاهدین به مناطق سوق مي نمودن که ازنقطه نظر زبان محل قوم وملیت به یك دیگر تفاوت داشتند به این ترتیب مخواستند تفاوت زبان محل ولیت ها را به تضاد هاي اصلي واشتني ناپذیر تبدیل نمایند تا از ان طرین اهداف استعماري ضد اسلامي وضد ملي خویش را جامه عمل بپوشاند

دراکثریت امور سیاسي ، فرهنگي واجتماعي کشور به ملیت که اکثریت راتشکیل میدادند نقش ثاني داده شده بود وانها ایکه ازنقطه نظر کمیت کوچکترین ملیت هاي افغانستان راتشکیل میداد نقریباً نادیده گرفته شده بودند ودر دوره قدرت محمد داؤد در این پروسه کدام تغیر مثبت رونما نگردید .

بعد از کودتا (۷) ثور ۱۳۵۷ هـ ش زمانیکه تره کي وامین بر مسند کرسي قدرت نشته بودند نقش ،حقوق وموقف ملیت پشتون را در مقابل ملیت هاي برادر دیگر کشور مان افغانستان به شیوه مطرح واقدام به عملي نمودن ان گردید که باعث برانگیختن احساسات ضد پشتون ها از جانب ملیت هاي دیگر این کشور شد اما زمانیکه روسها در شش جدي سال ۱۳۵۸ هـ ش بر کشور افغانها هجوم نظامي اوردند واین خاك اسلام را اشغال نمودند ملیت هاي غیر پشتون را بخاطر پشتیماني از پلان هاي استعماري خویش از طریق سهم دادن نسبتاً بیشتر در دستگاه دولتي رژیم کابل در مقابل ملیت پشتون قرار دادند ولي همه ملیت هاي افغانستان اعم از پشتون ، تاجیك ، ازبك ، هزاره ، ترکمن ، نورستاني ها ، پشه یي ها ، بلوچ ها ... نسبت به ملیت ، زبان اختلاف مذهبي ومحلي ، اسلام واستقلال ملي را رجحان داده علیه استعمار کمونستي روس ومزدوران ان جهاد مسلحانه را هر چه بیشتر شدیدتر و طوفاني تر نمودند وبعد از ده سال قرباني ومقاومت بي نظیر در مقابل اژدهائي قرن بیست انها را به زانو دراورد ودر سال ۱۳٦۸ هـ ش از خاك اسلام وافغانها رانده شد . دراین مرحله حساس وسرنوشت ساز که از هر وقت دیگر امکانات بوجود امدن افغانستان اسلامي ، واحد ومستقل مهیا گردید درپهلوي پرابلم ها و دسایس گوناگون از طرف دشمنان اسلام ووطن به

مسله تفاوت ها واختلافات ملیتي ، زباني، محلي ، قومي وقبیلوي را به طور پلان شده بیش از انکه موجود است دامن زده مي شود ومیخواهند این مسایل فرعي وغیر اساسي را به تضادهاي عمده وبنیادي تبدیل نمایند ، وحدت ویکپارچگي اقوام وقبایل وملیت هاي غیور و باشهامت افغان را خدشه دار سازند تا توانسته باشند ازاین طریق به اهداف شوم ضد اسلامي وضد ملي خویش نایل گردند .

بعد از کودتا ۷ ثور خصوصاً دراین اواخر رژیم کابل براي نجات از سقوط خویش دست به تشکیل وسیع ملیشه هاي قومي زد وانها را براي جنگ در مقابل مجاهدین افغانستان به مناطقي سوق مي نمودند که از نقطه ءنظر زبان ، محل ، قوم و ملیت به یکدیگر تفاوت داشتند به این ترتیب مخواستند تفاوت زبان ، محل وملیت ها را به تضاد هاي اصلي واشتي ناپذیري تبدیل نمایند تا از این طریق اهداف استعماري ،ضد اسلامي وضدملي خویش را جامه عمل به پوشانند .

علاوتاً روسها از اختلافات ذکرشده در داخل حزب مزدور خویش (حزب دموکراتیك خلق) نیز به نفع خویش استفاده نمود. روسها ووطن فروشان افغاني ، احزاب وسازمان هاي مختلف بنام دفاع ازمنافع وحقوق ملیت هاي معین روي کار اوردند که به وحدت مردم افغانستان لطمه شدید زده شد .

این مرض مهلك گاهي به طوري غیر اگاهانه و گاهي از سوي دشمنان اسلام ووطن درصف هاي مجاهدین نیز به این ویا ان شکل بروز نموده است اما در این اواخر این مسله به صورت عموم حالت حاد وخطرناکتر را نسبت به هر وقت دیگر کسب نموده است.

نشست نمایندگان دولت ایران ، تاجکستان وچند نفردیگر که متابعت افغانستان را داشت در ارتباط به اینکه گویند گان زبان فارسي هستند و باید در مسایل ذیعلاقه همکاري ، بحث وگفتگونمایند ، پدیده جدید و با اهمیت بود که میتوان نتایج منفي را نیز ببار اورد .

در این هفته هاي اخیر در مزارشریف ملیشه هاي قبلي رژیم کابل وعده از مجاهدین شکلي از توافق را در رابطه به دولت اینده یا اینکه نظم مؤقت در این شهر بوجود اورده است مطلب جدید وقابل دقت میباشد ، باوجود انکه دراظهارات منابع

رسمي این نیروها راجع به وحدت ویا توافق بین انها واهداف اعلان شده انها کدام نکته ومسله قابل تشویش وجود ندارد ولي گاهي ازجانب رسانه هاي استعماري شنیده مي شود که شده میتواند رویداد هاي مذکور مقدمه براي دولت مستقل درسمت شمال نیز شده بتواند این همان چیزیست که دشمنان اسلام وافغان ها از مدت هاي مدید انتظارانرا داشتند وبراي دایم سعي خواهد کرد تا وحدت ویکپارچگي مردم مسلمان افغانستان به نام هاي مختلف خدشدار سازند وبین انها تخم نفاق ودشمني کشت نمایند .

درشرایط کنوني باوجود انکه عوامل داخلي در افغانستان میتواند در تشکیل دولت اینده افغانستان نقش اساسي را بازي نمایند لاکن در این دوران که امپراتوري وابرقدرت خون اشام کمونستي روس نابود گردیده وایالات متحده امریکا بحیث ابر قدرت یگانه جهاني عرض اندام نموده است نقش ان نیز در

این مرض مهلک گاهی به طور غیر اگاهانه وگاهی از سوی دشمنان اسلام ووطن درصف های مجاهدین نیز به این ویا ان شکل بروز نموده است اما در این اواخر این مسله به صورت عموم حالت حاد وخطرناکتر رانسبت به هر وقت دیگر کسب نموده است .

نشست نمایندگان دولت ایران ، تاجکستان وچند نفرکه متابعت افغانستان را داشت در ارتباط به اینکه گویندگان زبان فارسی هستند وباید در مسایل ذیعلاقه همکاری ، بحث وگفتگو نمایند ، پدیده جدید و با اهمیت بود که میتوان نتایج منفی را نیز ببار اورد.

حوادث ، رویداد ها ومنازعات جهان نسبت به هر وقت دیگر بیشتر شده است پس هر گاه این ایالات برضد وحدت وهمبستگي افغانها عمل خصمانه را انجام نه دهد سوال رادررابطه به تجزیه افغانستان براي مردم مسلمان وازادي دوست افغان مطرح نه خواهد بود .

چون مردم مسلمان وشهید پرور افغانستان در طول تاریخ خویش از مراحل وشرایط بسیارنازك ودشوار به طور موفقانه عبور نموده اند اکنون نیز اتکا به خداوند نموده علیه هر نوع تفرقه وپرابلم ها مجادله خواهند کرد وبراي برقراري نظام اسلام در افغانستان وحصول آزادي ملي از هیچ نو ع فداکاري و خود گذري دریغ نه خواهند کرد.



منبع الجهاد -دریم کال ، نهمه لسمه گنه -۱۳۷۱هـ.ش وزي ،شور

اسلامي صحافت
(ژورنالیزم)

«اسلامي صحافت» د «سید عبیدالسلام زیني» په قلم دلیکل شوي کتاب نوم دي ، په کتاب کي دنبه صحافت پر څرنګوالي سربیره اسلامي صحافت باندي په زړه پوري بحث شوي ، موږ دموضوع داهمیت او پردي ضرورت درښا اچولو په خاطر دهغه ژباړل پیل کړي هیله ده داستفادي وړ وګرځي دا هم بیادولو وړ ده چي موږ داسلامي ژورنالیزم پر ځاي داسلامي صحافت نوم ځکه غوره کړي چي ژورنالیزم انګلیسي کلمه ده او صحافت عربي که څه هم چي معمول ژورنالیزم دي خو موږ مقصد له دي ژباړني څخه دادي چي هغه بریدونه وښیو چي استعمار په یوه او بل نامه زموږ په مینځکي اچولي ، مطلب سره لولو.

صحافت یعنی څه ؟

دشپې په تیاره کی دلاری پر کرلیچونو پوهیدل ، ددوست او دښمن دپیژندلو او دتیاری په ځادرکی پټو خطرونو څخه ځان خبرساتلوپه خاطر لکه چی دڅراغ روښنایی ته‌بنسټیزضرورت دی په همدی توګه دژوند دقافلی ښه سفر لپاره داسی ذرایعوته هم ضرورت شته چی دهغو له مخی قافلی ته دشااو خوا حالاتو او پیښو په باب معلومات لاس ته ورشی .

پدی ورځو کی دانسان ددی بنسټیز ضرورت درفع کولو ذریعه اخباردی ، دا وسیله او ذریعه یعنی دخبرونو خپرول هر وخت اوهر دور کی په یو نه یو بڼه موجود و هغه وخت هم چی مطبوعات او دی ننی دوران دپر مختللی اخبارونه موجودنه و ، دوخت پاچاپانو ددی مقصد په خاطر خپل پیسی لیکونکی ټاکلی او دهغو د راټولو کړای شو اطلاعاتو له مخی یی اقدامات کول او کوم معلومات به چی د خلکو دخوښی او ګټی په خاطر ښه و دهغو څخه به یی خلك هم خبرول اخبار دخبر جمع دی ، او دانوم هغو خبرنامو لپاره غوره شوی و چی داسلام څخه دمخه دایران پاچاپانو دهیواد هری برخی ته

خبرونو درسولو په خاطر ترتیبول ، ددی مقصد دترسره کولو په خاطر هر ځای کی ټاکلی خبریالانو ته به یی اخبار لیکونکی وایه داضرورت دپیغمبر (ص) په دوران کی اوتر هغی وروسته دخلفای راشدینو په زمانی کی هم محسوس شوی و ، پیغمبر (ص) او صاحبه وُ ځانونه دحالاتو څخه خبر ساتل حضرت عمر (رض) به دشپی پلی ګرځیده او ځان به یی دمسلمانانو له حالاتو خبراوه ، مفتی شفیع مرحوم دمولانا اشرف علی تهانوی (رح) له مجلی (اخبار بینی) نه په استفادی سره خپل یو مضمون (اداب الاخبار) کی لیکلی : «...پیغمبر (ص) او صحابه وُبه ځکه ځان دمسلمانانو له حالاتو خبراوه چی تر خبریدلو وروسته ، دمظلوم مرستی ته ځان ورسوی ، دناروغ پوښتنه وکړی ، کمزوریو ته لاس ورکړی او محتاجو خلکو سره دمادی او روحانی مرستی په خاطر خپلی ذرایع په کارواچوی او که چاسره یی دمادی مرستی وس نه درلود اقلاً ددعا په کولو سره ځان ورسره په غم کی شریك کړی .....»

په تیره پیړۍ کی ماشینونه جوړ کړای شول او دبیلابیلو هیوادونو او قومونو تر منځ اړیکی ټینګی شوی ، داورګاډی ، ټیلفون ،تلکس ، الوتکی اونورو ارتباطی وسایلو دزیاتوالی تر څنګ دخبرونو دراټولولو او خپرولو په نظام کی هم انقلاب راغی ، په دی خاطر چی دساینس

او تکنالوجی په ډگرکی تر ټولو زیات پر مختگ اروپا او امریکا کړی ؤ هماغو ملکونو کی داخبار لیکنی فن هم عروج ته ورسید په آفریقایی او آسیایی هیوادونو کی ددی ځانگی پر مختگ دآمریکا او اروپا ماشینونو ته محتاج و ، او دصحافت (ژورنالیزم) په ډگر کی یی هم له هغوی تقلید کاوه په همدی خاطر زموږ پر مطبوعاتو دغربی صحافت اغیزی روښانه ښکاری ، دصحافت او صحافی کلمه دعربی له «صحیفه » څخه اخستل شوی خو زموږ په هیوادونو کی دانگلیسی ژبی «ژورنالیزم » او «ژورنالست » رایج شوی دصحافت اصطلاح که څه هم چی موقوتو خپرونو لپاره استعمالیږی خو اوس په راډیو ، تلویزیون کی هم خبرونو ، تبصری او مرکی خپریږی او داکار هم صحافیان (ژورنالیستان) کوی په دی خاطر دصحافت اصطلاح دوی ته هم اطلاق کیږی اودی ته راډیویی صحافت وایی ، ددی ډوله صحافت دکار ساحه زیاته پراخه ده اوس اخبارونو ، مجلو او نورومطبوعاتو ته دابلاغ طباعتی ذرایع (ObjectvieReporting) او راډیو ، تلویزیون ، فلم او نورو لیدونکو او اوریدونکو ذرایعو ته دابلاغ برقی ذرایع (Electronic Medie) اصطلاح استعمالیږی اودی ټولو ګډنظام ته داطلاعاتو نظام وایی ، دساینس او تکنالوجی په ډگر کی پر مختللو قومونو دا نظام دکمال تر حده ورساوه ، هغوی ددی دگټی او اهموالی په خاطر په نړیواله سطحه دهغه قایمولو او منظمولو ته پاملرنه وکړه او اوس هغوی له دی قوت څخه گټه اخلی اوروښانه ده چی دهغوی جال په ټوله نړۍ کی خور شوی ، دابلاغ ددی ذرایعو کارکوونکی او صحافیان په خپلو برخو کی پوره معلومات لری ، دهغو دترتیبولو اداره هم داطلاعاتو دنظام یوه برخه ده او ډیره مهمه برخه اوو ی داټول نظام موثرنه تامیږی .

داطلاعاتو په دی نظام کی خبر رالیږونکی (اژانسونه) اداری داسی حیثیت لری لکه چی په انسان کی زړه لری دا اداری یواځی خبرونو نه برابروی بلکی خبرونو ته جهت هم ورکوی ، په نړیواله سطحه او س پنځه اژانسونه تر ټولوجوت دی هغه دانگلستان «رویتر »دامریکا اسوسی ایټدپریس د امریکا انټرنشنل یو نایټدپریس یا یو ، پی ، ایی دفرانسی «فرانس پرس » یا ای ایف ، پی او دروسیی تاس دی په ټوله نړۍ کی داپنځه اژانسونه پنځه سوه دفترونه لری او په (۱۵۰) هیوادونو کی دپنځو زرو څخه زیات خبر یالان ورته خبرونه پیدا کوی ، هره اداره (اژانس) دورځی (۱۵) لکه الفاظ دراډیو ، مواصلاتی ستورو ، ټلیکس ، ټیلګرام ، ټلیفون ، الوتکو ، سمندری بیړیو ، اورګاډو او پرسرکونودگرځیدونکو ترانسپورتونو له لاری دنړی بیلا بیلو هیوادونو ته دخپرولو په خاطر لیږی ، په پرمختللو هیوادونو کی نشراتو دموثریت په خاطر ترزیاتو پلټنو وروسته دخلکو دغوښتنو او مزاج سره سم خپرونی کیږی او په دی توګه په ژوند کی تنوع او دلچسپی برقراره پاتی کیږی او خلکو ته تفریح هم په لاس ورځی په څو ژبو او په لوړ تیراژخپریدونکو او پیژندل شو مجلو او اخبارونو باندی دامریکا ، انگلستان ، روسیی او المان راج چلیږی او په دی توګه ، بی بی سی ، امریکا غږ ، المان غږ ، ماسکو راډیو او بیجنګ راډیو په ټوله نړۍ کی اوریدل کیږی .

په غربی هیوادوکی دفلمونو جوړکړای شوی کسټونه هم په ټولی نړۍ کی خلك غواړی ، هغه نه داچی دپر مختللو هیوادونو په تلویزیون کی سودل کیږی بلکی خلك یی په وی سی ار کی هم گوری ، داطلاعاتو دنظام په ډله کی بانك هم راځی چی دبیلا بیلو هیوادونو پوری اړوند شمیر راټولوی او خپلو مصرف کوونکو ته یی تیاروی ، داډول اداری یواځی په غربی هیوادونو کی شته په شرقی هیوادو کی تراوسه

داډول اداره نشته ، له دی خبری معلومولی شی چی دغرب مختللو هیوادونو ته اطلاعات څومره اهمیت لری او په کومه پیمانه دوی دتوجو وړ گرځیدلی ، دتصنیف او تالیف په ډگرکی هم غرب تر ټولو

دمخه دی ، هلته د نړۍ دبیلا بیلو برخو دحالاتو خپرونکی په کار بوخت دی او دهغوی کتابونه داطلاعاتو په نظام کی کارکوونکو ته دلارښوداو سلاکار دنده اجرا کوی دعلم د هری برخی په باب «ډکشنری»او نورکتابونه لیکل شوی او دهغی له مخی کولی شی دهر څه په باب یوڅه ولیکی ، داطلاعاتو دا پراخ نظام په قوی سطحه یووالی او قوت مینځ ته راوړی دقومی او ملی فکر لاره معلوموی ، دقومونو سره په فرهنګی برخه کی مرسته کوی ، دپلټنی او څیړنی جذبی راپاروی سیاسی اوملی شعورراویښوی او په قوم او ټولنی کی پر ځان داعتماد حوصله راپیداکوی او هم دخلکو دلوړ مقصد دلاس ته راوړلو ښه ذریعه ده ، ددی سربیره په نړیواله سطحه دقومونو ترمنځ داړیکو ، تبلیغ او تفهیم دوسیلی تر څنګ داعصابی ، روانی جنګ او فرهنګی یرغل ښه حربه ده له دی لاری دنیکی تبلغ هم کیدای شی او دالله (ج) مخلوق غلطی لار ته هم سوق کیدای شی دنویو ، نویو تخلیقاتو وروسته اوس دانظام ددی وس لری چی دنړۍ دلریولریو سیمو او وسپنیزو پردوتر شانه داچی اطلاعات لاس ته راوړی بلکی وروی هم رسوی ، په زرګونو کیلو متره لری ناست خلك رهبری کوی هم شی او هغوی بدی لاری ته سوق کوی هم ،هغوی ته حوصله هم ورکوی او دویری په پیداکولو سره دهغوی مورال

دکمزوری کولو له لاری یی بی اتفاقه کولی هم شی اتحاد او یوالی هم پیداکوی شی او اختلاف اور ته په لمن وهلو سره یی په خپل مینځی جګړوهم اخته کوی ، پر مختللو هیوادونه دی حقیقت باندی پو هیدلی اود زړه له تله دصحافت دپرمختګ زیار کاږی ، داهیوادونه دصحافت څخه دنورو مقصدونو لپاره استفاده کوی دیوی خواتری دخپل قوم دلارښوونی ، پرمختګ ، یووالی ، اوروزنی کار اخلی او دبلی لوری په نړیواله سطحه خپل استعماری اهداف لاس ته راوړی ، وروسته پاتی هیوادونه ذهناًمریانوي او زبیښی یی او دهغوی دفرهنګ ، کلتور په بی وخته ښودلو سره یی دپر مختګ مخه نیسی او په دی توګه ددی خطرناکی وسلی څخه هغه کار اخلی چی دزیات پوځ له لاری هم نشی ترسره کولی په نن وخت کی دی کارته سوړجنګ وایی او په دی کی دتوری او توپك پر ځای دتبلیغ په وسله جنګیږی ، دنن ورځی حالات خو داسی دی چی پر نړیوال اطلاعاتی نظام باندی ۹۰ فیصده دپر مختللو او استعماری هیوادونو اجاره داری ده او په عملی توګه داوسایل دصیهونستیو یهودانو په کنترول کی دی چی د هغوی داسلام او انسانیت سره له دښمنی ټوله نړۍ خبره ده، دامریکا اوانګلستان زیاتره دلوړ تیراژاخبارونه مجله ، اژانسونو ، راډیو او تلویزیون د یهودی سرمایه دارو په پیسو چلیږی ، او همدا وجه

دی چی نن یی پر ټوله نړۍ راج چلیږی ، تر کومی چی امریکا پوری اړه لری هلته پر مطبوعاتو دیهودیانو تاثیر او اغیزه معمولی دی ، که څوك ددوی دخوښی او ګټو پر خلاف ګام پورته کړی او ددوی پر ضد کوم حرکت وکړی د جمهور رئیس نکسن او «واټر ګیټ» بیلګه یی مخی ته ده . استعماری هیوادونه که هغه امریکا ، انګلستان او یا فرانسه وی خپل اهداف لری او غواړی ددریمی نړۍ هیوادونه دځان د خرولو ځایونه وګرځوی ، که امریکا یی دغرب دفاسد فرهنګ په رنګ ګرځول غواړی روسیه دمارکس اولینن داشتراکی استعمار دجال خورولو لپاره پروپاګند کوی ، ددی ناپاکو هلوځلو تر ټولو زیات مخنوی په اسلامی هیوادونو کی کیږی ځکه چی مسلمانان دحق علمبرداران دی او دباطل په شان دوه مخی نه دی او واحد خدای (ج) باندی ایمان لری په همدی خاطر داهیوادونه دصیهونستانوکمونستانو او استعمار تر فشار لاندی دی ، داستعمار اطلاعاتی نظام اومطبوعات تل دمسلمانانو پر ضد بی ځایه پرو پاګند کوی ، داسلام او مسلمانانو لومړی دښمن یهود له دی حالاتو دځان په ګټه استفاده کوی هغوی دسره او سپین استعمار په غیږ کی کینی په زیات مهارت داسلام قوتونو دبدنامولو او کمزورولو ،دهغوی په لاره کی خنډ پیدا کولو او د مسلمانانو دبدنامولو

لویه کوی ، داطلاعاتو ددی خطرناکی وسلی اندازه له دی ولګوی چی په ځلوېښتو هغو هیوادونو کی چی داسلام دعویدار دی په یوه کی هم دقرآن او سنت سره سم حکومت نه دی جوړ شوی ، ځکه چی داطلاعاتو دا استعماری نظام دمسلمانانو په مینځ کی داسلام په باب جلا جلا شکوك پیدا کوی ، دهغوی فکری وحدت له مینځه وړی ، هغوی ټوټه کوی ، هغوی بنسټ پالی اومیانه روپه نوم یاد وی ، دسوسیالزم او پانګوالی دپلویانو په نوم یی وویشی ، په هغوی کی دمزدوراوپانګوالي اختلاف په راپیداکولو سره طبقاتی اور ته لمن وهی ، او په ځانګړي ډول اسلامی امت چی کوم بنیان مرصوص صف جوړیدل غواړی هغه سره یویو کړی ، دتبلیغاتو غربی او روسی اداری ځکه په خپلو کارونو کی کامیاب دی چی پر نړیوال اطلاعاتی نظام دهغوی تسلط دی ، داطلاعاتو دباد مخ دغرب څخه دشرق لوری ته دی ، دپرمختګ په حال کی هیوادونه دنړۍ دریمی برخی هیوادونه دي ، او مسلمانان دنړۍ دنفوس ځلورمه برخه ده خو بیاهم دهغوی خبرونه له نظرغورځی او دهغوی ګټی دپاملرنی وړ نه بولی دا خبرونی دغرب خلکوته چی دپر مختګ په حال کی هیوادونو خصوصاً داسلامی هیوادونو داوسیدونکو کوم تصویر وړاندی کوی هغه ډیر ناروا اوګمراه کوونکی وی دیونسکو داداری مشر « امدومهتارایم یو » دپنځو نړیوالو

خبری اژانسونو په باب وایی :« ...دپرمختللو هیوادونو دااژانسونه دمنافقت او هوښیاری له مخی هغه خبرونه انتخابوی چی دهغو له مخی دپر مختګ په حال کی هیوادونوکی دنفاق ، وروسته پاتی والی ، بی نظمی ، کړکیچ او کړوړی اورته لمن وهی ، هغوی مثبتی پیښی ، دهغوی خبرونه او پر مختګ په ډګر کی دهغوی منډی رامنډی له نظره غورځوی په دی خاطر چی په پر مختللو هیوادونو کی دخبررسولو رابطه ددی ادارو سره ده او دیوه بل دمصرفیتونو او هلو ځلو په باب معلومات ورته ددوی دخبرونو له مخی کیږی چی اکثره یی سم نه وی ، په همدی خاطر کله چی هغوی په دی ټیټو جګو ائینو کی یو بل ګوری خپل شکلونه مسخ شوی ګوری او هغه ورته رښتیا ښکاری ځکه چی هغوی ددی پرته دتصدیق بله ذریعه نلری » (نوای وقت د۱۹۸٤م کال ددسمبر ۲۷) داستعماری هیوادونو دا اژانسونه اوخپرونی دمسلمانانو په مسلو کی طرف نیسی ، مظلوم فلسطنیان تروریست ، او غاصب او مجرم اسرائیل مظلوم او دکلتور علم دار معرفی کوی ، په آسیایی هیوادونو کی چی څوك داسلامی قانون دنافذولو خبره وکړی هغه دوروسته پاتی والی وحشی او مزدور په نومو بدناموی او چی څوك دسیکولریزم یا سوسیالیزم غږ پورته کړی اخلاقی نظام برباد کړی ، ملی او قوی ملکیت په نوم دهیواد دصنعت او اقتصادد ښه کیدو مخی ونیسی داتبلیغاتی اداری هغه بیا دآسیا تر

ټولو اتل مشر معرفی کوی ، په لنډه توګه داچی غربی تبلیغاتی اداری په دی ډوله ریشه زغلولو کی زیات مهارت لری دهمدی چالاکی له وجی هغوی په نورو هیوادونو سربیره زموږ هیوادکی داسی ډله پیدا کړی چی د مسلمانی ددعوا ترڅنګ پر غربی او اشتراکی فرهنګ مین دی او داسلامی فرهنګ او کلتور عملی کولو څخه کرکه کوی ، زموږ په صحافیانو (ژورنالیستانو) کی یی هم داسی خلك روزلی چی اسلام دقرون او سطی دین بولی ، داسلامی کلتور او فرهنګ عمل کوونکی لیونیان او داسلام سر لوړی په خاطر کارکونکو مخنوی خپل فرض ګڼی ، ددی یوه وجه داهم ده چی زموږ دصحافت په پر مختګ کی غربی صحافت دبیلګی او معیار صحافت نقش لوبوی او زموږ صحافیان (ژورنالستان) دهغوی دتخنیك دزده کړی تر څنګ دغربی صحافت بی دینی او اخلاقی فساد هم قبلوی ، داحالات زموږ دعلم ښتنان احساسوی هم او کله ناکله غندی یی هم ، خو ددی مسلی دعلمی پلټنی تر څنګ دقرآن او سنت په رڼاکی دصحافت جامع اصولو دړاندی کولو ضرورت کم محسوس شوی که داسی وشی دصحافت زده کوونکی به حتماً څه تری زده کړی او زموږ دصحافت او تبلغاتی وسایلو دملی روحیی دساتلو سره به مرسته هم وکړی .

الحاج مولوي جلال الدين حقاني دکراچي له ديني جامعو او مدرسو څخه ليدنه وکړه:

دافغانستان جهاد دامت دوحدت په لار کي بنيادي نقش پري ايښي اودخپل نړيوال حيثيت له مخي يي دټول اسلامي امت پتنگان په ځان راټول کړيدي .

رپوټ :ننگيال

دکراچی ددینی جامعو او مدرسو په دعوت دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی سفر اودهغه ځای ددینی جامعو او مدرسو څخه ددوی لیدنه او گڼو غونډوته وینااوی او ددوی پرتمین او دروند هر کلی که له یوی خوا دافغانستان دمجاهد ولس دقربانیو دتمجید او درناوی څرگندوی کوله نو ددغه مقدس جهاد له اهدافو او رمانونو سره یی دپاکستان دعلمی حلقو ژور پیوستون او ملاتړهم په ډاگه کاوه .

افغان مجاهد ولس به هيڅکله هم دحل په نوم دخارجي قدرتونو داسي کوم تجويز ونه مني چي دافغانانو دجهاد اوقربانيو مخالف وي

په حقیقت کی دایو داسی کامیاب سفر وو چی له یوی خوا یی دکفری طاقتونو دتبلیغاتو او توطئو په بړبوکیو کی دافغانستان دجهاد او دمقاومت روان سیاسی او جنگی موقعیت او حقایق ډیر ښه جوت او تمثیل کړل اوله بلی خوا یی دجهاد دروانو څپو او ددی په قبال کی دسیاسی کشمکشونو او تحولاتو په رابطه هم دیوی معقولی موضعیگیری او نسلی موقف له مخی دپاکستان علمی حلقی دنړیوال کفر دتوطئو اوسازشونو پر ماهیت پوه او دجهاد دملاتړ دوام ته یی چمتو کړل .

په حقیقت کی دایو داسی بریالی کمپاین وو چی زموږ دپاکستانی انصارو ډیر متحرک فعال او منلی قشر

یی په ډیر حساس او نازک پړاو کی دافغانستان جهاد په مقابل کی خپلو مسوولیتونو ته نور هم متوجه اودیوه داسی خوځښت بنه یی ورکړه چی ان شاالله دهغی ثمرات او نتایج به په حال او راتلونکی دواړو کی دافغان مجاهد ولس داسلامی مقاصدو دتکمیل په رابطه ډیر اغیز من ثابت شی داسفر اودهغی بریمن نتایج دخپل ځانګړی اوستر موفقیت او منفرد حیثیت له مخی دافغانستان قضیه دپاکستان په علمی اوسیاسی حلقوکی ادامی په رابطه یی دپاکستان دعلمی حلقو مرسته او ملاتړ نورهم متحقق وګرځاوه په ربنتیا هم چی دخوست فاتح دخپلو عالمانه ریناو او مثبت موقف له مخی دافغانستان له قضیی اودجهاد له مقاصدو او اهدافو داسی منلی ترجمانی وکړه چی دافغانستان دمجاهد ولس عظمت او سر لوړی ته دخلکو دزړه دروازی لاپسی پرانستلی دادی ددغه بریالی سفرریوټ سره لوو :

دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دپاکستان دکراچی ددینی جامعو ، مدرسو او علماوو په دعوت دروان کال ددلوی په ۲۳ مه نیټه کراچی ته دسفر پروګرام درلود دهوادخرابوالی له امله له پیښور څخه کراچی ته دپی ، آی ، ای الوتنه وځنډیدله .

له همدی ځایه وه چی په کراچی کی حقانی صاحب په هغه سترمطبوعاتی کنفرانس کی برخه ونشوای اخیستی چی ددوی په ویاړ دجمعیت العلما اسلام له خوا جوړ شوی و دغه مطبوعاتی کنفرانس چی دکراچی په هوټل کی جوړ شوی و دپاکستان دبیلابیلو معتبرو خپرونو استاذو او دبهرنیو اژانسونو خبریالانو پکی ګډون درلود .

کله چی دشپی په لسو بجو حقانی صاحب اوددوی دملګرو دسپرلی الوتکه دکراچی پر هوایی ډګر کی کیناستله ، پداسی حال کی چی دهوایی ډګر بیلابیلی برخی دبنه راغلاست په شعارونو ښکلی کړی شوی وی دهر کلی کوونکو شعارونو او دزنده باد نارو او داستقبال کوونکو منظمو لیکو دافغانستان دمجاهد ولس دایمانی پرتم اودخوست دفاتح مولوی جلال الدین حقانی دعظمت او جهادی ویاړمنو کارنامو په وړاندی دعقیدت اودرناوی دمراتبو دڅرګندولو ډیره روښانه او ځغلنده عکاسی او نمایندګی کوله .

حقانی صاحب اودده ملګری پداسی حال کی چی دهر کلی کوونکو په لیکو کی روان ؤ دهوایی ډګر له ترمینل څخه دموټرو دیوه ستر کاروان په بدرګه چی دیوی ډلی موټر سیکل سپرو له خوا بدرګه کیده تشریف یووړ او دجامعة العلوم الاسلامیه له خوا په جوړ شوی سیمنار کی یی چی دافغانستان جهاد او دروسی جمهوریتونو ازادی تر عنوان لاندی جوړ شوی وُد برخی اخستیو لپاره جامعة العلوم الاسلامیه ته تشریف یووړ .

جامعة العلوم الاسلامیه ته په رسیدو دجامعی استادانو او زده کوونکو دحقانی صاحب ډیر دروند او تود هر کلی وکړ دسواد اعظم اهلسنت پاکستان منشی مولانا اسفندیار پخپله افتتاحیه وینا کی له حمد او ثنا وروسته وویل :

موږ له ډیری خوښی او جذباتو په جامو کی نه چی داسی ګڼو لکه چی دکراچی پدغه لوی ښار کی هم نه ځائیږو زه پدی وخت کی ډیری خبری نه کوم ځکه زموږ محبوب قائد او روح روان حضرت مولانا جلال الدین حقانی مدظله العالی چی دخپل تشریف راوړلو له امله موږ ته کوم افتخار رابښلی دهغی اظهار زه په خبرو کی نشم کولی موږ نن ټوله ورځ ددغه ستر قائد دراتلو په انتظار تیره

کړه زموږ سترګی ستاسی په لور وی
زړونه مو ستاسی په یاد درزیدل او
احساس مو ستاسی دلیدو په تلوسه
په څپو وو ، موږ ډیر خوشاله یو چی
خپل قائد ته دکراچی په ښار کی هر
کلی کوو ، زه خپل قائد ته اطمینان
ورکوم چی زموږ وینه ، زموږ سر او
زموږ ټوله هستی له تاسی څخه قربان
موږ په خپلو ټولو امکاناتو ستاسی
په څنګ کی یو ، هر هغه قوت چی
ستاسی پرخلاف دریږی موږ دکراچی
علما او طالب العلمان دهغی مخالفت
او دښمنی ته خپلی سینی سپر کوو .
دمولانا اسفندیار له افتتاحیه وینا
وروسته دغونډی انانسر له شیخ
الحدیث ډاکتر مولانا شیر علی شاه
څخه هیله وکړه چی دوینا لپاره
دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال
الدین حقانی صاحب ته بلنه ورکړی .
شیخ الحدیث مولانا شیر علی شاه له
حمد او ثنا وروسته وویل :
درنو علماوو او ګرانو طالبانو !
داډیره زیاته نیکبختی ده چی زموږ
په وړاندی دمجاهدینو یو ستر او
عظیم شخصیت جلوه افروزدی هغه
شخصیت چی دژوند ډیره برخه یی
دحق په تبلیغ دعلم په حصول او
تدریس او وسله وال جهاد کی تیره
شوی او دا اوس اوس یی په ګردیز
کی څلور میاشتی په یوه ډیره خونړی
معرکه کی تیری کړیدی.
دوی زیاته کړه : دکراچی خلك خوش
قسمته دی چی نن هغه شخصیت چی
عرب ورته دقائد المیدانین خطاب کوی
او دټول اسلامی امت فخر ګڼلی شی

دلته تشریف لری زه دهغو حضراتو
هم مننه کوم چی دغه ستر قائد ته یی
بلنه ورکړی پدی کی حرکة المجاهدین
دډیر داډ وړ دی چی پدی هکله دوی
دتشریف راوړلو پروګرام جوړ کړی دی
.
شیخ الحدیث مولانا شیر علی شاه
زیاته کړه : مولانا حقانی له تعارف
څخه بی نیازه دی ، الله تعالی مولانا
په ظاهری او باطنی ، علمی او عملی
ځلنده کارنامو لمانځلی او سرفراز کړی
دی داحقیقت دی چی که ددغه ستر
شخصیت په څیر څو کسه نور هم
پیدا شی نو په افغانستان کی به هرو
مرو اسلامی حکومت قایم شی خو په
تاسف باید ووایم چی دګردیز په
جګړو کی حضرت مولانا حقانی
یواځی و اوپه یواځی توګه یی ٤
میاشتی دګردیز په جګړو داور په لمبو
او دګولیو په ږلی کی تیری کړی
زموږ دعاده چی الله تعالی دی
دمولانا اودده د ملګرو مساعی قبوله
کړی اوپه افغانستان کی دی ډیر ژر
اسلامی حکومت قایم کړی .
مولانا شیر علی شاه دخپلو خبرو په
پای کی وویل :
محترمو ورونو : پدی غونډه کی به
قاید المجاهدین حضرت مولانا حقانی
خپله وینا اوروی البته زه به یی
ترجمه کوم بیا به مولانا بنوری تقریر
کوی او ورپسی به نور علما تقریرونه
وکړی هیله ده په ډیر غوریی واوری .
لدی وروسته مولانا شمس القمر نظم
اوریدلو ته راوغوښتل شو لدی
وروسته دجامعی درئیس مرستیال
دمیکرفون شاته ودرید او دحقانی

صاحب دتشریف راوړلو په رابطه یی
وویل دجامعة العلوم الاسلامیه در او
دیوار خوښی محسوسوی ، داسی
خوښی اوافتخار چی موږ دهغی بیان
نشو کولی .
دوی زیاته کړه : زموږ زړونه په
درزادی اودخوست دفاتح اودمجاهدینو
دستر قاید حضرت مولانا حقانی
مدظله العالی دعلمی او جهادی
شخصیت ته داحترام مراتب وړاندی
کوی .
دوی زیاته کړه : زه نه پوهیږم
دخوست دفاتح او مجاهد کبیر څخه
څه دول مننه وکړم زموږ له ډیر اوږده
انتظار وروسته داخوشبختی او افتخار
په برخه شوی دی له ما سره داسی
الفاظ او کلمات نشته چی زه یی
شکریه ادا کړم .
محترمو ورونو : داسلام پیغمبر
(ص) هم دکفار دظلم او زیاتی له
امله هجرت کړی ؤ خو ددغه هجرت له
برکته څه موده وروسته هغه سیمه چی
هجرت یی تری کړی و اودکفارو دظلم
له لاسه یی پری ایښی وه هغه یی
فتحه کړه او هلته یی داسلام بیرغ
پورته کړ په افغانستان کی همداسی
وشول په مسلمانانو خپل وطن دظلم له
لاسه تنګ شو او هجرت ته مجبور
شول له بیوسی او بیوزلی سره مخامخ
وو خو څرنګه چی دالله تعالی په لار
کی وتلی و له ډیرو کړاوونو او قربانیو
وروسته دالله تعالی ددغه ارشاد له
مخی یی څوك دالله تعالی په لار کی
جهاد کوی الله تعالی به یی مرسته
کوی اونصرت به ور په برخه کوی
همداسی وشول په کوم ځای کی چی

مجاهدینو قدم ایښی هلته دازادی ډیوی بلی شوی دی چی دادی دمجاهدینو دجهاد او قربانیو له برکته روسی امپراطوری دړی وړی شوه .
زه دمجاهدینو ستر قاید حضرت مولانا حقانی او دافغان مجاهد ولس ته سلام وړاندی کوم اوپه لنډه توگه ددی تکی یادونه کوم چی مجاهدین دکوم فرد یا جماعت خلاف نه وو را ولاړ شوی بلکی دیوه نظام پر ضد را ولاړ شوی وو ترڅو چی هغه نظام پاتی وی دمجاهدینو جهاد به روان وی موږ دوی ته اطمینان ورکوو چی موږ ور سره پدغه مقدسه معرکه کی برابر شریك یو .
نوموړی زیاته کړه : پدغه جامعه کی ۵۰۰۰ طالبان او ۲۰۰ استادان موجود دی اودتدریس سلسله پکی جریان لری که څه هم په رخصتیو کی دجامعی طالبان محاذونو ته ځی خو که ضرورت راغی نو ټول به په گډه دخپلو مجاهدو ورونو په څنگ کی ودریږی .دجامعی مرستیال زیاته کړه :
دحضرت مولانا حقانی په تشریف راوړلو نه یواځی نن دجامعی فضا معطره ده بلکی دټولی کراچی دښار فضا معطره وه که څه هم دمولانا حقانی مصروفیات زښت ډیر دی موږ له دوی څخه ډیر ممنون یو چی دلته یی تشریف راوړ اوپخپلو راتلو یی زموږ سترگی روښانه کړی .
که څه هم مولانا حقانی او دده مجاهد ملگرو ته مختلفی ستونزی په مخه کی دی خونموږ پوخ باور دی چی الله تعالی به ددوی مرسته کوی

داخبره لدی څخه هم په ډاگه ده چی دوی په ډیره بیوزلی او تش لاسی جهاد شروع کړی و خونن موږ وینو چی دوی فاتح دی دافغانستان دخاوری ډیره برخه یی په لاس کی ده .
لدی وروسته دحرکة المجاهدین مرستیال مولانا فاروق کشمیری ته بلنه ورکړی شوه چی خپله وینا واوروی مولانا کشمیری له حمد او ثنا وروسته وویل : محترمو حضارو څرنگه چی تاسی له سهاره دخوست دفاتح دتشریف راوړلو انتظار کړی ځکه خو زه خپلی خبری نه اوږدوم که څه هم ما غوښتل په تفصیل سره دکشمیر دحالاتو په هکله تاسی ته معلومات درکړم خو دومره به ووایم چی دافغانستان دجهاد له برکته په سرینکر کی دجهاد کاروان مخ په وړاندی روان دی او مجاهدیو هلته خپل سنگرونه ټینگ کړیدی دایو ډیر اوږد تفصیل غواړی په اخبارونو کی چی څه خپریږی دا دهغو مظالمو یو څرك هم ندی چی په کشمیر کی دهندی فوځ له خوا تر سره کیږی .
مولانا فاروق کشمیری په لنډون سره دکشمیر دروانو حالاتو په اړه خبری وکړی او دهندوستان واکمنو دمظالمو په رابطه یی وینا وکړه او دکشمیر دمسلمانانو دمقاومت دغورځنگ بیلابیلی ابعادی وڅیړل .
نوموړی په پای کی له طالبانو غوښتنه وکړه چی په رخصتیو کی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی تر قیادت لاندی په افغانستان کی دجهاد سنگرونو ته ولاړ شی اودجهاد لپاره ځانونه چمتو کړی .

دمولانا فاروق کشمیری له وینا وروسته دغونډی اناونسر وویل : دافغانستان دجهاد یو حقانیت داهم دی چی دټول اسلامی امت پتنگان یی په ځان راټول کړی اودمسلمانانو لپاره یی دیوه قوی او جهادی مرکز بنه نیولی ده .
وروسته دسوربی یو ادیب او مشهور اوادبی شاعر حسن هنداوی دخبرو لپاره وبلل شو نوموړی لومړی دمولانا حقانی دجهادی کارنامو دستاینی په رابطه یو قصیده ولوستله اوبیایی وویل : زما قدرمنو ورونو موږ پدی غونډه کی دیوه دینی محبت داغیز او ولولی له امله را غونډ شوی یو ځکه موږ دمجاهدینو له قوماندان جلال الدین حقانی سره دلته راغلی یو زموږ محبت له حقانی سره دده دجهاد له امله دی .
نوموړی وویل : حقانی دالله تعالی دلاری یو سر تیری مجاهد دی چی داسلام دعزت او عظمت په لار کی جهاد کوی زموږ له ده سره ځکه مینه ده چی همیشه دشریعت تابع دی .
ده زیاته کړه : زه په ډیر افتخار پخپلو شعرونو کی دمولانا حقانی ستاینه کوم خو کاله دمخه کله چی شیخ حقانی دجهاد په سنگر کی ټپی شوی و زه یی پوښتنی ته ورغلم کله چی ما په هغه زخمی حالت کی دده قوی اراده او ټینگ عزم ولید فی البدیهه دده دمیړانی او قهرمانیو په رابطه یو شعر وواېه .
حسن هنداوی په غونډه کی خپل هغه شعر هم ولوست چی دیوی برخی معنا یی دا ډول ده :

ای ددین جلاله ، موږ ډیر خوشاله یو
چی ستا ځلیدونکی څیره وینو زه ډیر
خوښ یم چی له تاسره نژدی ناست یم .

جلال الدین حقانی دټولو قوماندانانو سردار دی دمجاهدیو مقتدا او پیشوا دی که نور دپادشاهانو صفتونه کوی زه دیو جنګیالی قوماندان ستاینه کوم زه ځکه لده سره محبت لرم چی دی خاص دالله تعالی په لار کی جهاد کوی او دده جهاد دټول اسلامی امت جهاد دی نوموړی دجهاد داهمیت ضرورت او دوام په رابطه خبری وکړی ویی ویل تاسی طالبان باید علم او جهاد دواړو څخه برخمن وی جهاد او علم لازم او ملزوم دی تاسی علم حاصلوی خو په رخصتیو کی جهاد ته ځی او دمجاهدینو خدمت وکړی خو دعلم او جهاد دواړو له برکته څخه برخمن شی ده دخپلو خبروپه پای کی هغه قصیده هم ولوستله چی دخوست دفتحی په هکله یی ویلی اودخوست فاتح الحاج مولوی جلا الدین حقانی ته یی اهدا کړی وه دحسن هنداوی له وینا وروسته دغونډی انانسر په ډیر جذباتی انداز وویل : درنو حضارو !

دانتظار شیبی ختمیږی دغه غونډه چی دچا په افتخار جوړه شوی هغه دخپلی عالمانه وینا داورولو لپاره تشریف راوړی

انانسر وویل : دخوست فاتح دګردیز دخونړیو معرکو قهرمان او امام شامل ثانی چی پخپله څو څو واره دجهاد په سنګر کی زخمی شوی اویو وورور یی هم دالله تعالی په لار کی نذرانه ورکړی او دژوند ۱۸ کلونه یی په جهاد کی تیرکړه او نن ټول کفری طاقتونه دحقانی دنوم له اوریدو لړزیږی، ټول اسلامی امت یی په جهادی کارنامو فخر کوی او دده له جهاده په کفری نړی مرګونی زلزله ګډه ده .

ده زیاته کړه :

دکفر توطیی روانی دی دسیسی جریان لری سازشونه روان دی او کله چی ټوله نړی ویده وی زما حقانی بیدار دی ، حقانی دمجاهدینو سرخیل جوړشی او دبمونو په باران کی مخ په وړاندی روان وی دی زموږ عزت دی ځکه ده زموږ لپاره دجهاد لار او درس ښودلی دی .

پدی وخت کی دشعارونو یو توپان او هنګامه وه چی راپورته شوه قائد بمارا - حقانی مرحبا مرحبا امام شامل ثانی جلال الدین حقانی

او داسی نور شعارونو سره دخوست فاتح په وړاندی دخپل عقیدت او احترام مراتب څرګندول .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی په خپله وینا کی دافغانستان دجهاد په بیلابیلو ابعادو او اهدافو رڼا واچوله ویی ویل :

دافغانستان جهاد دیوه پاخه او اصیل عقیدتی بنسټ له مخی پیل شوی دایواځی دافرادو او حکومتونو پر خلاف جهاد ندی بلکی دیوه نظام اویوه داسی سیستم پرخلاف جهاد دی چی هغه دافغانانو له اسلامی او ملی روایاتو څخه مخالف دی .

دخوست فاتح وویل : امریکا او ټوله نړی باید پدی وپوهیږی چی افغان ولس به هیڅکله هم دحل په نامه دخارجی قدرتونو داسی کوم تجویزونه منی چی هغه دافغانانو دمقدس جهاد له ارمانونو او قربانیو مخالف وی .

دوی دغونډی جوړونکو ته په خطاب کی وویل :

محترمو ورونو ! تاسی چی داسلام او جهاد په خاطر اودایمان دحلاوت او تړون له مخی دخپلو افغانی مجاهدو ورونو سره دپیوستون او ملاتړ په خاطر داسی یوه لویه علمی او اسلامی غونډه جوړه کړی داستاسی داسلامی جذبی او سپیڅلی احساس ښکاره کوونکی ده او موږ دهغی له امله تاسی څخه مننه کوو .

حقانی صاحب دجهاد دپیل او دملحدینو او روسانو دظلمونو او دجهاد دبریالیتوبونو په رابطه خبری وکړی ویی ویل : روسانو ته خپل تجاوز یوه داسی شر او شکست وګرځید چی دهغی له امله شوروی اتحاد دړی وړی شو که څه هم روس داسی ظلمونه په بخارا او نورو اسلامی سیمو کی هم کړی وو خو دا دالله تعالی له خوا افغان مجاهدینو ته دیوه ستر افتخار او عظمت وربخښل وو چی روس یی ددوی په لاس ټوټی ټوټی او خوار او ذلیل کړ او دشوروی اتحاد موجودیت دافغانانو دجهاد او قربانیو له برکته ختم شو ، اوپه ټوله نړی کی دکمونیزم داستبداد ځنځیرونه مات او کمونستی دیکتاتوری له منځه ولاړی .

حقانی صاحب وویل روسانو چی په افغانستان کی کومه څپیره وخوړله له هغی سره دکمونیزم دنظریی او سیستم جنازه له نړی څخه ویستل شوه .

دوی زیاته کړه : په افغانستان کی دملحدینو قدرت ته له رسیدو او دجهاد له پیل کیدو سره هیڅوك هم دمجاهدینو په ځنگ کی نه وو خو بیا په منځنی وخت کی دافغانانو دجهاد ملگری پیدا شول خو دادی په اخر کی الله تعالی بله دامتحان پاڼه واړوله او هغه ملگری یو په بل پسی بیرته دجهاد مخالفین وگرځیدل داځکه چی دافغانستان له جهاد سره ددوی ملگرتیا دخپلو اهدافو پر بنا وه خو کله چی افغانانو روس ته ماتی ورکړه دوی له مسلمانانو څخه په ویره کی ولویدل ځکه افغانی مجاهدینو دخپلو قربانیو په برکت روس له سوپرنه صفر ته راووست او ټولی نړی تری دجهاد او قیام درس واخیست په فلسطین او کشمیر کی دجهاد غورځنگونه توپانی شول ځکه خو امریکا او نور اوس له روس زیات پدغه جهاد کی دځان لپاره خطر وینی دخوست فاتح وویل :

په افغانستان کی دحکومت دجوړولو په طریقه خپله افغانان ښه پوهیږی چی په هیواد کی دنجیب دکفری حکومت له نسکوریدو وروسته دمجاهدو افغانانو له منځه یوزعامت دچارو واگی په لاس کی واخلی دوی دملگرو ملتو دطرحی په هکله وویل :

دملگرو ملتو طرحه په اوسنی شکل ډیره ظالمانه ده دوی نجیب چی ظالم او دجگړی دپیل او ددوام عامل او دیوه بیرونی طاقت گوډاگی دی او مجاهدین چی مظلوم اودخپل دین او خاوری دفاع کوی یو برابر گڼلی خو دنجیب دملحد رژیم ددوام په صورت کی اوربند دجهاد دسقوط معنا لری او مجاهدین به هیڅکله هم دا ونه منی که ملگری ملتونه دنجیب دجگړی مجرم اعلان کړی لکه چی په ځینو نورو هیوادو کی یی داکار کړی اودافغانانو یو اسلامی حکومت ته دجوړیدو لار اواره شی جگړه په خپله ختمیږی .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

مور دالله تعالی په دربار کی شکر ادا کوو چی زمونږ جهاد یی یو عالمگیر او جهانی جهاد وگرځاوه ځکه مونږ په زرگونو کشمیری مجاهدین په داخل کی ترینگ کړی او دجهاد لپاره مو چمتو کړیدی زه یو ځل بیا دکراچی ددینی جامعو داستادانو او طالبانو مننه کوم چی دوی دیوه سپیڅلی جهادی جذبی له مخی دافغانستان دجهاد اومجاهدینو په ځنگ کی دریدلی همدارنگه هغه چاچی دغه غونډه جوړه کړی اوپدی کی یی کوښښ کړی هغه ته دلوی خدای (ج) له دربار څخه داجر جزیل دعا کوم او مرحوم مفتی محمودالرحمن چی په کراچی کی یی دلومړی ځل لپاره دجهاد دحرکت بنسټ ایښی دمغفرت غوښتنه کوم والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

پدغه سمینار کی دپاکستان مشهورو علماوو لکه دسواد اعظم اهلسنت پاکستان منشی مولانا محمد اسفندیار خان دحزکة المجاهدین امیر مولانا فضل الرحمن خلیل شیخ الحدیث مولانا شیر علی شاه شیخ الحدیث مولانا سبحان محمود ، مولانا محمد طیب قریشی مولانا محمد بنوری مفتی نظام الدین مولانا عبدالواحد مولانا فیض الله ، مولانا عزیز الرحمن ، مولانا عبدالسمیع ، مولانا فضل محمد ، مولانا افتخار ، مولانا راحت علی او نورو علماوو ویناوی وکړی اوپخپلو خبرو کی یی دخوست دفاتح دجهادی کارنامو درناوی او دافغانستان دجهاد ملاتړ اعلان کړ او دجهادپرضد یی دروانو توطیو او سازشونو په رابطه خبرداری ورکړ .

دجمعی په ورځ په جامعة العلوم العربیه احسن العلوم کی یوه ډیره ستره غونډه جوړه‌شوی وه دخوست فاتح دموټرو په یوه اوږ دکاروان او موټر سیکلونو په بدرگه دغرمی په یوولسو بجو دجامعی انگړ ته تشریف یووړ .

دجامعی له دروازه بیا تر عمومی سرکه دواړو غاړو ته طالبان په منظمو لیکو کی دخوست دفاتح هر کلی ته ولاړوو او په انقلابی شعارونو او تکبیر په نارو سره یی دخپل عقیدت مراتب څرگندول .

کله چی دخوست فاتح دجامعی لوی دروازی ته نږدی شو دجامعی داستادانو له خوا یی دروند او تودهر کلی وشو دلته یو ځل بیا دشعارونو هنگامه جوړه شوه قائد بمارا حقانی اوداسی نورو شعارونو سره دخپلو احساساتو څرگندونه کوله .

دجامعی په انگړ کی دجامعی مشر شیخ الحدیث مولانا زرولی خان او دپاکستان دپارلمان غړی مولانا حسن

جان چې نوی دبنګله دیش له سفر
څخه راستون شوی و دحقانی صاحب
هر کلی ته ولاړ وو .
دجامعې دمشر په دفتر کې دخوست
فاتح له علماوو سره داسلامی دعوت
او جهاد په لار کې ددینی مدرسو په
رول او اهمیت خبری وکړی
اودافغانستان په جهاد کې دعلماو په
نقش او همدارنګه دوروستیو تاوجنو
حالاتو په هکله توضیحات ورکړل .
دجمعې له لمانځه مخکې دجامعې
صدر شیخ الحدیث مولانا زر ولی خان
په خپله افتتاحیه وینا کې وویل «
زموږ دروند میلمه دخوست فاتح او
دافغانستان دمجاهدینو سردار موږ ته
داشرف او سعادت راپه برخه کړ چې له
خپلوملګرو سره یې دلته تشریف
راوړ دا زموږ ډیر لوی سعادت دی
چې له داسی یوه عظیم مجاهد سره
مو څو دقیقې تیرېږی زه دخپل ځان
او ددغې مدرسې دمنسوبینو او
دکراچې دخلکو په نمایندګی دمولانا
حقانی دتشریف راوړلو له امله
دخپلې مننې او شکران مراتب
څرګندوم ، زما هیله او دعا ده چې
دفلسطین او کشمیر دازادی معرکی
هم دمولانا جلال الدین حقانی له
قیادت څخه برخمنی شی او زما
خواست دی چې کله هم مولانا
دفلسطین دازادی لپاره دلښکر تیاری
نیوله نو زما نوم دی هم پکی شامل
کړی زه پدغه معذورو پښو ددوی تر
قیادت لاندی پدغه معرکه کې
شاملیدل خپل افتخار ګنم . لدی
وروسته حقانی صاحب ته دوینا بلنه
ورکړ شوه چې منبر ته تشریف راوړی
او خپله بیانیه واوروی .په دوخت کې
دجامعې توله فضا اسلامی شعارونو
نیولی وه حقانی صاحب خپله وینا په
عربی ژبه پیل کړه چې دشیخ الحدیث
مولانا شیرعلی شاه له خوا په اردو
ژباړه کیده زما عزتمندو ورونو داسلام
عزت اودکفر ذلت بیله جهاده نشی
کیدلی داسلام ترویج یواځې په
دعوت او تبلیغ نشی کیدلی داسلام
دعظمت دساتلو او دقران دحاکمیت
لپاره دجهاد ضرورت دی ، حقانی
صاحب پخپلو خبرو کې وویل :
لکه څنګه چې الله تعالی
دمجاهدینو هدایت او مرسته کوی
دمجاهدینو دګولیوهدایت هم کوی
دمجاهدینو ډیری ګولی ددښمن
پداسی حساسو او مهمو نقاطو
لګیدلی او دومره تاوان ورته رسیدلی
چې موږ یې تصور هم نشوای کولی
.
محترم حقانی صاحب وویل : زه
تاسی ته دخوست دجګړی یوه کیسه
دلته دنمونی په توګه بیانوم هلته
دجګړی په جریان کې په لومړی خط
کې مجاهدینو دټانګ دګوابیو
غوښتنه وکړه داسی چې باید په یوه
ساعت کې ګولی وورورسول شی ځکه
دسمن دتعرض په حال کې دی اوله
مجاهدینو سره مهمات خلاص شوی
دی زه ډیر اندیښمن شوم چې څه ډول
به مرمی په دومره لږ وخت کې
وورورسوو پدی کې ددښمن الوتکو
دپراشوت په واسطه مواد وغورځول دا
مواد په هغه ځای کې ولېږدل چې
پرون ددښمن په لاس کې و خو نن
مجاهدینو فتحه کړی و دباد چلند هم
دمجاهدینو په خوا و کله چې دغه
پراشوتونه ځمکې ته ورسیدل
مجاهدینو فکر کاوه چې کیدی شی
غذایی مواد
او یا نور مهمات پکی وی خو چې وی
کتل نو هماغه دټانك مرمی وی چې
مجاهدینو یی غوښتنه کوله .
حقانی صاحب زیاته کړه :
مجاهدینو ماته په مخابره کې خبر را
کړ چې الله تعالی ورته له کابله دټانك
مرمی پخپل قدرت راولیږلی ....
دحقانی صاحب له وینا وروسته
دجامعې صدر په لنډه توګه وویل :
محترمو حضارو داسلام دستره سرمایه
مجاهد اسلام فاتح خوست حضرت
مولانا جلال الدین حقانی ولوله انګیز
تقرر تاسی واورید درنو حضارو :
دکائناتو ذره ذره پوهیږی چې په
افغانستان کې جهاد دصدر اسلام
دجهاد تاریخ ژوندی کړ او دایی ثابته
کړه چې جهادداسلام دعظمت روح دی.
زموږ دجامعې در او دیوار او
دکراچې ټول ښار ته ډیر شرف او
سعادت حاصل دی چې دمجاهدیو
سردار له خپلو ملګرو سره دلته
تشریف راوړی « دوی دژوند لمحه لمحه
دومره قیمتی ده چې داسلامی امت
عظمت او عروج ورسره تړلی دی او دا
زموږ ډیر لوی سعادت دی چې دداسی
یوه عظیم مجاهد سره څولحظی
تیریږی .
زه له خپله ځانه او دټولو مدرسې او
ټول ښار په نمایندګی دمولانا حقانی
دتشریف راوړلو له امله دخپل درناوی
مراتب څرګندوم .
دجامعې صدر دخپلو خبرو په پای

کی وویل : زموږ په وړاندی داسی ستر مجاهد موجود دی چی نن ورته موږ خپل عرض حال وړاندی کوو چی قدم مخکی واخلی ، او دبیت المقدس او کشمیر دازادی دقافلی لارښوونه وکړی .

دوی په پای کی وویل :

مولانا حقانی ډیر ستر عالم دی دیوه ډیری ستری جامعی فارغ التحصیل او مدرس دی دمرحوم شیخ الحدیث مولانا عبدالحق تلمیذرشید دی او دی به لکه څنګه چی په افغانستان کی یی دازادی قافله رهبری کړی دکشمیر او فلسطین دازادی کاروان هم دخپل عالمانه قیادت له مخی خوځند او دمرام سرمنزل ته ورسوی .
انشاالله

دجمعی ورځی دمازدیگر په پنځه نیمو بجو په نشتر پارك کی داین شریعت تر عنوان لاندی دجمعیت العلما اسلام یوه ډیره ستره غونډه جوړه شوی وه چی حقانی صاحب ته هم دګډون او وینا بلنه ورکړی شوی وه له حقانی صاحب څخه مخکنیو وینا کوونکو لکه مولانا محمد اجمل قادری او نورو پخپلو ویناوو کی وویل دازموږ ډیره نیکبختی ده چی دافغانستان دمجاهدینو فاتح قوماندان چی دده دمیړانی او توری له برکته داسلامی امت دعظمت شمله په ټوله نړی کی اوچته ده نن زموږ په دغه غونډه کی برخه لری دا زموږدټولو لپاره ډیر فخر خبره ده .

پدغه غونډه کی حقانی صاحب پخپله وینا کی وویل : ددنیا مسلمانانو په تیره دپاکستان علماوو او ملت دافغانانو دجهاد ډیر زیات ملاتړ وکړ موږ له دوی څخه ممنون یو خو اوس چی کفار او غیراسلامی قوتونه په افغانستان کی دجهاد نوم محوه کوی او غواړی دمجاهدینو دحکومت مخه ونیسی او په افغانستان کی یوه سیکولر حکومت ته مخه پرانیزی دوی باید له جهاد سره خپل ملاتړ نور هم زیات او پراخ کړی حقانی صاحب وویل :

دافغانستان دجهاد په رابطه لومړنی فتوا چی دا جهاد یی دټولو اسلامی امت فریضه ګڼلی مرحوم مولانا مفتی محمود ورکړی اوس باید دهغه خلف له جهاد څخه دخپل ملاتړ په هکله خپلو مسوولیتونو ته نور هم متوجه شی .

دحقانی صاحب له وینا وروسته دجمعیة العلماء السلام عمومی منشی مولانا فضل الرحمن ته دوینا بلنه ورکړی شوه مولانا فضل الرحمن پخپله وینا کی دافغانانو جهاد او قربانیو دیادونی او تمجید په ترڅ کی وویل : دافغانستان جهاد چی دمولانا حقانی په څیر دحقانی شخصیتونو په قیادت پیل شوی دروسی وحشی امپراطوری داستبداد ځنځیرونه مات کړل خو نن دغه جهاد له یو بل تهدید او یوی بلی دښمنی سره مخامخ دی او هغه دامریکایی سامراج توطئی اوسازشونه دی چی غواړی په افغانستان کی دمجاهدینو دقربانیو له امله داسلامی جهاد اساسی مرکز دخپلو دسیسو او سازشونو تر برید لاندی ونیسی خو زموږ پوخ باور دی چی دمولانا حقانی غونډی سرتیری مجاهدین او عالمانه قیادت په دامریکا ناولی هیلی هم لکه دروس خاوری کړی اوله افغانستان څخه په ټولی اسلامی نړی ته داسلام دحاکمیت اواسلامی انقلاب وړانګی لکه چی موږ وینو په خپریدو دی خپری شی .

دجمعیة العلما غونډی جریان درلود چی حقانی صاحب دجوړ شوی پروګرام له مخی په نورو تقریبونو کی دګډون لپاره دغونډی مقر ترك کړ

دجمعی په ماسام په جامعه فاروقیه کی دحقانی صاحب په افتخار غونډه جوړه شوی وه دغونډی په بیل کی دجامعی مشر مولانا فاروق خان وویل : نن زموږ سترګی دیوه داسی شخصیت په لیدو روښانه دی چی هغه دخپل ژوند نزدی شل کلونه دحق په سنګر کی دباطل پر ضد په جهاد کی تیر کړی او دټول اسلامی امت لپاره یی دجهاد او فتحی ویاړونه ګټلی دی

نوموړی وویل : موږ یواځی دخپلو معزوو میلمنو دویناوو داوریدو لیواله یو ځکه زه خپلی خبری نه اوږدم او هغه سترمجاهد ته دوینا دعوت ورکوم چی دده جهاد دعالم اسلامی دعزت او عظمت شمله لوړه ساتلی ده .

کله چی حقانی صاحب ته دوینا بلنه ورکړی شوه دافغانستان دجهاد په پلوی شعارونو یو داسی زوږ جوړ کړ چی هره خوا دحق او حقانیت انګازی خپریدلی حقانی صاحب پخپله وینا کی وویل :

پدی وروستیو وختونو کی داسلامی ټولنی یو ستر مشکل او مصیبت داو چی له اهل علم سره علم موجود ؤ خو

دتنفیذ قدرت ورسره نه ؤ ځکه خو داسلام ډیر احکام خلکو له پامه وغورځول خو اوس چی دافغانستان دجهاد له برکته یونوی دور رادبره شو او الله تعالی اهل علم ته دتنفیذ قدرت ورپه برخه کړی ځکه خو دوی باید نور جد او جهد وکړی او یو واحد ملت جوړ کړی په افغانستان کی دجهاد له برکته یو نړیوال قوت جوړ شوی اودټولو مسلمانانو لپاره یو جهادی مرکزیت رامنځته شو روس په افغانستان کی له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شو اودافغانستان دجهاد په برکت په ټوله نړی کی دکمونیزم زولنی ماتی شوی شرقی اروپا او دمنځنی اسیا جمهوریتونه دکمونیزم دوحشت له منګولو خلاص شول اودکشمیر او فلسطین دازادی غورځنګونه ځپاند او توپانی شول .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

موږ یواځی دجهاد پر استمرار اعتماد او باور لرو لدی پرته نوری طریقی دقضیی دواقعی حل لاره نشی په ګوته کولی .

دشنبی په ورځ په جامعه بنوریه کی دحقانی صاحب په افتخار یوه غونډه جوړه شوی وه دلته هم دحقانی صاحب ډیر تود او دروند هر کلی وشو حقانی صاحب پخپله وینا کی وویل :

ددین اشاعت دحق حاکمیت اودعدالت ټینګښت دجهاد په توره او قوت ساتل کیږی موږ باید همیشه له دغه قوت څخه برخمن و او په ځان کی باید دا قوت ولرو اوله جهاد څخه غافل نشو .

حقانی صاحب دافغانستان دجهاد په رابطه چی دټول اسلامی امت لپاره د یوه واحد ملت دجوړیدو په لار کی یی یو بنستیز نقش پری ایښی وویل : له همدی ځایه ده چی نړیوال کفر دجهاد پر ضد په توطیو او دسیسو لګیا دی او په داسی مانورو یی لاس پوری کړی چی دجهاد سپیڅلو اهدافو سره ضدیت لری ځکه خو دعلماوو مسوولیت او مکلفیت دی چی ددغسی یوه خطرناک بین المللی سازش دناکامی په لاره کی له خپلو ټولو امکاناتو څخه کار واخلی .

لدی وروسته په جامعه کراچی کی دغونډی پروګرام و جامعه کراچی ته دتلو په لار په اشرف المدارس کی هم حقانی صاحب دڅه وخت لپاره دمه شو او دمدرسی له صدر او استادانو سره یی خبری وکړی جامعه کراچی ته په رسیدو دجامعی صدر دپاکستان مشهور دینی عالم مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب او دجامعی نورو استادانو او طالبانو دحقانی صاحب ډیر دروند هر کلی وکړ دجامعی دصدر په دفتر کی له یوه لنډ مجلس وروسته حقانی صاحب او ددوی ملګرو مولانا محمد رفیع عثمانی په ملتیا دجامعی له کتابتون او مختلفو څانګو څخه لیدنه وکړه او په هغه ستره غونډه کی یی ویناوکړه چی ددوی په ویاړ جوړه شوی وه .

دغونډی په پیل کی مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی په عربی ژبه وویل : مولانا حقانی دعالم اسلام یو ستر مجاهد او عظیم سپه سالار دی دی نه یواځی دافغان مجاهدینو یو عظیم قائد دی بلکی یو جید عالم او دانشمند هم دی ما په خپل یو اثر کی ددغه عالم اوسپه سالار دجهادی کارنامو دیر ویاړمنی خاطری لیکلی اوس موږ دډیر افتخار او خوشحالی احساس کوو چی دغه ستر شخصیت زموږ په مځ کی دی او اوس به ددغه عظیم مجاهد خپله عالمانه وینا تاسی ته واوروی حقانی صاحب پداسی حال کی چی دحضارو دشعارونو او احساساتو له امله یی وینا لړ ځنډیده په خپلو خبرو کی وویل : زه دوخت دتنګتیا له امله او لدی کبله چی په اردو ژبه تقررماله یوڅه ګران دی خپلی خبری په عربی ژبه کوم .

حقانی صاحب پخپلو خبرو کی وویل عزتمندو وروڼو !

جهاد په حقیقت کی دالله تعالی له طرفه دمسلمانانو یو ستر مکلفیت دی ، په جهاد کی حقیقی نصرت او فتحه په لښکر او وسایلو کی نده بلکی حقیقی نصرت او فتحه دالله تعالی له طرفه ده ، په افغانستان کی روس یو منظم پوځ درلود ، وسلی او قوت یی درلود ، او هرڅه یی ډیر وو خو ستاسی وروڼه افغان مجاهدین تش لاس وو او همدغه تش لاس یی جهاد پیل کړ دجنګ هیڅ لوازمات ورسره نه وو خو لدی کبله چی دمجاهدینو بروسه او ایمان په الله تعالی باندی ټینګ و له همدی امله وو چی نه یواځی روسی پوځونه له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شول بلکی روسی امپراطوری هم دړی وړی شوه .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل : دمسلمانانو په بیداری ،

وحدت او جهاد کی دامت ازادی او
عزت نغښتی دی له همدی لاری به
کشمیر هم ازادیږی او دهندوانو دظلم
او وحشت طلسم به هم ماتیږی او
فلسطین دمسلمانانو لومړی قبله به
هم دصهیونستانو له ناولو منګولو
څخه خلاصون پیدا کوی.
دحقانی صاحب له وینا وروسته شیخ
الحدیث مولانا شیر علی شاه لنډی
خبری وکړی اوپخپلو خبرو کی یی
ددغه دارالعلوم دیوه مجاهد طالب
العلم اختر محمود یادونه په ډیر
دردوونکی او اغیز ناك انداز کی وکړه
چی هغه دافغانستان جهاد کی په
ګردیز کی شهید شوی لدی وروسته
مشهور عربی شاعر خالد حسن
هنداوی دوه شعرونه ولوستل چی یو
دکشمیر ازادی غوښتونکو او بل
دحقانی صاحب دجهادی کارنامو
دستاینی په هکله ویل شوی و چی
دهغه دشعردوو بیتونو ژباړه دلته را
اخلو :
جلال یواځی دافغانانو جلال او سر
دارندی بلکی دټولو مسلمانانو سردار
او جلال دی دافغانانو عزت یواځی
دافغانانو افتخار ندی دا دټول اسلامی
امت افتخار او عزت دی .
ماښام په جامعه رحمانیه کی دحقانی
صاحب په ویاړ غونډه جوړه شوی وه
پدغه غونډه کی لومړی دمنبع العلوم
جامعی صدر مولوی عزیز خان وینا
وکړه ویی ویل ګرانو طالبانو ! تاسی
ته ددغه علمی روزنی له اړخه یو ډیر
دروند امانت درسپارل کیږی ځکه
تاسی دپیغمبرانو دوراثت وظیفه په
غاړه لری تاریخ شاهد دی چی په دنیا
کی څومره ددین خدمت چاکړی هغه
یی دعلم په اساس کړی ، دافغانستان
دجهاد تهداب هم علماوو په علم باندی
ایښی دی .
وروڼو دجهاد ابتداً دعلماوو له خوا له
منبر څخه شویدی همدا علماوو چی
جهادی کارنامو ته یی دنړی ډیر غټ
غټ پوځی جنرالان حیران او ګوته په
غاښ پاتی دی ددغو مجاهدو علماوو
یو مثال ستاسی په وړاندی
دافغانستان یو ډیر ستر عالم او مدبر
قوماندان مولوی جلال الدین حقانی
دی چی دنن خالد بن ولید اویا دنن
ابدالی او بت شکن یی بللی شو.
مولوی عزیز خان دخپلی عالمانه وینا
په ترڅ کی وویل : دجهاد په صفونو
کی علماوو او طالبانو ډیره زیاته برخه
اخیستی ده ، ځکه خو پدغو مدرسو
کی طالبان دعلم او حصول او جهاد
لپاره روزل کیږی .
....
مولوی عزیز خان طالبانو ته په خطاب
کی وویل : تاسی دیوه ډیر ستر هدف
لپاره تربیه کیږی تاسی به دعلم او
جهاد ترڅنګ سبا اسلامی حکومت هم
چلوی اوپه جامعه کی به عدالت او
مساوات ټینګوی .
دوی زیاته کړه ترڅو چی علماؤ
دحکومت زمام وانه خلی دا دظلم توره
شپه نشی سبا کیدی اوپه اسلامی
امت کی اطمینان نشی پیدا کیدی .
مولوی عزیزخان دخپلی وینا په پای
کی وویل : اوس وخت او حالات
دمسلمانانو په ګټه دی دافغانستان
جهاد دنړی مستضعفین رابیدار کړل
او دجهاد درس یی ورکړ اوپه ټوله
نړی کی دجهاد جذبه ژوندی شوه ځکه
خو علما باید له دغو فرصتونو څخه
ګټه واخلی او دجهاد لیکی جوړی او
غښتلی کړی .
له دی وروسته الحاج مولوی جلال
الدین حقانی ته دوینا بلنه ورکړی شوه
دوی خپله وینا په عربی ژبه پیل کړه
چی دحضارو له خوایی ډیر تود او
دروند هر کلی وشو او په فاتح افغانی
حقانی حقانی امام شامل ثانی حقانی
حقانی شعارونو سره یی دهغه استقبال
وکړ حقانی صاحب په خپلو خبرو کی
وویل :
الله تعالی له مجاهدینو مهاجرینو او
انصارو څخه راضی دی ځکه له همدی
لاری کفر ذلیله کیږی او اسلام برلاسی
او عزیز ګرځی .
وروڼو ! دجهاد او مجاهد فضلیت په
قرانی نصوصو او نبوی احادیثو ثابت
دی په یوه کتاب کی راغلی چی په
هر کال کی چی څومره مسلمانان حج
کوی دهغوی ټولو په اندازه ثواب او
اجر الله تعالی دمجاهد په برخه کوی
بلکی داهم چی په ټوله دنیا کی چی
څوك لمونځ کوی او روژه نیسی ددغو
ټولو په اندازه ثواب الله تعالی مجاهد
ته ورکوی ، لمونځ دمسلمان دخپل
ځان له پاره دی خودجهاد ګټه ټولی
دنیا او ګرد امت ته رسیږی ځکه
دجهاد اهمیت او ثواب دنورو عباداتو
په نسبت ډیر زیات دی دخوست فاتح
دخپلو خبرو په پای کی وویل : علم
، جهاد اوقیادت دعلماوو لپاره دی
ځکه هغوی دی چی علم لری
مجاهدین دی او دتنفیذ قوت ور سره
دی پخوا که څه هم په افغانستان کی

علماوو خو دتنفیذ قوت ورسره نه وو خو اوس چی دتنفیذ قوت له علماوو سره دی باید علماو چی جهاد ورته په میراث پاتی شوی قرارکښی ننیاو اوس چی له فاسقانو دتنفیذ قوت اخستل شوی ځکه خو کفری طاقتونه توطیی او سازشونه کوی او غواړی چی دمجاهدینو دقیادت په مرکز کی فاسقانو ته ځای ورکړی نور باید علمایواځی تر مدرسو او جوماتو پوری محدود ونه اوسی او پری نسبودل شی چی اقتدار بیا دفاسقانو لاس ته ورشی .

دحقانی صاحب له وینا وروسته له شیخ الحدیث ډاکټر شیر علی شاه څخه هیله وشوه چی خپله بیانیه واوری مولانا شیر علی شاه له حمد او ثنا وروسته پخپلو خبرو کی وویل : زموږ او ستاسی ټولو ته ددرونـد میلمه قائد المیدانی فضیلة الشیخ حقانی تقریر ډیر عالمانه جامع او کافی دی ددغسی یو لوړ علمی شخصیت تقریر چی الله تعالی په علوم ظاهری اوباطنی لمانځلی او ژوند یی په جهاد کی تیر شوی دهغه خبری کافی دی خو څرنگه چی ماته هم دعوت راکړی شوی خو دوخت دتنگوالی له امله پدغو لنډو خبرو اکتفا کوم .

ورونو ! په تاریخ کی ډیر جنگونه شوی خو دافغانستان جهاد داسلام په تاریخ کی یو بیل امتیاز او فضلیت لری .

زه خو څو واره افغانستان ته تللی یم هلته داسی کوورونه مناظر او باغات دی چی جنت نظیر گڼل کیږی خو افغانانو ویل که زموږ کورونه ورانیږی خیر دی وران دی شی خو دا نشو زغلمی چی دتوحید عقیده دی زموږ له زړونو څخه ووځی زه له هغو پوښتنه کوم چی په سڼه کور کی اوسیږی که هغه هرڅومره مجبور هم شی خو خپل کور نشی پریښودلی خو افغانانو ته خپله عقیده ډیره گرانه ده ددوی عظمت او ارادی ته زما سلام دی چی خپلی سینی یی دښمن گولیو ته سپر کړی او هرتکلیف یی وزغامه خو دلا اله الا الله کلمه یی پری نښوده .

شیخ الحدیث وویل : په افغانستان کی که په یوه کور کی دوه ورونه او دری څلور کسه هم شهیدان شوی ددغی کورنی بل فرد قربانی ته تیار شوی دی .

علما چی دجهاد دفضایل اودشهادت اجرونه بیانوی لږ تر لږه خو باید دافغانستان جهاد له نږدی څخه وگوری دجهاد داسی موقع چی په افغانستان کی موجوده ده بل ځای نشی پیدا کیدی علما پدی هکله ډیر درونـد مسوولیت په غاړه لری مخکی به دفلسطین خبره کیده نو ور سره به دپاسپورت او ویزی خبره هم کیده خو دافغانستان په جهاد کی نه دپاسپورت ضرورت شته او نه وویزی ځکه که علما دجهاد علم اوچت نکړی نو څوک به یی اوچتوی او دجهاد درس به څوک ورکوی .

ډاکټر شیر علی شاه دپاکستان حکومت ته په خطاب کی وویل دپاکستان حکومت باید داتوم بم خبره پټه نکړی بلکي په جار او بنکاره وو وایی چی موږ اتوم بم جوړوو ځکه دا دالله تعالی امر دی چی دکفارو په مقابل کی څه موچی له وسی اوقدرت څخه پوره وی تیاری ونیسو

دمازدیگر له مانځه وروسته په جامعه مخزن العلوم کی یو پرتمین تقریب جوړ شوی و لدی مخکی دمفتی رشید احمد دارالافتاوالارشاد خانقا کی هم یو غونډه جوړه شوی وه .

دشپی په لس نیمو بجو په جامعه مخزن العلوم کی یو پرتمین تقریب جوړ شوی و کله چی حقانی صاحب دموټر اوموټر سیکلونو دکاروان په بدرگه دمخزن العلوم جامعی ته ورسید په لاوډسپیکرونو کی ددوی تشریف راوړل له گڼو شعاروسره اعلان او استقبال شو دغوندی په پیل کی دجامعه مخزن العلوم صدر مولانا محمد مظفر الدین صاحب پخپله افتتاحیه وینا کی وویل : نن یو داسی شخصیت په خپل تشریف راوړلو موږ ته ویاړ رابخښلی دی چی هغه یواځی افغان ولس نه بلکی ټول عالم اسلام یی دخپلو جهادی کارنامو له امله سر لوړی گرځولی زه دغه عظیم مجاهد ته خپل سلام وړاندی کوم . جناب مولانا حقانی هغه عظیم مجاهد دی چی روسی ته یی ماتی ورکړه اوس ددغه ستر مجاهد له لاسه دامریکا په کور هم زلزله گډه ده .

دجامعی صدر زیاته کړه : موږ خپل ستر قوماندان ته ددی ډاډ ورکوو چی زموږ سرونه ، زموږ وینی او زموږ هر څه دجهاد لپاره دده په خدمت کی حاضر دی موږ دهری قربانی لپاره

چمتو یو ، لدی وروسته حقانی صاحب په خپله لنډه وینا کی وویل : عزتمنو ورونو ! روسانو دخپل زور وحشت او بربریت سره په افغانستان تیری وکړ غوښتل یی دافغانانو مقاومت وځپی خو افغانانو همت له لاسه ورنکړ دقربانی په میدان ودریدل او دهمدغه قربانیو له برکته روس له شرمیدلی ماتی او نابودی سره مخامخ شو داسی چی دجهاد له برکته په ټوله نړی کی دبیداری او جهاد یوه نوی دور لمر راوخوت او په ټوله نړی کی دازادی غوښتنی هنگامه توده شوه .

حقانی صاحب دخپلو خبرو په ترځ کی وویل : مسلمانان او دامت علما باید دجهاد ددغه حرکت او غورځنګ جذبه او روحیه په ولسونو کی تقویه او غښتلی کړی اوپه علمی توګه مدرسی داسلام دنشر او اشاعت پاخه سنگرونه وګرځوی .

دخوست فاتح دخپلو خبرو په پای کی وویل : دافغانانو مجاهدینو دبی دریغه قربانیو له امله دجهاد ولولی په ټوله اسلامی نړی کی خپری شوی زموږ نیکونو ابدالی او غزنوی چی داسلام لپاره کومی غزا گانی کړی دادی زامن یی نن دهغوی په نقش قدم دجهاد او غزا په لار روان دی خو یو خبره ده او هغه داچی که موږ متحد وو او دجهاد لاره تعقیب کړو زما پوخ باور دی چی کشمیر فلسطین او نور محکوم اسلامی مناطق به ضرور ازادیږی .

پدغه جامعه کی دزده کوونکو زیاته برخه پښتانه وو دهر کلی او ښه راغلاست لوحی او شعارونه هم پښتو لیکل شوی و دجومات دستری دروازی پر سر لیکل شوی ؤ موږ دخوست فاتح داسلامی امت ستر سپه سالار مولانا حقانی ته ښه راغلاست وایو او لده سره دخپل سر اووینی قربانی تعهد کوو .

ددغی ورځی په ماسختن دتکبیر مجلی مدیر محمد صلاح الدین دافغانستان دقضیبی په رابطه له حقانی صاحب سره مرکه هم وکړه .

حقانی صاحب دیوی پوښتنی په ځواب کی وویل : پاکستان ته لږه حوصله په کار وه باید دومره په شاتګ یی نه وای کړی پاکستان باید یواځی دافغانانو سیاسی لیډرانو ته نه وی کتلی ، بلکی دافغانانو عمومی وضعه او ملت یی په نظر کی نیولی وای .

دتکبیر خبریال پوښتنه وکړه : ویل کیږی چی ٦ میاشتی مخکی دپاکستان حکومت له ظاهر شاه سره موافقی ته رسیدلی تاسی پدی هکله څه نظر لری ؟

حقانی صاحب وویل : زه خو نه دپاکستان له حکومت سره ډیر نږدی پاتی شوی یم اونه له لیډرانو سره زما وخت زیاتره په جهاد او سنگرونو کی تیر شوی ځکه خو پدی هکله څه معلومات نلرم .

خبریال بیا پوښتنه وکړه : چی دمجاهدینو لیډرانو دپاکستان له صدر اووزیر اعظم سره جلا جلا ملاقاتونه کړی پدغه دواړو ملاقاتونو کی څه فرق شته که څنګه ؟

حقانی صاحب وویل : که څه هم زه پدغو ملاقاتونو کی شریك نه وم خو فکر نه کوم کوم خاص فرق ولری .

دمجلی خبریال رفیق افغان له حقانی صاحب څخه دقیادی شورا په هکله پوښتنه وکړه حقانی صاحب وویل : داطرحه یوه نیمگړی طرحه ده او بریالی نه ښکاری .

رفیق افغان پوښتنه وکړه : دمجاهدینو په مشرانو په منځ کی بنیادی اختلاف څه دی حقانی صاحب ځواب ورکړ اساسی اختلاف نشته یواځی شخصی او گوندی اختلافات دی موږ وینو چی دعقیدی اختلاف هم نشته دنجیب دررژیم په رابطه هم نظریو دی ، صرف اختلاف شخصی اغراضو رامنځ ته کړیدی ، حقانی صاحب دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل : دکودتا خبره چی څوك کوی هغه هم په هیواد کی داسلامی حکومت دقیام ذریعه نشی کیدی

دمرکی په پای کی محمد صلاح الدین دحقانی صاحب مرکزونو او سنگرونو ته دخپل لومړی ژورنالستیکی سفر دخاطرو یادونه وکړه او زیاته یی کړه : که څه هم ما غوښتل چی ستاسی خدمت ته حاضر شم ، اودخوست دفتحی مبارکی پخپله درکړم خو فرصت را سره یاری ونکړه ځکه خومی دخپلی مبارکی پیغام درولیږه که خدای کول یو ځل به بیا ضرور ستاسی سنگرونوته درځم .

کراچی ته دحقانی صاحب سفر اوددینی جامعو ، مدرسو او ادارو له منسوبینواو چلونکو سره ملاقاتونه او ګڼو غوندو ته وینآوی یو داسی

اقدام و چی دهغی نتایج دافغانستان له جهاد سره دمرستی او کلك تائید او هر اړخیز ملاتړ داعلان دتجدید په بڼه څرگند٭ اودیوه داسی موثر قوت دجوړیدو او پیاوړتیا زیری له ځان سره درلود چی له یوی خوا دجهاد دجذبی او روحیی دپاللو او ژوندی ساتلو لپاره یی یو محوری کردار خپل کړ اوله بلی خو پداسی شرایطو کی چی دجهاد پرخلاف دنړیوال کفر سازشونه او توطیی په ډیری تیزی سره په لار اچول شوی دپاکستان دعلمی او روحانی حلقو دفعالانه نقش او جدی موقف دجلبولو په لار کی یو ستر او کامیاب‌قدم گڼلی شی .

دمحترم حقانی دغه بریالی سفر دکراچی دجامعو ، دینی مدرسو او حلقو څخه دیو داسی قوت په جوړولو او چمتو کولو کی یو مؤثر او په ځای قدم و چی دجهاد دبری په لار کی ډیر مهم او ضروری بللی شی چی دهغی مثبت نتایج دهغو حلقو ددغه تعهد په تجدید کی لیدلی شی چی په ډاگه یی دافغانستان له مجاهدینو سره حتی دخپلی وینی دقربانی اعلان هم وکړ .دلته ده چی سری ته دافغانانو دجهاد او قربانیو عظمت او عزت ډیر ښه معلومیږی دلته سړی دسر په سترگو وینی چی افغانانو څومره ستری قربانی ورکړی اودخپلو قربانیو له امله یی دڅومره مسلمانانو زړونه خپل کړیدی .

هلته چی دټولو په سترگو کی دافغانانو دجهاد او قربانیو په وړاندی دعقیدت او درناوی ډیوی ځلیږی او هلته چی دغه احساس سړی دوجود په رگ رگ حس کوی چی افغانانو که دخپلو قربانیو په برکت روس له شرمیدلی ماتی سره مخامخ کړ نو ور سره یی دټولو مسلمانانو زړونه او دازادی نړی ذهنونه هم فتحه کړیدی .

دلته سړی گوری چی افغان دخلکو په نظر کی څومره دروند ، څومره ستر او څومره دقدر وړ دی دلته چی زړونه ، جذبات او ذهنونه دافغان مجاهد دتوری میړانی او قربانیو په وړاندی په څومره شوق په سینو کی دریږیږی او په څومره تلوسه مجاهدینو ملاقات ته راغونډیږی تردی چی له مجاهدیو سره ملاقات او خبری خپل سعادت او نوی ثواب گڼی .

موږ لیدل چی هغوی دخوست له فاتح سره په لړه شیبه ملاقات او روغبړ دڅومره خوښی اونیکمرغی احساس کاوه او طالبانو په څومره ولوله اومینه ور څخه دتوگراف اخیست اوپخپلو سترگو یی ایښوده .

ډیرو دعقیدت له مخی خپل زامن ددی لپاره چی دجهاد له فیض او برکت څخه برخمن شی دحقانی صاحب مخی ته کینول چی پر سر یی دفیض او برکت لاس را کاږی له همدی ځایه وه چی موږ لیده چی په کراچی کی دخوست فاتح څلور ورځنی سفر اودخلکو بیساری او پرتمین هر کلی داسی هنگامه جوړه کړی وه چی دجمهور رئیسانو او دحکومتونو دمشرانو دسفر په وخت کی هم چا داسی پرتمین او تود هر کلی نه و لیدلی داځکه چی دغه استقبال او هر کلی کومه رسمی او نمایشی بڼه نلرله ، بلکی دزړونو دتل او دایمان دټینگ تړون له مخی یی بڼه نیوله ، ځکه خو یی اغیز او کیفیت دومره ژور او پراخ ؤ چی نور خوځه کوی دکراچی حکومتی دستگاه هم له حیرانی سره مخامخ کړی وه .

هو ! دا دهغی ستری قربانی او بی ساری قهرمانی نتیجه او برکت ؤ چی افغان مجاهد ولس ددین اووطن په لار کی ورکړی او دا ټوله دمجاهدینو دفاتح قائد الحاج مولوی جلال الدین حقانی به باعظمته څیره کی له ورایه ځلیدله دریغه چی پردغه مجاهد اوقهرمان ولس الله تعالی دیو سالم او متحد قیادت لوریینه هم کړی وی .

دجهاد مهم مرګزونه

د«ژوره» تاریخي غونډ

«ژوره » دپکتیا ولایت دتپه مانندو غرونو په مینځ کی دخوست دجنوبی اړخ په (۳۵)کیلومتری کی یوسیمه ده چی دپاکستان دقبایلی سیمی میرانشاه ښخه تقریباً ۳۰ کیلومتره وړاندی پرته ده ، په دی سیمه کی د ۱۳۶۱ هـ ش کال دجوزا په ۱۳ مه نیټه دالحاج مولوی جلال الدین حقانی په هدایت دشهید مولوی فتح الله حقانی (مولوی فتح الله حقانی په هغه وخت کی دمولوی جلال الدین حقانی مرستیال و چی د ۱۳۶۴ کال د وری میاشتی په ۲۲، دروسانو سره په مخامخ نښته کی په شهادت ورسید) په لاس د«ژوره» دغونډ بنسټ کیښودل شو ، په دی کار کی له ده سره انجنیر عبدالله ، ضابط محمد عمر «اخر» اومحمدداود ملګری و ، داغونډ له جوړیدو راوروسته په بیلا بیلو نومونو نومول شوی په سرکی دشهید احمد شاه دغونډ په نامه یادیده او په ۱۹۸۹م کال کی داسلام ددوهم خلیفه حضرت عمر فاروق (رض) په نوم ونوماوه خوددی سزه سره اوس هم په دی خاطر چی داسیمه دژوره په نوم شهرت لری دژوره په نوم یادیږی ، د۱۳۶۱هـ س کال دسرطان په میاشت کی دغونډ عسکری تشکیل الحاج مولوی جلال الدین حقانی منظور کړ چی دهماغی ورځی راوروسته په منظمه توګه مجاهدین روزی او دسوق او اداری لپاره یی چمتو کوی که څه هم چی په سرکی دی غونډ یواځی یوه خیمه درلوده خو اوس داسی منظم تشکیلات لری چی ښایی په جهادی غونډونو کی بیلګه ونه لیدل شی .

چی له نظام قراول ورتیرشی ښی اړخ ته دانظباطانو ځانګه پرته ده لږ پورته بیا دامنیت لومړی پوسته ده دنظام قراول له دروازی مخکی پر یوی غونډی دوه ټانګه درول شوی چی له دښمن څخه نیول شوی په دی پسی وروسته ښی اړخ ته په پرله پسی توګه داکمالاتو بلوک ، میلمستون ، لوژستیک ، دغونډ

شهيدمولوي فتح الله« حقاني »

ضابط محمد عمر « اخڅ »

الحاج محمدابراهيم« عمري »

قومانداني ، وسله پالي ، اوپراسيون ،موزيم دموټرو پاخه گراجونه ، دموټر ورکشاپ او مخامخ تعليمي ميدان پروت دی ، بيا ترانسپورت ، مالي اوپيژند او مخامخ يي پر لوی غونډي له دښمن څخه نيول شوی زغروال ټانک ولاړ دی ، چي لاندی تر« هرکله راشي » اومرحبا) ليکل شوی ،له دی وړاندی دمخابری ارشاد او تبليغ ، فرهنگي او دغونډ جومات پروت دی ،دوهم نظام قراول ته نارسيده اشپزخانه او گنډونکي پراته دی ، ښيي اړخ ته چي دبنديانو له ځای تيرشي دميلمنو لپاره ددمي ځای او دراديو څانگه ده دراديو تر

څنگ دقوماندانانو دسرتاسری شورا لپاره تالار جوړشوی ، مخامخ ورته يو جومات دی اودغونډ په پای کي دهغي سمڅي «گاري » مخي ته چي ژوره دتاريخي جگړي په ترڅ کي دبمباری له وجي ړنگه شوه او ۳۹ تنه پکي شهيدان شوی و دشهيدانو يادگاری څلي جوړ

شوی ، نوموړي ټول شبعات په پخو سمڅو کي ځای پر ځای شوی ، مخي ته يي په بمونو کي گلان کرل شوی چي دغونډ ښکلا يي خو چنده کړی .

غونډ څلور پياده او يومحافظ ټولي لري محافظ ټولي داستحکام ، دافع هوا ، مخابری راکټ او توپچي پنځه بلوکونو



څخه جوړ شوی ، دلوژستیك ځانګړی داکمال او خدمت دبلوکونو سربیره دژغروال یومستقل بلوك هم شته ، په غونډ کی دمخابری یو مرکزچی د حقانی صاحب له ټولو جبهاتو سره اړیکی لری موجود دی ،دغونډ مجاهدینو ته دنورو سهولتونو تر څنګ په میاشت کی ټاکلی اندازه معاش ورکول کیږی ، په غونډ کی دارشاد او تبلیغ امریت یوه کتابخانه هم جوړه کړی او هم هره ورځ د ۸ بجو څخه تر ۹ بجو او ۴۵ دقیقو پوری دغونډ منسوبینو ته اوبیاله لس نیمو بجو څخه یولس بجواو پنځه څلویښت دقیقو پوری نیول شو عسکرو ته دینی زده کړه ورکول کیږی ، غونډښه فعال صحیی امریت هم لری او مجاهدین یی دپکتیا ولایت په بیلابیلو برخو کی پراته دی .

«د۱۳۶۱هـ ش کال دجوزا په ۱۳ مه نیټه په غونډ کی یو سیار رادیویی ستیشن د «صدای افغانستان» په نوم فعال شو چی سهار ، مازدیګر او ماخوستن به یی په پښتو ، دری ، ازبکی او روسی ژبه نیم ساعته خپرونی کولی،او اوس یی هم خپرونی دوام لری .

دغونډ په چوکات کی د ۱۳۶۷هـ ش کال کی الحاج خلیل الرحمن په ابتکار یو موزیم جوړ شوی چی د ۱۳ کلن جنګ په ترځ کی دروسانو لخوا داستعمال شووسلو زیاتی نمونی پکی شته .

پر ژوره دوروځنی بمباری سربیره روسانو دوه ځلی ستر حملی (یو حل د۱۳۶۴هـ ش کال دسنبلی په میاشت کی او بل ځلی د۱۳۶۵هـ ش کال دحمل په ۱۷ مه نیټه) کړی چی دوحشیانه بمباری سره سره له ماتی سره مخامخ شوی .

په گردیز کی درژیم وسله وال ځواکونه مجاهدینو ته تسلیم شول

ننگیال

> الحاج حقانی :
> دمجاهدینو اوستاسی ترمنځ دښمنی دملحد رژیم له امله وه اوس چی ملحد رژیم نشته زموردښمنی هم نشته

په هیواد کی وروستی سیاسی او پوځی انکشافاتو دخپل ناڅاپی ،غیرمترقبه او ډرامایی بڼی له مخی دجهادپه سطحه دگوابنونو او امیدونو دوه بیلا بیل لوری په نخښه کړل – امیدونه لدی اړخه چی درژیم ډیر ستر حامی او مدافع ځواك درژیم مخالف جهت او له مجاهدینو سره دپیوستون لار غوره کړه اوگوابنونه لدی امله چی په سیاسی سطحه لا دمجاهدینو دقیادت تر منځ دیوه واحد موقف او اداری نشتوالی او دقیادتونو په سطحه دُاقتدار سیالی اوتربگنی دقومی -گوندی-سمتی ،مذهبی او ژبنیو اختلافاتو اورته لمن وهله او دهیواد دځمکنی تمامیت ، ملی وحدت او دجهاد ارمانونه او اهداف یی له ستر خطر سره مخامخ کول .

دهمدغو انکشافاتو او تحولاتو په بهیر کی چی هره ورځ او هره گړی یی دترخو پیښو او ناوړه حوادثو درامنځته کیدو اودکورنی جگړی او خونړیو او ورانوونکو فاجعو دواقع کیدوویره وه بیا هم له دغو تحولاتو څخه دځو ورځو په تیریدو نه یواځی داچی جهادی قیادتونه په یوه واحد موقف او اداری مواُفق نشول بلکی دسیالی او وسله والو گوت څنډنو او مخالفانه موضیعگریو له اړخه خطرناك اوله دښمنی ډك دریځونه رامنځته شول – له همدی ځایه وه چی

دهمدغو چټکو انکشافاتو له مخی ددی لپاره چی دگډوډیو مخه ونیول شی او ملی شتمنیو او دولتی تاسیساتو ته زیان ونه رسیږی او په سوله ایزه او امناکه توگه دمجاهدینو گډی او متحدی شوراگانی واك تر لاسه او دجگړی او وینو تویونو مخه ونیول شی او همدارنگه په کابل کی هم دسیاسی اقتدار لپاره دسیالی او تربگنی روانه ډرامه پای ته ورسیږی او پدی رابطه دسیاسی لوبو او کشمکشونو دوخیمو او خطرناکو عواقبو او خونړی مستقبل مخه ونیول شی الحاج مولوی جلال الدین حقانی په سیاسی او پوځی دواړو جبهو کی دمجاهدینو دقیادتونو او دجهادی وسله والو ځواکونو لپاره دحالاتو، واقعیتونو او حقایقو په

دگرجنرال امام الدین له الحاج «حقانی» سره دخبرو په حال کی



رڼا کی په فعالیت لاس پوری کړی
دوی وروستیو تحولاتو سره سم ګردیز ته تشریف یووړ
تر څوپر ګردیز دجنګی یرغل او پوځی عملیاتو او
دګډوډیو او وینی تویولو مخه ونیسی او دهر ډول
عجولانه او ناسنجول شوی اقدام مخ نیوی وکړی .
دوی ددی پر ځای چی ګردیز ته دننوتلو اقدام وکړی
دګردیز دامنیت او هلته دیوی ګډی مطلوبی او مستعدی
شورا د جوړیدو پلان تر لاس لاندی ونیو او په دوو
بیلابیلو وراندیزونو او اعلامیو کی چی یوه یی
دقوماندانانو او مجاهدینو په نوم او بله دجهادی
قیادتوپه عنوان وه هیله وکړه چی دوضعی او حالاتو
دوخامت په د پام کی نیولو له مخی له زغم - تیریدنی
او وحدت څخه کارواخلی .
الحاج مولوی جلال الدین حقانی دقوماندانانو او
مجاهدینو په نوم پخپله اعلامیه کی پدی ټکی تاکید
کړی ؤ چی مجاهدین په ګردیز -غزنی -لوګر دپوځی
عملیاتو په ځای دټولو جهادی قوتونو دپوره تفاهم او
بشپړ اتحاد او شورایی ګډ سیستم له لاری له پوځی
قطعاتوڅخه په سوله ایزه بڼه واك تر لاسه کړی او تر
هغی چی په کابل کی مرکزی حکومت تاسیس کیږی
دغه ګډی او نماینده شوراګانی به په منطقه کی با
صلاحیته مراجع ګڼل شی .
همدارنګه الحاج مولوی جلال الدین حقانی له جهادی
قیادتونو څخه په ټینګه غوښتنه وکړه چی پخپلو کی په
یوه واحد موقف توافق وکړی او پریښږدی چی دوی
داختلافاتو له امله هیواد دکورنیو شخړو سره مخامخ
او دمذهبی -قومی - سمتی اوژبنیو اختلافاتو اوورنه
بل شی .
الحاج مولوی جلال الدین حقانی پدی خبره ټینګار

درلود څرنګه چی رژیم دبشپړ او
حتمی سقوط په حال کی دی څکه خو
دګډو شوراګانو له جوړیدو مخکی باید
ښارونو ته له ننوتلو څخه ډډه وشی .
همدارنګه دوی ټولو پوځی قطعاتو ته
هم عرض وکړچی په سیمو کی
دمجاهدینو له متحدو او ګډوشوراګانو
سره خپل پیوستون اعلان کړی او یوه
تنظیم یا ډلی ته تسلمیدو ته ترجیح
ورنکړی څکه خو دګردیز دامنیت
-اداری او دګډوډیو دمخنیوی او
راتلونکی په رابطه یی په (۲۱)مادوکی
دنماینده شورا طرحه جوړه او یو نقل
یی دګردیز دقوا و قوماندان ته وراندی شو .
که څه هم دګردیز دنیولو لپاره منظم وسله وال قوتونه په
قومی او تنظیمی سطحه راغونډ او داقدام منتظر وو
خو الحاج حقانی پر ګردیز دحملی او یا هم ښارته د
ننوتلو په هکله دیوه ګډ شورایی سیستم له ایجاد مخکی
چی دښار امنیت او تاسیساتو او ذخایرو دساتنی
مسولیت په غاړه واخلی طرفدارنه ؤ او غوښتل یی چی
له هر څه مخکی دیوه پراخ تفاهم په نتیجه کی یوه
نماینده او ګډه شورا جوړه او دښار کنترول په لاس کی
واخلی څکه خویی دحمل په (۳۱)مه نیټه دسیمی
قوماندانان راغونډاو هغوی یی دربړی نزاکت ته متوجه
او دیوی ګډی او نماینده شورا جوړیدو ته یی لار اواره
کړه که څه هم دګردیز نیول ډیر اسانه کار و خو دیوه
شورایی ګډ او نماینده سیستم له ایجاد مخکی الحاج
حقانی پدی رابطه دعجلی پلوی نه ؤ - له بلی خوا دوی
داهڅه هم کوله چی ښارته دمجاهدینو له داخلیدو سره
شخصی او ملی شتمنیو او تاسیساتو ته هڅ ډول تاوان
ونه رسیږی څکه خو دوی اعلان وکړ ، چی په اوسنیو
شرایطو کی هیڅ ډول دولتی وسایل او تاسیسات که
هغه پوځی دی او که ملکی غنیمت نشی ګڼل کیدلی څکه
خو په ګردیز کی موجود هر ډول وسایل ، وسلی
اومهمات - دغنیمت په حکم کی نه راځی بلکی دا دبیت
المال او ملی شتمنیو حکم لری چی تر ټول ملت پوری
اړه لری .
دوی مجاهدینو ، قوماندانانو ، او خلکو ته داهم تفهیم
کړه چی دمجاهدینو دعفوی داعلان له امله دهر
حکومتی کارمند ژوند-شتمنی او عزت خوندی او
مصوون دی که څه هم نوموړی کارمند په ملکی او

پوځي دواړو برخو کې دهري رتبې او موقف
خاوند وي .
پدې هکله دحقاني صاحب تاکتيك اوپلان
ټول پدغه چورليخ څرخيده چې که په ګرديز
کې خداي مکړه ملي او دولتي شتمنې تالا
ترغه کيږي نو داغوره ده چې هېڅو تسليم
نشي . له همدې ځايه وه چې دوى په ډير
زغم او احتياط دحالاتود مطالعې له امله په
اقدام لاس پورې کاوه او پدې لار کې يې له
هيڅ ډول عجلې څخه کار وانه اخيست
په همدې ترڅ کې دوى يو ځل بيا دحمل په
(۳۱)مه نيټه له ستو کندو څخه په يوه
مخابروي پيغام کې په ټولو جهادي قيادتو غږ وکړ چې
دوى انقلابي شورا په ترکيب خپل توافق اعلان کړى
او پدې رابطه ټولو جهادي ځواکونو ته دهغوى دقناعت
او تناسب له مخې غړيتوب ورکړى او ديوه جهادي مشر
تر رياست لاندى دجهادي قيادتونو او قوماندانانو ګډه
شورا په کابل کې دمرکزي حکومت دچارو واګې په لاس
کې واخلي .
الحاج مولوي جلال الدين حقاني پدې هکله وخت په
وخت له احمدشاه مسعود اونورو قوماندانانو سره هم
مخابروي ارتباط درلود - او هغوى ورته د روانو
تحولاتو دژر بدليدونکو وضعي تفصيلات ورکول او له
دوى څخه يې هيله کوله چې له خپل اثر اورسوخ څخه
دمجاهدينو دواحد اداري او شورا په جوړيدو کې کار
واخلي همدا ؤ چې الحاج مولوي جلال الدين حقاني
پيښور ته دخپلې نمايندګي مسوولينو ته دخپلې نوى
طرحې او فورمول په هکله هدايت ورکړ چې له مولوي
خالص،استاد سياف او نورو جهادي مشرانوته هغه
وړاندې کړى او دا ورته په ډاګه کړي چې ډير ژر اوپه
فوري او جدي توګه دانقلابي عبوري شورا ترکيب
اعلان او دکابل دمرکزي حکومت دواګو تر لاسه کولو
لپاره چمتو شي که داسې ونه کړي بيا به له ورپيښو
ګواښونو او خطرونو څخه دهيواد اوملت دژغورنې په
لار کې قوماندانان مجبور وي چې په يوه ګډه او جدي
اقدام لاس پورې کړي .
لدې سره جوخت دګرديز له پوځي قوتونو او دقول
اردو له قوماندان سره ارتباطات نور هم زيات شول تر
څو وسله وال پوځ په تفاهم اومشوره په مسالمت اميزه
توګه له مجاهدينوسره يوځاى شي .
دسه شنبې په ماښام (دروان کال دثور په لومړى نيټه
الحاج مولوي جلال الدين حقاني -جنرال رحمت الله
صافي -ډګرجنرال محمد ظاهر سوله مل -بريد جنرال
مصطفى او ځينو نورو شخصيتونو او قوماندانانو
دګرديز قول اردو له قوماندان ډګر جنرال امام الدين او
تورن جنرال نبي جان سره ملاقات او مخامخ خبرې
وکړى - الحاج مولوي جلال الدين حقاني هغوى ته ډاډ
ورکړ چې مجاهدين به د وسله وال پوځ دهمکارى او
تفاهم له مخې ديوى نماينده شورا له لارى اداره په لاس
کې اخلي او په ګډه به دامنيت په ټينګولو او دبې نظمې
او ګډوډۍ دمخنيوى په لار کې فعاليت کوي - همدارنګه
دوى ته د نماينده شورا دا طرحې نقل هم ورکړى شو
خو له بده شامته چې ډګرجنرال امام الدين او تورن
جنرال نبي جان له سستې او بې غورى څخه کار
واخيست -او دغه ډول يې نماينده شورا موافقه يې په
تعويق کې واچوله او دنماينده شورا عملي کيدل يې
وځنډول .
له همدې ځايه وه چې دثور په (۲) مه نيټه دمجاهدينو له
استقامت څخه وسله وال افراد او مجاهدين ښارته
داخل شول - درژيم ځواکونو هم مقاومت ونشواى
کړاى ، او ګرديز به بشپړه توګه دمجاهدينو تر تسلط
لاندې راغى .
ښايي وواېو چې لدې څخه يوه ورځ دمخه دګلم جم
دمليشې افراد او دقول اردو مرستيال او ځينې نور
افسران له ګرديز څخه وتلي او کابل ته تښتيدلي وو .

دفتحی په ورځ دثور په (۲) مه نیټه الحاج مولوی جلال الدین حقانی ،الحاج مولوی نظام الدین حقانی ، جنرال رحمت الله صافی ، ډگر جنرال محمد ظاهر سوله مل ، برید جنرال مصطفی او یو شمیر نورو قوماندانانو او شخصیتونو چی په ستو کنډو کی یی دحالاتو څارنه کوله گردیز ته تشریف راوړ، الحاج مولوی جلال الدین حقانی تر ټولو دمخه بالاحصار ته ځیرمه دگردیز په جامع جومات کی دشکرانی لمونځ اداء کړ او ل هغی ځای څخه دگارد خاص (ملی) دقطعاتو دقواوو مرکز چی دگردیز جنوب غرب ته درباط په سیمه کی په یوه لوړه غونډۍ موقعیت لری تشریف یوړو ، کله چی دوی دنظام قراول دروازی ته ورسیدل دمجاهدینو او وسله والو قطعاتو له خوایی دروند هرکلی وشو .

دگارد معاون تورن جنرال احمدعلی هغوی ته ښه راغلاست ووایه له لنډ ملاقات وروسته الحاج مولوی جلال الدین حقانی پداسی حال کی چی دگارد معاون تورن جنرال احمد علی او نور افسران حاضر و هغوی ته وینا وکړه او له حمداو ثنا وروسته یی وویل :

زما عزتمندو لکه چی تاسی گوری په هیواد کی لوی ښارونه مطلقاً فتح شول او درژیم قوتونه له مجاهدینو سره ضم او یو ځای شول ، پخوانی دښمنی له منځه ولاړه او وروروللی او دوستی دهغی ځای ونیو او موږ او تاسی ټول په یوه صف کی ودریدو .

محترمو ورونو !

دوروستیو تحولاتو له مخی زموږ دانظرؤ چی رژیم له حتمی سقوط سره مخامخ دی په سیاسی او نظامی لحاظ رژیم له منځه تللی او بقایاوی یی هم ډیر ژر ړنگیدونکی دی ، نو اوس وسله وال پوځونه څوک نشی مجبورولی چی له مسلمانانو سره یی وجنگوی ، مجاهدینو لدی مځکی داوسلی چی دلته ځای په ځای دی ویجاړولی خو اوس یی دملت حق او مال بولی او ستاسی صاحب منصبانو تکلیف خپل تکلیف گڼی .

موږ دگردیز په فتحه کی ځکه له عجلی څخه کار وانه خیست چی دچیغی په صورت څوک ښارته داخل نشی څو چی ملی شتمنیو او تاسیساتو ته زیان ونه رسیږی ، ځکه خو موږ دقول اردو قوماندان جنرال امام الدین او دده ملگرو ته وویل چی او ل خط مه ړنگوی ، باید دگډ اقدام او تفاهم په نتیجه کی مجاهدین ښارته داخل شی موږ ورته ډاډ ورکړ چی مجاهدین ستاسی دعزت ناموس او ابرو دفاع کوی داسی دفاع به تری کوی لکه له خپل عزت او ناموس څخه چی دفاع کوی موږ هغوی ته دنماینده شورا یوه طرحه هم ورکړه چی دپوځ وسلو ، ډیپوگانو او ښارڅخه په گډه حفاظت او ساتنه وکړی شی .

موږ دوی ته وویل چی هغه څه چی په موږ حل کیږی موږ به یی حل کوو او هغه چی په تاسی حل کیږی تاسی به اقدام کوی او هغه چی په گډه حل کیدی شی په گډه به دهغی په حل اوفصل کی برخه اخلو خو متاسفانه چی هغو غوږ ځواب رانکړ او خبره یی په تعویق کی واچوله .

خو کله چی پرسبایی خلك ښارته داخل شول موږ بیا هم خپل ملگری وځنډول موږ مجاهدینو ته وویل چی له هغوی سره خبری شوی ځکه خو می هدایت ورکړ چی ارتباط ورسره ونیسی خو چی خبر شوو چی چا هیڅ عکس العمل ونه ښود بیا مو مجاهدینو ته په تاکید سره دا هدایت ورکړ چی پوځی قطعاتو ته هیڅ ډول تکلیف او زیان ونه رسوی او قطعات همداسی سلامت پریږدی او بیت المال او ملی شتمنی باید هیڅ ضایع نشی .

درنو ورونو!

تاسی پخپل اسلامی اخوت زموږ له څنگه ودریدلی ځکه خو ستاسی دفاع په موږ داسی لازمه ده لکه چی موږ دخپل ځان دفاع کوو ، موږ تاسی له ځانه بیل نه گڼو ، تاسی زموږ ورونه یاست ، تاسی باید دهیڅ خوف

احساس ونکړی ، اوس زموږ اوستاسی اخوت ټینګ شو او زموږ او ستاسی په منځ کی هیڅ فاصله نشته .

عزتمندو ورونو !

ښایی تاسی ته به معلومه وی چی له موږ سره داسی اشخاص هم شته چی له رژیم سره یی ډیر کار کړی او بیایی له مور سره لکه تاسی اسلامی اخوت پیل کړیدی ، موږ دخوست دفتحی پر وخت هم داکار وکړ او داسی اقدام مو وکړ چی هیچاته کوم تکلیف ونه رسید ، موږ دخوست (٤٠٠) ټپیان په (٤٠) امبولانسونو کی میرانشاه ته انتقال کړل او ددوی لپاره مو خپله مدرسه عجالتاً شفاخانه جوړه کړه ،شخصی ډاکټران مو ورته ونیول او دسره صلیب روغتون ته مو انتقال کړل .

که څه هم دخوست اسیرانو داسی حیثیت درلود چی مجاهدینو په سخت او خونړی جنګ کی نیولی وو په مورچلونو ورختلی وو ، ددوی له لاسه دمجاهدینو شهیدان لادفن شوی نه وو ، خو تاسی چی بیله مقاومته او بی له جګړی له موږ سره یوځای شوی یاست حتی زه دا وایم چی تاسی خدمت کړی او یوه قرار ګامو حفاظت کړی ، ځکه خو زه تاسی ته زنده باد وایم او ډیر در څخه خوشحاله یم او دعاکوم چی الله تعالی ددنیا اوآخرت نیکبختی درپه برخه کړی .

ورونو! موږ داقتدار له پاره جهاد نه کاوه ، او هیڅ ډول مجبوریت مو نه درلود موږ یواځی داسلام دحکم په اساس جهاد کاوه خو کله چی دمقابلی وخت تیر شو او زموږ او ستاسی اسلامی اخوت پیل شو نو اوس به په ګډه دوطن دابادی لپاره کار کوو خدای دی موږاوتاسی ته دوطن دخدمت توفیق راکړی .

محترمو ورونو !

موږ او تاسی به خپله وروری او ملګرتیاپالو -ځکه داداسلام په خیر تمامیږی - لدی مخکی زموږ دښمنی درژیم په خاطر وه اوس چی
رژیم نشته زموږ دښمنی هم نشته .

دحقانی صاحب له وینا وروسته جنرال رحمت الله صافی لنډه وینا وکړه ویی ویل :

دافغانانو دجهاد برکت و چی له نړی څخه دکمونیزم جنازه ویستل شوه او ټوله نړی دیوه استعماری او مستبد نظام له منګولو او شر څخه په امن شوه .

اوس چی دمجاهدینو دقربانیو له برکته کمونیزم ختم شو اوپه کابل کی هم دروسانو دکمونستی نظام وروستی بقایاوی له منځه ځی باید په ګډه سره دسولی او دوطن دابادی لپاره کاروکړو- جنرال رحمت الله صافی وویل : تاسی نیکمرغه یاست چی له مجاهدینو سره یوځای شوی او له یوه داسی ستر علمی او مجاهد شخصیت سره دهمکاری او وفاداری اعلان کوی چی هغه ستاسی دحفاظت او عزت په خاطر هلی ځلی کولی - دمجاهدینو ستر قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی پدی خبره ډیر ټینګار کاوه چی دګردیز وسله وال قوتونه پداسی توګه له مجاهدینو سره یوځای شی چی ددوی حفاظت او عزت هم خوندی شی او ملی شتمنیواو تاسیساتو ته هم څه زیان ونه رسیږی ځکه خودوی له هیڅ عجلی څخه کاروانه خیست او دیوی ګډی طرحی او تفاهم له مخی یی ددغه کار دعملی کیدو هیله کوله .

خو له بده بخته چی دقول اردو قوماندان دخپلی بی کفایتی په نتیجه کی پدی لار کی دځند او خنډ مشکلات راپیدا کړل ......

دجنرال صافی له وینا وروسته ډګرجنرال محمد ظاهر سوله مل چی درژیم ددفاع وزارت پخوانی مرستیال او دخوست به فتحه کی اسیر شوی و وینا وکړه ویی ویل :

ماته دتیر کال دحمل (١١) مه نیټه راپه یاد کیږی پدغه ورځ مولوی جلال الدین حقانی سره لدی چی له یوی خونړی او سختی جګړی وروسته یی خوست فتحه کړی ؤ خپلو ټولو قوماندانانو ته همدا توصیه کوله چی زخمیان باید ډیر ژر روغتون ته ورسول شی ، اودافسرانو او عسکرو احترام وساتل شی او

څه تکلیف ورته ونه رسول شی زه چی له مجاهدینو سره خپل یوکلن ژوند ته گورم نودمجاهدینو روش اوچلند له هر پول تعریف له تعبیر څخه لوړ راته ښکاری- لوی زیاته کړه :

له مجاهدینو سره زموږ ژوند له هغه تیر ژوند سره چی موږ مخکی تیر کړی ډیر توپیر لری داپه انسان دالله تعالی ډیر ستر رحم او کرم دی چی دمرگ تر ورځی یی توبه قبلوی او رحم پری کوی .

ډگرجنرال سوله مل وویل : حقانی صاحب دخوست اسیرپوځیان په ډیر عزت رخصت کړل خو اوس یو یو بیرته راځی او لدوی سره په جهاد کی برخه اخلی .

لوی دخپلو خبرو په پای کی وویل : دگردیز دفتحی دځنډ یو علت دا وچی حقانی صاحب غوښتل چی څه بربادی رانشی او داسی یوه طرحه جوړه شی چی نه شخصی او نه هم ملی شتمنیو او تاسیساتو ته څه زیان ورسیږی .

لدی وروسته یو شمیر خارجی خبریالانو له محترم حقانی صاحب سره دمرکی هیله وکړه - پداسی حال کی چی حقانی صاحب دمجاهدینو دشورا لپاره تشریف وړو په لار کی دواشنگتن پوست او سندی تایمز ورځپاڼو خبریالانو له هغوی سره لنډه مرکه وکړه چی موږ یی دلته لنډیز را اخلو .

پوښتنه : که وواياست چی گردیز څنگه فتحه شو ډیره مهربانی به مووی ؟

ځواب : موږ کوښښ کاوه چی دړژیم له مسوولینو سره نتیجی ته ورسیږو څو خپل قوتونه بی قید او شرطه تولو مجاهدینو ته تسلیم کړی چی څه بی نظمی او چورچپاول پیښ نه شی او چاته تکلیف ونه رسیږی .

له همدی امله وه چی موږ دقول اردو له قوماندان ډگرجنرال امام الدین او تورن جنرال نبی جان سره څلورساعته خبری وکړی - یوه طرحه او مسوده مو هم ورکړه او ډاډ مو ورکړ چی داسلام په چوکاټ کی ستاسی تسلیمی او ستاسی دسر اومال حفاظت موږ تضمین کوو .

خو متاسفانه هغه سستی وکړه اجرات یی ونه کړل او قاطع تصمیم یی څرگند نشو کړی ځکه خو غوځی او ثابتی نتیجی ته ونه رسیدو هغه ؤ چی مجاهدین دهجوم په شکل ښارته ننوتل -پوځ هم څه ممانعت او مقابله ونکړه او قواوی تولو تنظیمونو او قوماندانانو ته تسلیم او پدی توگه دروان کال دثور په (۲) مه نیټه دچارشنبی په ورځ گردیز په بشپړه توگه فتحه شو .

پوښتنه : دکابل په هکله ستاسی څه پروگرام دی همدارنگه هغوپوځیانو ته چی اوس هم له رژیم سره دی تاسی څه پیغام لری ؟

ځواب : که څه هم رژیم کله کله داخبره کوی چی حاضردی بی قید اوشرطه مجاهدینو ته قدرت وسپاری . موږدگردیز له ازادی وروسته دپکتیا ،پکتیکا ،لوگر ، وردگو او غزنی له قوماندانانو هیله کړی چی په منظمه توگه خپل قطعات کابل ته سوق کړی ترڅو دبی نظمی ،گډوډی او جگړو او وینو توپولو مخه ونیسی او درژیم قوتونه دائتلاف په شکل نه بلکی په اسلامی طریقه دمجاهدینو مجموع ته قدرت وسپاری نه یوه نتظیم او قوت ته .

پوښتنه : دکابل په اطراف کی ځینی پراته قوتونه غواړی په کابل حمله وکړی تاسی پدی هکله څه نظر لری؟

ځواب :لکه مخکی می چی وویل دکابل رژیم له بشپړزوال سره مخامخ دی اوس دغه رژیم دجنگ لپاره هدف نشی گرځیدی - خوکه چیری رژیم له تسلیمیدو نه ډډه کوی نوطبعی ده چی دجهاد مفهوم بیرته اعاده کیږی خوپه اوسنی وخت کی چی رژیم دبشپړ زوال په حال کی دی که جنگ وشی دابه دقدرت دسابقی لپاره وی .

پوښتنه : هغه پوځیان او افسران چی په گردیز کی تسلیم شوی دافغانستان په اردو کی به څه چانس ولری که څنگه ؟

ځواب : هغوی چی له اسلام سره همکاری اعلان کړی او بی قیده اوشرطه له اخلاصه تر اسلامی قیادت لاندی کار وکړی په راتلونکی کی څوك په اردو کی دهغوی له نقش څخه سترگی نشی پټولی .



الحاج مولوی نظام الدین حقانی له منبع الجهاد سره په مرکه کی:

په خوست کی دمجاهدینو له خوا واحده اداره جوړه شوه

اختلاف دسیاسی لیډرانو په منځ کی دی،مجاهدین اوقوماندانان پخپلومنځو کی پوره متفق دی

پوښتنه : محترم مولوی صاحب څه موده مخکی مو په خوست کی د مجاهدینو له خوا دیوی واحدی اداری دجوړیدو طرحه ترلاس لاندی نیولی وه تاسی ته چی دټولو مجاهدینو له خوا ددغی طرحی دعملی کولو اختیارات درکړل شوی ، هیله ده ووایاست چی په دی هکله څومره پرمختګ شویدی ؟

ځواب:بسم الله الرحمن الرحیم .

الله (ج) فرمایی :

«ترجمه : په تحقیق سره الله (ج) چی دی امر کوی تاسوته دورکولو دامانتونو اهل خپل ته »

نوموړ.هم دخوست دفتحی وروسته سره راټول شوو ، تر څو یوه واحده اداره جوړه کړو اوددی اداری کارونه اهل کسانو ته وسپارو چی ددی کار دپاره قوماندانانو ډیر تکلیفونه وګالل او ډیری غونډی یی وکړی ، ماته داختیاراتو راکولو مخکی موږ.یوه مسوده جوړه کړه ، چی په دی مسوده کی ۱۸مادی شاملی دی په دی ۱۸ مادو کی په عالی او اجرائیوی شورا کی دداخلیدو شرایط او هم دهغه چادپاره چی امریت ورسپارل کیږی ، شرایط ټاکل شوی او لیکل شوی دی او داسی فیصله هم شویده چی که په دی مادوکی چا اختلاف کاوه یاچا جنجال جوړاوه دابه قضا ته سپارل کیږی بیا چی کله عالی شورا وغوښتل شوه ، ترڅو غونډه وکړی په دی کی دمجاهدینو څه اختلافات وو ، دځینو قوماندانانو او مشرانو دانظر و چی عالی شورا دی قومی جوړه شی او ځینو داغوښتل چی په تنظیمی شکل دی جوړه شی خو په قومی شکل سره دمجاهدینو خوښه نه وه ځکه په قوم کی داسی خلك شته چی هغه مجاهدین نه دی او بل داچی دقوم څخه حکومت نه

جوړېږي ځکه چې په قوم کې
تفرقه پیدا کیږي یو قوم دبل قوم
په مقابله کې ودریږي دقومونو تر
منځ اصول او رواجونه مختلف وي
حکومت په خلکو کې یو اسلامي
قانون جاري کول غواړي نوددی کار
دپاره داضرورنه ده چې دچاقومیت
په نظر کې ونیول شي نو
دمجاهدینو دجملې څخه دالحاج
مولاناجلال الدین حقاني مولوی
میرداد ، دحزب اسلامي
دغونډرئیس ارکان ، دملي محاذ
قوماندان حاجي عبدالرحمن ،
دجمیعت اسلامي قوماندان مولوی
محمد شریف او داتحاد اسلامي
قوماندان مولوی پیرمحمد ، دی
ټولو مشرانو او قوماندانانو
دقومیت خبره رد کړه دوی وویل
چې دقوم څخه حکومت نه شي
جوړیدای ، ددې وروسته
دقوماندانانو قومي مشرانو او علما
ووڅخه یو ۳۰ نفری کمسیون جوړ
شو ، چې دکمسیون دغړو له خوا
دمسودی ۱۸ مادی دراُیو په اتفاق
ومنل شوي یوازې دوو ، دریو تنو
مخالفت وکړ چې هغوی ته هم
قناعت ورکړ شو او وروسته راضي
شول ددی وروسته په میلمه
کوټ کې چې دکوچیانو

مجاهدینو مرکز دی دکمسیون
دغړو دجملې څخه موږ ۱۰ تنو
ته اختیارات راکړل شول تر څو
واحده اداره ،عالي شورا ،
اجرایوی شورا او نور ارگانونه
جوړ کړو ددی مکملو اختیاراتو
وروسته دټاکل شوو لسو تنو له
خوا ماته اختیار راکړل شو،
ترڅوعالي شورا جوړه شي ،
وروسته دټولو په موافقه
دقوماندانانو ،قومي
مشرانوعلماُوو څخه د ۳۰۰ یا
۳۵۰ تنو په شاوخوا کې
اشخاص راوغوښتل شول ،
دخوست په مرکز کې ددی عالي
شورا له خوایوه اونۍ مباحثې او
مشورې وشوی په اخر کې
درایوپه اتفاق دکمسیون له خوا
دمسودي ۱۸جوړي شوي مادي
تصویب شوي اودسند په شکل
دشورا دټولو غړو امضاگانې

واخستل شوي وروسته بیا یو
هئیت رئیسه وټاکل شو چې په
دغه هئیت کې دهر تنظیم څخه
شپږ تنه گډون لری او لسو
ریاستونو لپاره به هم لس تنه
ټاکل کیږي چې دا لس تنه به
داجرائیه شورا غړي هم وي په
اخر کې دهر تنظیم له خوا شپږ
تنه دهیئت رئیسه لپاره او یوتن
داجرائیه شورا لپاره معرفي شو
ددی کسانو دتزکیې وروسته
د۱۳۷۱کال دحمل په اوله او
دوهمه نیته دکمسیون له خوا
دوه غونډې وشوی ددی غونډو
وروسته دکمسیون له طرفه ما او
حاجي عبدالرحمن ته اختیارات
راکړل شول تر څو ریاستونه په
تنظیمونو وویشو، بیا نهه
ریاستونه داسې وویشل شول :
۱- دقضاریاست حرکت انقلاب
اسلامي مجاهدینو ته مولوی
محمد نبي په مشري
۲- ددارالانشا اومالي
ریاستونه دحزب اسلامي
مجاهدینو ته د حکمتیار صاحب

په مشري
٣- دامنيت اوفرهنگي رياستونه حقاني صاحب مجاهدينو ته
٤- دبيا ودانولو رياست دملي محاذ مجاهدينو ته
٥- دصحي رياست دجمعيت اسلامي مجاهدينو ته
٦- دمخابراتو اوبو او بريښناریاست دجبهه نجات ملي مجاهدينو ته
٧- دتعليم او تربيي رياست داتحاد اسلامي افغانستان مجاهدينو ته
په ذكر شوو رياستونو كي ځني رياستونه لوى دي اوپه خپل تشكيل كي څو امريتونه لري. فعلا دامنيت صحي تعليم او تربيي او اوبو اوبريښنا رياستونه فعال دي او نور رياستونه به هم په نږدې راتلونكي كي په كار پيل كوي.
پوښتنه : طبيعي خبره ده چي دجنگ په جريان كي خوست ته په هره برخه كي دكتني وړ زيانونه اوښتي دي چي طبعاً بيا جوړوني ته ډير ضرورت لري په دې هكله چي كوم پروگرامونه په لار اچول شوي هيله ده چي دهغو دموفقيت په هكله دمنبع الجهادجهاد هنداري لوستونكو ته معلومات وركړي ؟
ځواب : دبيا ودانولو لپاره دسړكونو اوپلونو په جوړولو او همدارنگه كورونو په ترميمولو كار جريان لري ، دتعليم او تربيي په برخه كي هم ډير كار شوي او جريان لري فصلونه هم كرل شوي او دصحت په برخه كي هم پوره كار روان دي .
پوښتنه :لكه چي نړيوالو مطبوعاتو هم خپره كړه نجيب دعبوري حكومت له جوړيدو سره دټولو اجرائيوي امورو څخه داستعفي اعلان وكړ ، پداسي شرايطو كي مجاهدين بايد څه ډول موقف خپل كړي ؟
ځواب : دنجيب اعلان كوم نوى اعلان نه دى هغه څو ځله دا اعلانونه كړي دروسانو په وخت كي هم هغه اعلان وكړ چي مجاهدين دى موږ سره يو ائتلافي حكومت جوړ كړي چي دټولو مجاهدينو له خوا رد كړي شو كله چي دبين سيوان ، سعودي عربستان ايران او پاكستان او نورو له خوا دسياسي حل لپاره هلى ځلى پيل شوي نو زموږ ځيني ورونه مسكو ته لاړل او پدي دوكه شول چي ورته ويل شوي وو چي نجيب به گوښه كيږي اوافغانستان كي به يو اسلامي حكومت جوړيږي .
خو چي زموږ دوكه شوي ورونه ډير ژر پوه شول اواوس دملگرو ملتو دنماينده او نورو هغو ملكونو څخه چي دسياسي حل په پروسه كي شامل وو لار وركه ده او حتى داسي تبليغات كوي چي داورور وژنه ده خو كه خبره دكفر او اسلام وگڼو نوبيا دا ورور وژنه نه ده بلكه زموږ جگړه جهاد دى او دا جهاد موږ دروسانو ديرغل دمخه پيل كړى و اواوس هم په ټولو مسلمانانو فرض دى دنړى مسلمانان بايد غفلت ونه كړي ځكه اوس دافغانانو دجهاد له امله كفار په ويره كي دي او غواړي دخپلو دسيسو له مخي دجهاد خنډ واقع شي خو دمجاهدو افغانانو دايماني قوت په بركت دكفارو ټولي دسيسي دناكامي سره مخامخ شوي او مخامخ كيږي او هم مجاهدينو په دي ورځو كي دمزار شريف ښار فتحه كړي اودغه ښار چي دكابل او حيرتان بندرپه سړك واقع دى اوپه كابل يي لار قطع كړي دډير اهميت وړ دى ، يو كال كيږي چي مجاهدينو خوست ازاد كړي پدى نژدى كي به انشاالله چي گرديز او غزني هم فتحه كړي نو نجيب ځكه وارخطا دى اونه پوهيږي چي څه وكړي خو موږ ټولي دنيا ته وايو چي نجيب هرڅه وكړي او هر چيرته ولاړ شي مجاهدين به يي محاكمه كوي ځكه ده دافغانستان دارايي تباه كړي دوه ميلونه مسلمانان يي شهيدان كړي او هم ده سره چي په كفر كي مړه شوي تعداد ددى څلورو مليونو ته رسيږي موږ به ددى ټولو حساب دروسانو، نجيب او دهغي دډلي سره كوو.
پوښتنه : كه په گرديز كي دمجاهدينو پر پوځي وضعيت اودرژيم دقواوو دمحاصرى په

هکله څه معلومات راکړی ډیره مهربانی به مو وی ؟

ځواب : دګردیز وضعه په اوس حال کی ډیره ضعیفه ده یو داچی دلته ددوستم او ګلم جم ملیشی قوتونه پراته وو هغه دمزارشریف دفتحی څخه مخکی تللی دی ځکه ددوی اورژیم تر منځ اختلاف راغلی ؤ او اوس بی دلته دهرات اوقندهار څخه ملیشه راوړی ده خو دغی ملیشی دا درك کړی ده چی دکابل رژیم موږ دلته دمرګ دپاره راوړی یوواوبس نو دوی هم دنجیب سره مخالف دی ځکه په تیرو څو ورځوکی ددی ملیشو څو ګروپونه دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی ، خو مجاهدین دواوړو او سوړ موسم په وجه خپل اکمالات نه شی کولی نو ځکه یی عملیات ودرولی دی په ګردیز کی ولسی خلك هم دنجیب مخالفت کوی ځکه چی هلته یی هم دتاجك او پښتون تر منځ تفرقه اچولی ده اودغو خلکودرك کړی ده چی یوازی اسلامی قوانین کولی شی چی ټول مشکلات حل کړی په دی ورځو کی دکابل رژیم لوړ رتبه مامورینو دمجاهدینو سره خپل ارتباطات ټینګ کړی زه ویلی شم چی ډیر ژر به انشاالله دمجاهدو تنظیمونو له خوا دوسله وال قیام په نتیجه کی دکابل رژیم نسکور شی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب تاسی وویل چی په نږدی راتلونکی کی به دکابل رژیم دیوه وسله وال قیام په نتیجه کی رانسکور شی نو که له مجاهدینو سره دررژیم دنسکورولو په صورت کی یو یو واحد قیادت او واحده اداره موجوده نه وی نو دملت اداره او امنیت به وساتلی شی ؟

ځواب : مجاهدین خپله اداره دی کله چی په افغانستان کی کفر راغی نو ټول مسلمانان په یوه غږ اویوه اسلام عقیده راپورته شول او جهاد یی پیل کړ چی دغه اسلامی عقیده خپله اداره ده اوس هم که دمشرانو تر منځ کوم اختلافات وی وی به ولی مجاهدین ټول په خپلو منځونو کی متحد دی نو کله چی په کابل کی داسلامی تنظیمونو اویا یو اسلامی تنظیم مجاهدین قدرت تر لاسه کړی نورو ته به وایی چی راځی اوس په ګډه کښینو او اسلامی شریعت جاری او اهل کارو ته کار وسپارو دا دهر تنظیم دمجاهدینو غوښتنه ده بیا هم که کوم مشر په بل فکر وی وی به خو له قوماندانانو سره دافکر نه شته او امنیت دقوماندانانو په وسیله منځ ته راځی چی زه یی ښه مثال خوست ښودلی شم دا اوس ټول مجاهدین په شریکه هر مجرم ته سزا ورکوی او ټول اجتماعی کارونه په ښه نظم روان دی په ټولو ازادو شوو سیمو کی دشپی او ورځی کاروانونه روان دی څوك دغلا او چورچپاول جرئت نه شی کولی ولی موږ ګورو چی زموږ په ګاونډیو ملکونو په رڼا ورځ غلا کیږی خلك وژل کیږی او داسی نور .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب تاسی دیوه دینی عالم او جهادی قوماندان په صفت په اوسنیو حساسو شرایطو کی جهادی زعامتونو او ملت ته څه پیغام لری ؟

ځواب : له سلام وړاندی کولو وروسته مجاهدینو ته زما پیغام دادی چی موږ دمحمد (ص) اخری پیغمبر ع امت یو دهغی اخلاق او عادات باید په ځان کی ثابت کړو او دهغه په نقش قدم روان شو ځکه موږ چی جهاد پیل کړی دپیغمبر صلی الله علیه وسلم په نقش قدم مو پیل کړی او په لومړی وخت کی مو په تش لاس ډیر بریالیتوبونه ترلاسه کړی او اوس چی موږ په هر لحاظ ډیر امکانات لرو پکار داده چی سره متحد واوسو او جهاد ته ادامه ورکړو ځکه پیغمبر(ص) فرمایی کوم خلك چی جهاد پریږدی پر هغوی به ذلت راځی نو مجاهدینو ته پکار دی چی دتکلیفونو سره سره هم خپل جهاد ته دوام ورکړی او ددوی جهاد باید یوازی داعلا کلمة الله دپاره وی .

دمجاهدغږ راديو سهار اوماښام دوساعته خپرونې کوي

دمجاهد غږراديو دخپرونو دڅرنګوالي په باب کې رپوټ

سيدانوراغا دالحاج «حقاني» سره دخبرو په حال کي

دبندو دروازو تر شاناست خلك ، په وسپنيزو ديوالونوكى را ايسار شوي پرګني ، او دكور له چاپيرياله څخه نه وتونكى به هيڅ شى په هيڅ قيمت په داسى بڼه چى درادیو او مطبوعات كولى شي رهبرى نكړاى شى ، مطبوعات دى چى ذهنونه تسخيركوى او له همدى لارى پرګنى رهبرى كوى ، مطبوعات ، راديو او .... نن دسياست او سياسى مبارزى تر ټولو اهمه برخه ده ،پخپله همدا نن ، نن ددى شاهدان يوو چى غربى استعمار دخپلو مطبوعاتو او بى ،بى ،سى ، امريكا غږ،او ... راديوګانو له لارى څه وړ زمونږ زوريدلى او كړيدلى ملت ته دوول ، دوول شكونه خپلو مينځو كى بى اعتبارى ، اودمشرانو دغږنه اوريدلو په خاطر فضا خړه پړه كړى ، نن كه كلى په كلى ، كور په كور زمونږ مشران تبليغات وكړى او دزړه له تله پكى صادق هم وى دومره چاته دمنلو ندى لكه يوه خبره چى بى ،بى ،سى يا امريكاغږ وكړى . دمطبوعاتو ضرورت ټولو محسوس كړى خو يواځې دمسلمانانو توجو ورته په سفرهزب ده په ټولى نړى كى مسلمانان يو معتبر اژانس نلرى ، كه له دى ورتير شو چى موږ بدبختانه تر اوسه دجهاد په سطحه يوه ورځپانه نه لرو ديوى منظمى راديو نشرات ته هم زيات ضرورت لرو چى خوشبختانه ددى ضرورت درفع كولو په خاطر مولوى صاالحب جلال الدين حقانى د ١٣٦١هـ ش كال د(جوزا) مياشتى په ٣١ مه نيتيه د«ژوره» په تاريخى غونډ كى ديوى سيارى

اتمه برخه

کمونیزم یا دتکامل او انساني فطرت ضد ایډیا

عبدالوکیل

دپرو لتا ریا دیکتاتوری په نوم دکمونستانو بربریت :

کله چی کمونستان سیاسی قدرت غصب کړی نو ورسره سم دپرولتاریا دیکتاتوری وحشتونه په ډول ډول بڼو پیل شی . دغه دیکتاتوری دټولو ولسونو خصوصاً دهغو انسانانو پر سرد زهرجن او هلاك کوونکی مار په خیر راځوړند او عملی کیږی کوم چی له کمونستانو او ددوی دپلانونو سره مخالفت کوی او یا دهغوی پر ضد دمجادلی میدان ته راوتلی وی .

په دی دستمونو او وژنو تور او دوزخی پړاو کی (په واقعیت کی دکمونستانو دټولو دولتونو او حکومتونو او پړاونو ماهیت یوشان دی او یوازی دحکومتونو او دولتونو څیری تغیر او تفاوت پیداکوی)

دکمونستانو دصحرایی محکمی یا کمو نستی محکمی په نوم دبی گناه خلکو هغه پخپل سر وژنی او چارماری دی چی هر کمو نست ، هره کمونستی کمیټه او هره څو کسیزه کمونستی ډله یی په کلیو او بانډو ، ښارونو ، کوڅو او کورونو کی دکمونستی ایډیا ، کمونستی حکومت او دکمونیزم څخه ددفاع په نوم عملی کوی .

په دی برسیره دمحلی ، نژادی ، ژبی او شخصی تعصباتو په اساس بی شمیره وګړی له منځه وړی چی بالاخره اکثریت کمونستان دزیاتو بی گناه انسانانو دوژلو له امله دسادیزم په خطر ناکه ناروغی اخته کیږی او دکمونیزم تر سلطی لاندی ولسونه په دردوونکی بی امنیتی او غیر انسانی فضا کی شپی او ورځی تیروی .

په عمومی ډول سره کمونستان خپل مخالفین او دخصوصی سرمایی لرونکی اشخاص په فیزیکی ډول سره له منځه وړی .

ډیره جالبه یی داهم ده چی دکمونستانو دپرولتاریا دیکتاتوری په نوم وحشتونو ، مرگ او ژوبلی څخه پخپله کمونستان هم انکار نه کوی او دخپلی ایډیا او کړن لاری مهمه برخه یی بولی . په دی ډول سره نه یوازی داچی ټولنه په اقتصادی ، سیاسی ، ایډیالوژیکی او فرهنگی لحاظ دنه جبران کیدونکو پرابلمونو او ورانیو سره مخامخ کوی بلکی په فزیکی ډول

سره دپوهانو او دکار بشری قوی په له منځه وړلو سره انسانی ټولنه دبدبختیو او رنځونو خواته ورټیل وهی .

کمونستان دسیاسی اقتدار ترلاسه کولو سره سم په ټوله دولتی دستگاه کی دخپلی خوښی یو مخیزبدلون رامنځ ته کوی تر دی چی دمتخصصینو ، استاذانو او لویو لویو پوهانو دندی هغو بی سواده او ناپوهو انسانانو ته سپاری چی یوازی دکمونستی دولت او دهغه له تگ لاری څخه ملاتړ وکړی او دبشری ټولنی په تاریخ کی هیڅکله په دی پیمانه لکه دکمونستانو په حکومتونو کی چی نااهله او نالایقو انسانانو ته ددولت او ټولنی مهم او لوی کارونه سپارل کیږی نه دی لیدل شوی .

دکمونستانو دخوښی سره سم په ټولنه کی ددوی دخوښی تغیراتو په منظور هر کمونستی فرمان بی له قید او شرط څخه عملی کیږی او هر ډول مخالفین یی په سزا محکومیږی . دکمونستانو پرولتاریا دیکتاتوری پړاو په دی اړوند چی دغه مرحله دکمونستانو لپاره بهترینه دموکراسی او دکمونستانو مخالفینو لپاره سخترینه دیکتاتوری او جبر دی نه کمونستان کوم تردیدلری او نه دکمونیزم ضد قوتونه او اشخاص .

په دی معنی چی : کله چی کمونستان سیاسی قدرت په لاس کی ونیسی نو دټولنی ټول نعمتونه ددوی په واك او اختیا ر کی قرار نیسی .

کمونستان دهر هیواد سیاسی قدرت دځان حق بولی او دتل لپاره پر ولسونو حاکمیت او زور چلونه دعدالت او دموکراسی بهترینه نمونه گڼی کله چی کمونستانو سیاسی اقتدار ترلاسه کړی نو مشرانو یی دهغه هیواد په تر ټولو ښو بنگلو کی ژوند اختیار کړی او دعیاشی او استبداد په اړوند دعیاشترینو ، ظالم ترینو او وحشی ترینو قدرت مندانو څخه مخکی شویدی .

دروسی کمونستانو (بلشویکانو) مشر «لینن» ، دچینایی کمونستانو مشر «ماؤ» ، دیوگوسلاویا کمونستانو مشر «تیتو» ، دالبانیاکمونستانو مشر « انورخواجه » دویتنام کمونستانو مشر «هوچیمن»...کله چی دبی گناه وگړو په بي دریغه وژنوسره يي سیاسي قدرت غصب کړي نوپه مطلق ډول سره یی دژوندتر پایه پوری دسیاسی اقتدار په راس کی قرارنیولی او جابرترین دعقدو څخه ډك او مطلق العنان ترین قدرتمندان ددوی په تناسب عادل او انسان دوست ښکاره شوی دی .

په ۱۳۵۷هـ ش کال کی کله چی دافغانستان سیاسی قدرت دافغانی کمونستانو یا وطن پلورونکو منگلوته ورغی نو دجنایاتو او دافغانستان مسلمان ولس دشهیدولو بهیر پیل شو .

د«تره کی »او «امین » په وخت کی هر علاقدار ، ولسوال او والی او هر خلقی او پرچمی افسر او عسکر دافغانستان دمسلمانانو اوبی گناه خلکو دوژلو صلاحیت درلود په دی ترتیب سره یی بی شمیره مسلمانان او افغانان شهیدان او تر خاورو لاندی کړل . ددوی دهری ورځی دوحشتونو دردوونکی ریښتینو او واقعی افسانو څخه په زرگونو کتابونه جوړیږی خو کله چی روسانو کارمل دناوکی په څیر پر روسی ټانك سپور افغانستان ته داخل کړ نو بیا هر روسی عسکر داصلاحیت درلود چی هر مسلمان او بی گناه افغان شهید او ووژنی .

همدا اوس چی دروسانو په ډراماتیکه لوبه کی دکارمل ځای نجیب ته خوشی شو دروسانو په واسطه سره دجوړ شوی کمونستی قانون په اړوند دهر زون امر داصلاحیت لری چي پخپل امر سره بدون له محاکمی څخه دافغانستان مسلمانان شهیدان او چارماری کړی او دکمونیزم وحشت دلکونو نوم ورکو شهیدانو په پاکووینو باندی داسلامی او افغانی خاوری دغرونو او رغونو کاڼی او بوټی رنگ کړل.

دتره کی څخه رانیولی بیا تر نجیبه پوری داخوددوی په اصطلاح لادموکراتیك پراو ؤ هغه چی خصوصی مالکیت به جواز لری اودپرولتاریا دیکتاتوری زور او جبر نه دی پیل شوی یا په بل عبارت په افغانستان کی کمونستان (خلقیان او پرچمیان) خپلو جنایاتو ، انسان وژنی او استبداد ته دموکراسی وایی هغه په اصطلاح دموکراسی چی په نتیجه کی یی تر شپاړس لکو زیات افغانی مجاهدین او مسلمانان داسلام او خپلی اسلامی خاوری دخپلواکی غوښتلو په تور شهیدان کړل په دی ډول سره زموږ مسلمان ولس او گران وطن افغانستان هم دکمونستی ځناورتوب ښکار او زموږ ټولنه یی په سلونو کاله شاته وغورځوله او په نړی کی یی دجنگ ، ویری ، بی اعتمادی او بی امنیتی فضا رامنځ ته کړه.

کمونست دولتونه :

دنړی کمو نست دولتونه دهغوی دکمونستو گوندونو په خوښه جوړ او ددوی له طرفه رهنمایی او کنترولیږی . دکمونست گوند او دولت په جوړ ښت ، سیاسی او اقتصادی تگ لارو او پلانونو کی نه یوازی داچی ولسونه په حقیقی توگه رول او برخه نلری بلکی دکمونست گوند او دولت ټول فرمانونه او پلانونه بی له قید او شرط څخه ددوی تر تسلط لاندی پرگنو باندی تحمیل او عملی کیږی.

پر دولتی مقامونو باندی داشخاصو مقرری او انتصاب په کمونست گوند پوری اړه لری او دکمونستانو لپاره په زړه پوری آمر او رئیس هغه شخص دی چی دکمونستی نظریی څخه ملاتړ وکړی او نور ټول هغه متخصصین ، دوکتوران ، انجنیران ، استاذان او پوهان چی دکمونست گوند غړیتوب نلری ، دارتجاعی روشنفکرانو په نوم یی یادوی او دډیر کوچنی آمریت اعتماد هم پری نکوی .

څرنگه چی تجربو وښودله چی په عمومی ډول سره کمونستو گوندونو ته اکثریت هغه دټولنیزو عقدو څخه ډکو اشخاصو مخه کړی چی علمی او تحصیلی سویی یی ټیټی دقدرت ، شهرت گټلو او اقتصاد دلاس ته راوړلو څخه مایوسه شوی دی نو دمادی اومعنوی شکستو دجبران په خاطر یی دکمونستو گوندونو غړیتوب حاصلول مناسبه اوپه زړه پوری لار بللی ده..

په دی ډول سره ددولتی چارو دښه سمون او ټولنی ته په گټه کړو وړو مخنیوی کوی او ټولنه په نه جبران کیدونکو سیاسی ، اقتصادی ، فرهنگی او ټولنیزو پرابلمونو اخته کوی .

که چیری دفریضی په ډول سره يي په نظرکي ونيسو چی په یوه کمونستی هیواد کی دولسی او ریښتینو آزادو انتخاباتو په نتیجه کی دټول ولس دخوښی دولت هم رامنځ ته شی په دی صورت کی بیا هم څرنگه چی دولتی چاری دکمونست گوند په دستور تر سره کیږی او په نړی کی دټولو کمونستو هیوادونو دولتونه دکمونستو گوندونو تر تسلط او ارادی لاندی فعالیت کوی نو ځکه کمونست دولتونه دآزاد فعالیت شرایط او امکانات نلری او کمونست گوندونه په هر وخت کی ددی صلاحیت لری چی دخپلی خوښی سره سم دولتی عالی رتبه او ټیټ رتبه مامورین دخپلووظیفو څخه لری او یا یی دخپلی خوښی پوستونو باندی وټاکی .

دکمونستانو تر تسلط لاندی ولسونه په دی اړوند دهر ډول صلاحیت څخه محروم دی او دکمونست گوند له کړو وړو او پلانونو سره مخالفت ورته دمرگ ، بندی کیدو او شاقه کارونو ته دسوق کیدو په قیمت تماميږی.

په روس کی د ۱۹۸۵ م کال پوری دلوړ رتبه گوندی او یا دولتی

کمونستانو په اړوند فکاهی (لطیفه) ویل دځلورو کالوبند (حبس) جزاء درلوده او په مجموع کی دکمونیزم او یا دکمونست گوند پر ضد سیاسی ، ایدیالوژیکی او نظامی فعالیت کولو جزا شدت تر اعدام پوری رسیده .

کمونستانو په هغو هیوادونو کی چی کمونستی گوندونو سیاسی قدرت غصب کړی دپټهو پولیسو (استخباراتو) خطرناکی دستگاوی جوړی کړی او دغو دوزخی دستگاؤ ته یی هغه ازمایل شوی کمونستان گمارلی چی په انسان وژنه ، پستی ، زرنگی او شیطانی کی له نورو وړاندی او غښتلی دی دوی هیڅ ډول بشری معیارونوته اعتنا نه کول اما خپل شوم اهداف ترلاسه کول افتخاربولی او دوخت په تیریدو سره یی کمونست گوندونه او دولتونه پخپله قبضه کی ونیول او دکمونستو گوندونو او دولتونو کورنی او بهرنی سیاست ددغو نړیه ته اوړ اچوونکو دستگاو له خوا تعین او کنترولیږی .

دکمونستی استخباراتی دستگاو له لاری دولسونو او ملتونو دښکیلاك اوزبیښاك ، انسان وژنی او زوروونی خطر په نړۍ کی خورا زیات دی .

دغه استخباراتی دستگاوی زیات شمیر بی موره او بی پلاره (حرامی) اطفال دوړکتوب څخه

> کمونستان دسیاسي اقتدار ترلاسه کولو سره سم په ټوله دولتي دستگاه کي دخپلي خوښي یو مخیز تغیرات رامنځ ته کوي تر دي چي دمتخصصینو ،استاذانو اولوړولویو پوهانو دندي هغو بیسواده او ناپوهه انسانانو ته سپاري چي یوازي د کمونستي دولت څخه ملاتړ کوي .

دانسانیت او خپلواکی ضد ښوونی او روزنی لاندی نیسی چی په واقعیت کی هغو کمپیوتری یا مصنوعی انسانانو ته ورته انسانما داړونکی تری جوړ وی چی دکمونستانو انسانی ضد دستوروونه او پلانونه بی له کموالی او زیاتوالی څخه تر سره کوی .

دکمونستی استخباراتو له جملی څخه یو هم روسی استخبارات (کی جی بی) وو چی دښکیلاك ، زبیښاك او شیطانی اورلمبویی دنړۍ دنورو ولسونو او ملتونو په څیر زموږ دننگونو او غیرتونو کورافغانستان دتمدن او خپلواکی گلونه هم مړاوی او ورژول .

پر سیاسی فعالیتونو باندی

بندیزونه :

په کمونستی هیوادونو کی کمونستو گوندونو پر ولسونو باندی ددایمی حاکمیت کولو پخاطر دټولنیزو سازمانونو او صنفی اتحادیو په نوم دکمونستو گوندونو امر لاندی دټولنی مختلف قشرونه خپلی همکاری ته مجبور کړی دی او هیڅ یو ټولنیزسازمان داستقلال او آزادی څخه برخمن نه دی .

دکمونستانو استخباراتی دستگاو ددغو سازمانونو (دځوانانو په نوم سازمانونه ، دښځو، مخکسانو ، صنفی اتحادیو ، بزگرانو . . .)له لاری هم په ټولنه کی استخباراتی چاری په مخ بیایی څرنگه چی کمونستان دټولو مادی او معنوی امتیازاتو څخه برخورداره اوددوی تر سلطی لاندی ولسونه تری محروم دی نو ځکه دولس او کمونست گوند تر منځ دتضادونو او تبعیض پنډ دیوالونه جوړ شویدی .

که چیری یو جنایی مجرم کمونست وی نو دهغه دسابقی په نظر کی نیولو سره دجزا په شدت کی دیوه غیر کمونست شخص په تناسب کموالی ته قایلیږی او دسیاسی بندیانو دژوند حالت دجنایی مجرمینو په پرتله خورا خراب او په دردوونکو شرایطو کی ساتل کیږی دبیلگی په توگه په روس کی نومیالی فزیك پوه «سخاروف» په روسی کمونستی امپراتوری کی

دبشر دحقوقو دترپښولاندی کولو او په مستقیم ډول سره روسی نظامی قواؤپواسطه دافغانستان له اشغالولو سره دمخالفت په وجه شپږ کاله دسختو روحی او جسمی شکنجو په ورکولو سره بندی کړ . همدارنګه په کمونستی هیوادونو کی په زرګونو بشر دوستان ، سیا ستمداران اوپوهان دبستیلونو په تورو سلولونوکی ددردوونکو شرایطو او ډول ډول روحی او جسمی فشارونو لاندی دکمونیزم زهر لرونکی ښامار څخه دولسونو او ملتونو دنجات په هیله شپی سبا کوی . په دی ډول سره په کمونستی هیوادونو کی دبشردوستی ، پوهی او عدالت ډیوی یوه په بله پسی مړی او ددغو هیوادونو ولسونه دنه جبران کیدونکو خطرونو او زیانونو سره مخامخ کوی .

په کمونستی هیوادونو کی پر ولسونو باندی دکمونستو ګوندونو تسلط هغه مصیبت دی چی دغه ټولنی یی په سختو او شدیدو دیکتاتوریو کی راګیر کړی دی دبیلګی په توګه دروس په خونړی کمونستی امپراتوری کی په اصطلاح عالی شوراپه نوم عالی دولتی ارګان چی په واقعیت کی یی یوازی تشریفاتی بڼه درلوده ددولت او ټولنی په اړونده کړو وړوکی بی له دی چی دکمونست ګوند دستورونه او امرونه عملی کړی بل هیڅ ډول مستقل رول نه درلوداوپه قانوني لحاظ يي کمونست ګوندته دا اختیارات ورکړی وو چی ددولت او ټولنی په راس کی واوسی .

د۱۹۸۳م کال په اوایلو کی په روس کی دعالی شورا لپاره په علنی ډول سره په اصطلاح انتخابات وشول ددغو انتخاباتو شیوه داسی وه :

دکمونست ګوند او دولت له طرفه به هری دولتی موسسی ته یوازی یو کاندید تعین او معرفی کیده ، داړونده موسسی دامر لخوا به دکاندید صفتونه دموسسی راټولو شویو کارمندانو ته ذکر شول بیابه یی اعلان وکړ چی هر څوك چی دده له انتخابیدوسره موافقه لری لاسونه دی پورته کړی په نتیجه کی به ټولو را ټولو شویو کسانو لاسونه پورته کړل او نوموړی کاندید به نورنو درایو ورکوونکو دقانونی نماینده په بڼه دعالی شورا په غونډوکی اشتراك کاوه . په ذکر شوی تاریخ په ټوله روسی کمونستی امپراتوری کی (هغه چی مستقیماً دروس په خاوره پوری تړل شویدی) یوازی یوه نفر هم داجرأت ونکړای شو چی کوم کاندیدته مخالفه رایه ورکړی ، داهغه معمول کار دی چی د۱۹۱۷م کال څخه نیولی بیا د ۱۹۸۵م کال پوری په ټوله روسی کمونستی امپراتوری کی یو نفر هم ددی جرأت ونکړای شو چی دعالی شورا په نوم دکمونست ګوند کاندیدانو ته مخالفه رایه ورکړی (په ۱۹۸۵ م کال کی صرف دوه نفره په دی خاطر چی ګنی رښتینی دموکراسی پیل شوی ده «ګرباچف »ته چی دعالی شورادرئیس په حیث کاندید شوی ؤ مخالفو رایو ته وهڅول شول او هغه ته یی مخالفی رایی ورکړی)او دا دلیل ته اړتیا نلری چی په نړۍ کی داسی هیوادنشته چی دهغه هیواد ټول اوسیدونکی دیوه نفرسره موافق نظر ولری او دهر سلیم عقل لرونکی انسان چی دروس او نړۍ کمونستی ګوندونو او دولتونو له سیاست څخه څه ناڅه خبر تیاولری دی ټکی ته سخت عقیدمن کیږی چی دکمونستی هیوادونو ولسونه دکمونستانو او کمونستو ګوندونو څخه بی حده او زیات نفرت لری . دغو ولسونو دا حقیقت درك کړی چی دټولو هغو بدبختیو اصلی عامل چی دوی یی ورسره لاس په ګریوان کړی له کمونستانو او دکمونستی اقتصادی ، سیاسی او ټولنیز سستم څخه سرچینه اخلي .

دپکتیا تاریخي معرکې:

دهاشم خیلو په دره کې دقواله مینځه تلل

عوض الدین «صدیقی»

د۱۳۵۷هـ ش کال دِکب میاشتی په ورستیو ورځو کی(دگل زرك ځدران دپکتیا دجهاد په غلبلو کی کتاب دوهم ټوك کی داپیښه د۱۳۵۸ هـ ش کال دوری میاشتی په دوهم تاریخ ښودل شوی)

دولسوالی ښخه د ځاځیوټولو قومونو او کلیو ته خبر ولیږل شو چی سبا به ولسوالی کی دثور انقلاب ؟! په ویاړجوړی شوی غونډی کی برخه اخلی دټولو قامونو او کلیو خلکو په داسی حال کی چی هر قام سره دیو دو کلیو پرته چی ورسره سور بیرغ و او خلقی نشان پری ؤ) خپل بیرغ و په نه زړه غونډی کی برخه واخیسته دچونهی شااوخوا کی چی ولسوالی هم پکی موقیعت درلود سره بیرغونه اوشعارونه ځوړند شوی و ، هر قام په خپل بیرغ سره دغونډی ځای ته راته ، اودیا چاریار او الله اکبر ناری به یی وهلی ، دحسن خیلو ، هاشم خیلو سکندر خیلو او احمد خیلو قامونو خلك چی چونهی ته رانږدی شولا و سترگی شااو خوا پر سرو بیرغونو ولگیدی لنگی یی ږنگی کړی دشعارونو په ډول یی ونیوی او دغونډی ځای ته راغلل ، غونډه جوړه شوه په سرکی حکومت دغونډی پر برخوالو دنفوس شمیرنی پانی چی دداودخان په وخت کی ترتیب شوی وی وویشلی او په ډیر عجزیې ورته وویل:یواځی دکورنی شمیر پکی ولیکی دچانومونه مه لیکی خلکو پانی لیدلی او خلقیانو دستیج پر سر شعارونه ورکول اود هورا نعری یی وهلی یوه خلقی وویل : ولی موسره بیرغونه نه راوړل وریسی جوخت کله چی یوه احساساتی خلقی دستیج له سره غږ کړ : موږ به تاسو ته کور ، ډوډی اوکالی درکړو ، دحسن خیلو قام له مینځ ښخه چاورغږ کړ ته ښوك یی چی موږ ته کور ، ډوډی ، کالی راکوی خدای یی موږ ته راکوی په دی خبری سره دخلکو په مینځ کی گزمزی شو ټولو دنفوس شمیری پانی ښیری کړی ، گډوډی زیاته شوه او خلك همداسی پر ستیج ورغلل ستیج یی دړی وری کړ سره بیرغونه اوشعارونه یی ښیری کړل په دی ترځ کی یی دلیونیو

دقام بیرغ چې له پخوا سور و هم
ځیری کړ یوه خلقي صاحب
منصب امنیتي پوستې ته داور
امر ورکړ پوځیان هوایی ډزی
وکړی غونډه رنګه شوه او
حکومت دحسن خیلو هاشم
خیلو ، سکندر خیلو او احمد
خیلو ځنی مشران ونیول او
بندیان یې کړل .

په همدی ورځ له چوڼی څخه
ګردیز ته ددی پیښې احوال
ولیږه شو په سبا یې له ګردیز
څخه دچوڼې په لور یوی قوا
حرکت راوکړ قطار چې چوڼی ته
راورسید په دی ځای کې ترتم
کیدو وروسته بیرته دهاشم خیلو
ددری پر لوری روان شو ،په
قطار کې توپ ، دمهماتو بار
موټراو ټانکونه چې په سپکو او
درنو وسلو سمبال و شامل و
دقطار په سرکې یوه ټانك باندی
یو لوډسپیکر او ځوان سنکاریده
قطار چې سپین جومات (هاشم
خیلو ددری دروکیانو کلي یو
سنایسته جومات دی چې په
سپین جومات مشهوردی) ته
راورسید ودرید ، دقطار په
سرکی ټانك باندی سپور ځوان
دلوډ سپیکر له لاری خلك سپین
جومات ته راوغوښتل کله چې
خلك ورته راحاضرنشول
دلوډسپیکر له لاری څه ناروا
اوسپوری ستغی خبری وکړی ،
دده ددی خبرو په ځواب کې
دجومات ملا امام مولوی
درمحمد دجومات دلوډسپیکر له
لاری له خلکوغوښتل چې پری
راودانګی ، پخپله هم له جومات
څخه ووت او ځان یې غره ته
ورساوه ، پوځیانو پر کلیو ډزی
وکړی او سخته جګړه ونښته ،
خلکو تبرونه ، چړه یز ، غوګور
او برناو ټوپك په لاس پر دښمن
وروډانګل ، په څوشیبو کی یې
زیات شمیر وطن پلورنکی
کمونستان دتوروخاورو میلمانه
کړل ، له بلی خوا دشوخیلو
ځوانان پری رامات شول په
څودقیقو کی یې ټوله قوا دړی
وړی کړه او یو ټانك چې هماغه
دسپور ستغوویونکی ځوان پری
سپور و چوڼی ته په تیښته
خلاص شو .

په دی جګړه کی دسیمی خلکو
څلور ټانکونه او زیات شمیر
توپونه درندی او سپکی وسلی
او مهمات په غنیمت ونیول او
ددښمن (۸۰) تنه ووژل شول .

دسیمی له خلکو څخه جنت ګل
شهید او څو تنه ټپیان شول
تردی وروسته دقام او حکومت
ترمنځ مرکی وشوی او تر زیاتو
خبرو اترو وروسته دنیول شوو
وسلو په بدل کی دقام سپین
ږیری خوشی کړای شول.

شعر او ادب

جهادي ادب

دشمعو کرونده

پیرمحمد «کاروان»

تنده د دیدن مي په لیمو لیمو کي ونغاړه
راشه دا دژوند ماښام په دوو ډیوو کي ونغاړه
سوي کرونده به بیا راشین دشمعوفصل کړي
روح دپتنګانو په لمدو ایرو کي ونغاړه
غوټۍ زړګي مي وګنډه سرخي ستادښکلایمه
پټ مي دموسکا غوندي په سرو بارخو کي ونغاړه
ښکلي پسرلي راته اشنا په جرګه راوله
ماخزان ځپلي په تنکو غوټو کي ونغاړه
راشه د ،ارم دښاپیرو قاصده یو یي ښه
غوټه دشوګیرمي په پستو وربمو کي ونغاړه
وړه مي چي ساحل دپیغلتوب په غیږ کي ونیسم
عشقه دریابي ما په یاغي څپو کي ونغاړه
بیا د رابعي په وینو سرو غنچو ته کړي سلام.
دا منجاور خیال مي دسخي جنډو کي ونغاړه
ستا کاروان ، دوینو په زعفرانو غزل ولیکه
دا تاویز دمیني په ځوندو ځونډو کي ونغاړه

دیووالي ناره

عبدالقادر «عابد»

که وحدت په افغانانو کي پیدا شي
هغه وخت به خلاص له غم اوله بلاشي
وحدت راز دکامیابي دي که پو هیږي
راشي پوشي چي دښمن راته راسواشي
انانیت اوځانځاني نه دده وکړي
معتصم ټول په رسي دیوالله شي
که نفاق او افتراق ته مخه ورکړي
ددښمن مقابله کي به تنها شي
نه به پت نه به عزت نه به قوت وي
که خپل منځ کي یو له بل ځني جداشي
داجهاد پیل شوي وروڼو څه لپاره
دخپل نفس سره هر یو لږشان ګویاشي
راشي راشي په نفاق کي څه خیر نشته
متحد شي چي پوره مو تمناشي
شي یو موټي یو قوت په هر سنګر کي
ګران هیواد کي چي رپانده مولو ا شي
«عابد » تل قلم په لاس داسي ګویا دي
اتحاد سره مغلوبه به «وارسا» شي

لنډه کیسه

مېړه

لیکوال :ستار طاهر

ژباړن : عوض الدین «صدیقی»

د«قومي ډایجسټ» دافغانستان
دجهاد په اړه یوځانګړې ګڼې کې
څولنډې کیسې خپرې شوې موږ
دموضوع دجالبیت او اهموالي او
هم دافغانستان جهاد په باب
دپاکستان لیکوال دتاثر په خاطر
دهغو له جملې یوه کیسه راژباړلې
چې سره لولو یې

اداره

چاودنه ، درزا ، چیغې ، سلګې او
بیرته چوپتیا .... دمرګ نغمه
....ګل خان ددوړوله مینځ نه
راووت ، څو دقیقې وړاندې دلته
یوه کوټه وه خو اوس هلته هیڅ
نشته ، ړنګ بنګ دیوالونه ،
تیوتې ، تیوتې لرګي ، کندل شوې
ځمکه او دوړې چې دهوا په لور
پورته کیدې ،په چوپتیا او تیاره
کې دګل خان پر شونډو موسکاوه
شاوخوا تیاري باندې نظر واچاوه ،
په تیاره کې چې ترکومه نظر
کاروکړ څه یې ونه لیدل یواځې و ،
په خپل واك کې ، بې ویرې اوازاد
، هغه دزنځیر یوه کړۍ ماته کړه
دځمکې دابرخه ازاده شوه اوس
دلته دروسانو یوه بله پوسته له
مینځه لاړه یوه عجیبه ارامتیا او
خوشحالي دهغه په زړه کې په
موجونو وه ، دوه ساعته مخکې
چې هغه کله دې سیمې ته
راورسید په هغه وخت کې یې هم
زړه کې ویره نه وه خو یوه عجیبه
وارخطایي او ناارامتیایې حس
کوله چې کله به هم هغه ددښمن پر
ضد کوم عملیاتو ته ته ، ددښمن
پر ضد ګام اخیستلو څخه دمخه به
ناارامه و په سر کې دې ناارامتیا
باندې نه پوهیده له ځان سره به یې
وویل :
«ګل خانه» لکه چې ویریږې ؟
خوزړه کې یې ویرې ځای نه درلود
فکر به یې کاوه چې «ولې ناارامه
یم ؟» خو اوس په دې نارامۍ
پوهیدلی و چې داناارامتیا ، او
وارخطایي دهیلې دسرته رسولو

دمخه حالت وی ، هغه نه غوښتل دناکامی مخ وګوری ، هغه ځان دیو ابر ځواك پر ضد جنګیدونکی باله ، هیڅ نه ویریده هغه به دی ناارامی ځوراوه چی خپلی برنامی کی بریالی شی ، او س بیخی مطمین و ، هغه دامهمه او خطرناکه فریضه سرته ورسوله ، په دی لسو ورځو کی ددښمن دیارلس پوستی له مینځه وری وی او یواځی دری پوستی پاتی وی ، نن یی فیصله کړی وه چی ددی دری پوستو په فتحه کولو سره به داسیمه ددښمن څخه ازادوی ، دری پوستو دفتحه کولو په صورت کی به سیمه ازاده شی او دمجاهدینو تر کنترول لاندی به راشی .

ګل خان دپوستی له مینځه ووت سخت ستړی و ، هغه په دی سیمی کی بلد و ، له هر کونج څخه یی خبر و ، له هر کور اوتیری سره اشناو ددی پوستی سره نږدی یی کلی و قوماندان کله چی دادنده ورسپارله ورته وی ویل :

ګل خانه ! دکور یاد دیرظالم وی ،زه پوهیږم چی ته کله دی سیمی ته رسیږی ګام په ګام دی زړه کی داهیله پیدا کیږی چی کلی ته لاړشی ، ته کلی ته تللی شی خو په یوه شرط ... سرکی ته خپل فرض سرته ورسوه ورو سته بیا خپل کلی ته لاړشه او دلمر څرك دمخه به له کلی راوځی .

ګل خان ورته په خندا شو اووی ویل :

ترڅو چی ماخپله وظیفه سرته نه وی رسولی کلی دتلو خیال می سرکی نه ګرځی .

***

ګل خان بیا څلور خواوی ولیدی ، توره شپه وه یوه نیم ستوری په آسمان کی ځلیده ، ناڅاپی پر ځمکی کیناست ، هغه داسی محسوسه کړه لکه ځکمه چی غږورته کوی عجیب او اسرار لرونکی غږ ، ورته وایی :

زما زویه زما مجاهده .... زما غازیه تا دمور دغزت ساتلو په خاطر سږ ونکړ، زه پر تاویاړم ، دکومی مور زوی چی دومره غیرت مند ، زړور او اتل وی هغه مور به هیڅکله دچامری نشی »

دګل خان سترګی ډمجنی شوی هغه بیا وروځان سره وویل :

موری ... باعظمته موری ... زه ستا زوی یم .... ایاته کله خپه شوی یی ؟ ...نه موری ... ته پوهیږی ماکله هم چاته اجازه نه ده ورکړی چی ستا پر سپیځلی ټتر ګام کیږدی ، ته به تل ازاده وی ...ازاده به وی ...

ګل خان په چټکی سره مخکی لاړ څو دقیقی وراندی دلته پوسته وه اواوس رنګه بنګه سیمه وه ، هغه له تختی درب تیر کړ ، تخته ماته شوه ، دلږځند وروسته یی تختی له لاندی څخه دری ماشینګنی راواخیستی ، پنځلس ، شل دقیقی وروسته ددونوروپه راخیستو هم کامیاب شو هغه پنځه واړه ماشینګنی راواخیستی او دګنو ونو خواته روان شو دونو لاندی یو څادر پروت و ، په هغه کی زیات شیان پراته ؤپنځه ماشینګنی هم پکی کیښودی ، څادر یی په ولو کیښود او روان شو .

ګل خان دآسمان خواته ولیدل لږ ودرید او بیرته روان شو اوس هغه دخپل کلی خواته روان و ،

دلمر راختوته لږ وخت پاتی و، ګل خان فکر وکړ چی که تیز لاړشم نیم ساعت کی کور ته رسیږم په کور کی دنیم ساعت تر تیرولو وروسته دلمر تړراختلو به دمخه له کلی ووځم او دهرات خواته تللی سرك پوری غاړی مرکز ته به ځان ورسوم ، هغه څوڅو ځلی فاصله او دوخت اندازه ذهن کی ګردان کړه یقین یی درلوده چی هغه به خپل وخت باندی مرکز ته ورسیږی .

ګامونه یی په خپله تیزشول ، ځان یی ډیر په بیړه کی احساساوه ، فکر یی له ګامونو هم تیز و څیری یی سترګو ته ودریدی دنوری ...

زینب او مور څیره .... هغه ورځ یی په یادراغله کله چی دمجاهدینو سره دیو ځای کیدو په خاطر له کور ووت ، یو کال دوه میاشتی او لس ورځی وړاندی دی له خپل کور څخه ووت هغه به یوه یوه ورځ یادوله ، یو کال دوه میاشتی او لس ورځی یی نه نوری ولیده نه یی زینب ولیده او نه مور ... دهغوی دحال پته هم ورته ونه لگیده دلیك خو بیخی پوښتنه نه پیدا کیږی ، یوه ، یوه لحظه یی سترگوته ودریده ، داټولی ورځی یو تصویروگرځید او دده دسترگو په وړاندی تیریده هغه دالحظی څوځو ځلی خپل فکر کی تکرار ولی کوم لحظه به یی چی وغوښتل ذهن کی به یی ودروله او کتله به یی ، خو دالحظه چی دی یوکال دوه میاشتی او لس ورځی وروسته کلی ته تلو دمخکینیو یادونو څخه هم ورته ښه وه ... مور یی مخی ته ودریږی ... پر څیری یی رڼایی ، سترگو کی ځلا او شونډو باندی خندا خوره شی » هغه ورته وویل « موری ! زه ځم » بیا خپلی سپین سری مور خواته وگوری هغه فکر کوی چی مور به خپه وگوری ، سترگو کی به یی اوښکی راشی خو هغه هم ورته په خندا شی ، فکر وکړی که مور خپه نشوه خو دخندا وخت خو هم نه دی مور بیا ولی وخندل ... مور خو مابا ندی کله هم توکی نه دی کړی .... مور خوبه په دی طنز امیزه خندا سره زما دارادی په وړاندی دخند کیدلو فکر نه وی کړی ...

دزینبی شریری سترگی یی مخی ته ودریدی دمور غږ یی فکر بیرته راوگرځاوه : گل خانه !

ته لاړ شه زه ستا مخه نه نیسم خو ماسره یوه وعده وکړه ... گل خان ورته وویل : څنگه وعده ؟

یوه وعده گل خانه ! چی په شا به گولی نه خوری .....

دمور غږ یی ورته یو درس و،یو نصیحت و دغیرت جرئت و دخپلی مور خواته یی ولیدل ، دزیاتی جذبی نه یی په وجود کی لړزه پیدا شوه مور ورته وویل:

تاهغه سندره اوریدلی کنه ... ددښمن سر دتل لپاره زوړندښه دی ... دهغه سرپری کړی دگل خان توله سندره په یاد شوه ، دادپیړیو پخوانی سندره ، چی ده په وړکتوب کی اوریدلی وه ورته وی ویل ! هو موری اما داسندره زده ده ».

ناڅاپی گل خان محسوسه کړه چی مور یی خپه غوندی شوه په څیره کی یی دخپگان نښی ځرگندی شوی خو په سترگو کی هماغه ځلاوه دځان سره وگریده :

دهیواددښمن .... دهیواد ددښمن سر پری کړه ....

هغه صحنه هم دگل خان سترگوته ودریده چی مور په ولو کی ونیوه ، غیږی ته یی رانږدی کړ او ده په ماته گوډه ژبه ورته وویل : زه به هیواد له دښمنانو پاك کړم ... زه به سینی باندی گولی وخورم ....

» بیایی بله صحنه سترگو ته ودریده هغه ولیدل چی میرمن یی زینب ددروازی تر څنگ دریدلی دمور او زوی په لیدو سره خاندی .... مور چی خپله نږور ولیده ورته وی ویل :

دتگ وخت دی رارسیدلی دزینبی سره هم خبری وکړه ... بیا هغه له کوټی راووت ، زینب چی چیرته دریدلی وه همالته یی دریدلی ولیده گل خان بله خبره ونکړه هغه څو ورځی وړاندی زینبی ته دتگ څخه ویلی و تر ټولو دمخه زینب خبره کړی و ه ، هغه ورته ویلی و: زه بی غیرته نه یم ... هغوی زموږ مذهب له منځه وړی ، که موږ دهغوی مقابله ونکړو دتل لپاره به مریان شو ... ایا ته غواړی دیوه بی غیرته میرمنی په څیر ژوند وکړی »

زینبی ورته وویل : زه بی غیرته نه یم ، ماته می پلار داډرس راکړی چی خپلو زامنو ته دغیرت درس ورکړی زه نه غواړم چی یوه بی غیرته میرمن وگرځم ته دالله

(ج) په لار کی جنګیږی زه به
درته دعا کوم او ستا انتظار .... »

***

ګل خان همداسی روان و ، فاصله یی لنډیده هغه ددی سیمی له هری لاری او تیری څخه خبر و چی سترګی به یی پټی کړی کور کی به و هغه ټولی صحنی چی دراتګ په وخت یی لیدلی وی دیو تصویر په بڼه له سترګو تیرولی ، ځنی صحنی ډیری دردونکی وی ، ځینو به یی اوښکی په سترګو کی راماتی کړی ، فکر ته به یی راغلی چی کاش دوه کلنه نوری په غیږکی واخلی او پورته پورته یی وغورځوی ....

کله به چی دروسانو مقابلی ته لاړ نوری به یی ډیره یادیده او دهغی یادبه یی فکر بلی خواته کړ ، کله به یی فکر کاوه : که زه مړشم .... بیابه دګل خان فکر باندی تیاره خوره شوه ،زړه به یی ولوید ، فکر به یی کاوه چی نوری به څه کوی ؟... هغه خو دومره وړه ده چی زما شکل یی هم په یادنه دی بیا به یی دځان سره ویل : لکه چی ډارن شوی » دهر څه اوریدلو ته به تیار و خو ډارن کلمه یی نشومنلی دهغه څخه یی دا خوښوله چی مړشی ....

په دی وخت کی یی چی کلی خواته تیز ګامونه اخیستل سترګوته به یی دنوری څیره ودریده .... دهغی سپین مخ ، سره غمبوری ، واړه واړه لاسونه ، وری پښیی ، اودوږو وږو خبرو به یی دفکر پرده وتخنوله .

دیوی دقیقی لپاره ګل خان ودرید ، لاره یی هم نه وه غلطه کړی په سمی لاری روان و او په هر ګام سره به یی کلی ته تللی لار لنډوله ، خو دنوری تصویر دیوی دقیقی لپاره ودراوه ، کله چی ماښام له کلی څخه دمجاهدینو سره دیوځای کیدو په خاطر روان شو په هماغه ساعت کی دمور او زینبی خواته ولیدل موراو میرمن یی وپوهیدل چی څه غواړی دځه په لټه کی دی زینبی ورو شانی ورته وویل : نوری ویده ده ، نن وختی ویده شوه مور ورته وویل : ګل خان په دی فکر کی وه چی باید له تګ څخه دمخه نوری سره مینه وکړم هغه غیږی ته راجوخته کړم ، هغه وخندوم خو نوری نن وخته ویده شوی » زینبی ورته وویل :
«زه به هغه راولم » مور ورته وویل : پریږده که پورته شی بیا تر ډیره وخته ژاړی »

ګل خان هیڅ ونه ویل ، دهغی کوټی خواته روان شو چی دی ویده کیده هغه ولیدل چی په کوټه کی نوری دده په کټ ویده وه ، ویښته یی یوی بلی خواپراته دی پر شونډو یی خندا وه داسی لکه چی په خوب کی کوم ښه خوب لیدلی وی ، دګل خان زړه وغوښتل چی هغه راپورته کړی ، غیږی کی راواخلی او پورته پورته یی وغورځوی خو هغه دځو دقیقو لپاره نوری ته وکتل بیا یی ورو ورو وښوروله ، ویښته یی ورسم کړل موسکا لازیاتیده ، همدا ویده نوری به تل دده په خیالونو کی موجوده وه .

***

څه دتیښتګ څخه ، څه دیادونو دزیاتوالی څخه او څه هم دجذباتو شدت څخه دهغه زړه درزا زیاته شوه کلی ته رانږدی شوی و څلورو خواوته یی ولیدل ، پر سم لاری روان و وروشانی ځان سره وویل : یو ساعت وروسته به کلی ته ورسیږم » فکر یی وکړ که مور او زینبه می ناڅاپی وګوری څومره به خوشحاله شی . ځان سره مسك شو او دځان سره یی وویل : نوری به اوس هم ویده وی ، هغه به راجګه کړم ، اوس یی خوب ته نه پریږدم چی راجګه می کړه خبری او مینه به ورسره وکړم ....

اوږده ساه یی واخیسته ، فکر یی کاوه چی وخت می کم دی په کلی کی باید زیات پاتی نه شم خو که څومره پاتی شوم مورته به یی ووایم ستاګل خان یو تکړه مجاهد

دی حتماً به دځینو جنګونو کیسی مورته وکړم چی خو ځلی می په ځان لوبی وکړی او دښمن می له مینځه یوړ خو ځلی می ژوند دخطر سره مخامخ شو ، مورته به ووایم چی همدا اوس می یوه پوسته له مینځه یوړه او راغلم زه یو ریښتینی مجاهد یم ، مور ته به دکارمل دپوځ دظلمونو کیسی وکړم او ورته به ووایم چی مجاهدینو څه ډول دکارمل پوځیان اوروسان ووژل ، زیاته سیمه ازاده شوه اوس دمجاهدینو په کنترول کی ده او دکارمل او روسانو پوځ هلته ګام نشی اخیستی مورته به داهم ووایم چی انشاالله ډیرزر.... ډیرزر به هیواد دکارمل له حکومت څخه خلاص شی .

***

دکلی مخی ته دریدلی و دکلی واړه واړه کوروته یی ولیدل فکر یی کاوه چی اوس به ټول کلی پاڅی ، دده پښو اواز چی واوری ټول کلی به یی لیدو ته راشی ، کلی تیاری کی ډوب و ، ارامه ارامی وه دڅه شی غږنه اوریدل کیده .

دګل خان دزړه درزا زیاته شوه ، په پښو کی هم لړزه پیدا شوه سترګی غجنی شوی ، په خپل ږستونی یی سترګی پاکی کړی او بیرته یی تګ ګړندی کړ ، څو دقیقی وروسته کلی ته ورننوت دادده کلی و چیرته چی خاپوړی کړی وی چیرته چی لوی شوی و چیرته چی دپلار قبر و ،چیرته چی یی واده شوی و ، په دی ګلی کی زړوره او غیرت منه مور اوسیده ، په دی کلی کی دوستان و ټول یی خپل و ، په دی کلی کی دده دزړه قطره نوری ویده وه دځان سره یی وویل :

زه ورځم هغه به راویښه کړم ، مینه به ورسره وکړم ، زه چی خومره پاتی شوم تر اخره به نوری په غیږ کی ونیسم .

هغه یوی کوڅی ته ورننوت دکوڅی په سرکی دده کور و ، په غوږونو کی خوری ، خوری نغمی زمزمه شوی ، ځان یی زیات احساساتی محسوس کړ ، داوږدی مودی وروسته خپل کورته راته ، دومره زیات وخت یی هیڅ کله په بیدیا کی نه وتیر کړی دخپل ورکوتی کور دروازی مخی ته ودرید څو دقیقی ودرید دځان سره یی وویل اوس به دا دروازه خلاصه شی او بیا به .... دروازه یی وټکوله چوپتیا وه .....

تیاره وه ... کوم ځواب یی وانورید بیایی دروازه وټکوله بیا چوپتیا او تیاره .... دزړه درزا یی زیاته شوه ، یو عجیب درد یی سینه کی پیدا شو دریم ځل یی دروازه وټکوله ، دکور څخه دچا غږ واوریدل شو دځان سره یی وویل :

«خدایه ... مور خو به می ناروغه نه وی »... بیا یی دزینبی په فکر کی شو زینبه خو باید پاڅیدلی وی ، هغی باید دروازه خلاصه کړی وی ، هغه خو ډیره تکړه وه ، داسی خو کله هم نه وشوی چی هغه دمور خدمت څخه عاجزه شی ، دکور څخه ورو شانی غږ راغی «څوك یی ؟ »ده ځواب ورکړ : زه یم ګل خان ،ګل خان داسی فکر وکړ چی په تیاری کی ډوب کلی کی دده غږ چورلی زه یم ګل خان ، ګل خان ، دروازه ولی نه خلاصوی ؟ ، زه زیات وخت وروسته له لری ځای څخه راغلی یم ، زما وخت کم دی ، دروازه ولی نه خلاصوی .... دروازه خلاصه شوه ، ګل خان مخکی ولاړ خو مخی ته یی یو سیوری دریدلی و چی دروازه یی پوری کړه سیوری لارښنده کړه سیوری تری وپوښتل : ته څوك یی : دګل خان ځواب سخت و لاس یی ور اوږد کړ : موری .... موری.... زه یم ګل خان ... ستا زوی ....په سیوری کی حرکت پیدا شو په ورو خوله درده ډك غږ یی وویل :

زویه ته راغلی .... موراوزوی دواړه سره غاړه غړی شول ، دګل

خان له سترګو اوښکې وڅڅیدې ، دمور ضعیف وجود دهغه په غیږ کې ورك شو هغې په ورو غږ وویل ! ... ګل خانه ! زما زویه ... زما مجاهده زویه ... ته راغلې ... راغلې هو! موری زه راغلم ، راځه اوس دننه راځه زه زربیرته ځم وخت مې کم دی هغه مور سره لاس په لاس کوټې ته ننوت په کوم ځای کې چې ودریدل تیاره وه کوم څراغ نه و ، دمور له کټ سره دګل خان پښې ولګیدې ، موری کټ باندې کینوله ، په تیاری کې څوك پلټل ، په کوټې کې یو کټ پروت و ده ورته وویل : موری څراغ چیرته دی ؟ مور څو دقیقې ځواب ورنکړ ، په چپرکټ کې په ډډه واوښته ، ګل خان خپل څادر پر ځمکې کیښود ، بیایې جوب ته لاس کړ اواورلګید یې راوباسه ، په دې وخت کې دمور غږ واورید :

ګل خانه اڅراغ نشته ،...»

ده ورته وویل : څراغ نشته ته څه وایې ؟ تاسو په تیاره کې ویده کیدې ... څراغ مو نه بلاوه » مور چوپه وه ګل خان حیران شو ، دخپګان څپه پرې راغله ، مور ولې چوپ ده ، زینب چیرته ده ؟ نوری چیرته ویده ده ؟ هغه داسې زیات څه له ځان څخه وپوښتل مور ورته وویل

ګل خانه اکینه .... زما ترځنګ کینه ....» ده بیا ورته وویل : موری څراغ ... څراغ ... موری ورته وویل :

«څراغ نشته .... ګل خانه کینه »ګل خان وارخطا پر کټ دمور تر څنګ کیناست ، کټ وغړکید ، ګل خان حیران شو چې داڅه حال دی دمور پر ولو یې لاس کیښود ، موری ... مور یې ولړزیده بیایې زوی ورته وویل :

ووایه زویه اڅومره دښمنان دې مره کړل دڅومره پوځیانو سرونه دې پرې کړل ووایه چې پر شاه خو به نه وې لګیدلې ، ګل خان دمور لاسونه په لاسونو کې ونیول اووی ویل :

موری زه ستا زوی یم .... ستا شودې مې څکلې مازیات دښمنان دوزخ ته ولیږل زیاتې پوستې مې فتحه کړې موری ! همدااوس مې هم یوه پوسته فتحه کړه او راغلم ټوله سیمه ازاده شوه په ټوله سیمه اوس زموږ قبضه ده ....

«الله اشکر دی ، شکردی ، دمور په وجود کې حرکت پیدا شو او ورو ورو یې شکرونه کول ناڅاپه له کټ څخه پورته شوه او وې ویل :

ګل خان ورته وویل ! موری اوس چیرته لاړشو ... په دې وخت ... موروړته وویل:

- څه مه وایه .... څه مه پوښته ، ته پورته شه ماپسې راځه تا وویل چې وخت مې کم دی ، ته به بیرته هم ځې ... »

ده ورته وویل : هو ! موری زما وخت کم دی ، زه بیرته ځم ....»

نوبیا راځه ، ماپسې راځه وخت مه ضایع کوه ....

په سلګونو پوښتنې دګل خان په زړه کې ګرځیدلې خو هغه دیوه فرمانبردار زوی په شان پورته شو او ودرید ، مور ورته وویل : زما لاس ونیسه او له کور څخه ووځه ، ګل خان وپوښتل : دکور څخه دباندې ....

هو! دکور څخه بهر ... زه زویه ... زوی له مور څخه وپوښتل : موری! زینبه چیرته دی ؟ نوری چیرته دی ؟ هغه هم دځان سره روانه کړه دمور غږ ناڅاپي ډیر نرم خوله درده ډك شو :

نوری او زینبه ! زه تا هغو ته وروړلم ...

موری هغه چیرته دی ؟ هغه ولې له تاسره نه وسیږي ؟

ناڅاپي څه ور په یاد شول مور ته یې وویل : ته یوه دقیقه ودریږه زه خپل څادر رواخلم ...په چټکۍ سره کوټې ته ننوت خپل څادر یې راواخیست او مورته راغی وخت ډیر کم وخو هغه نه پوهیده چې نوری او زینب چیرته دی ، مور دی چیرته بیایی ... موراو زوی دواړه دکلي له کوڅې ووتل ، یوه عجیبه

منظره وه شپه وه او چوپتیا ، او دهغوی دواړو په سینو کی توپان خوزیده خو هغه یی چوپ کړی و ارام روان و ، څو دقیقی وروسته له کلی ووتل ، گل خان ولیدل چی دمور زړه یی درزیده نور ورته گام اخیستل گران و ، ډیر کمزوری وه هغه ورته وویل :

موری څومره لری ځو ، راشه چی په شادی کړم .... هغی ورته وویل : نه گل خانه ! زه له تاسره ځم ، دزوی سره گام په گام پل اخلم ، فاصله دی زیاته وی ، لنډه به شی ، ډیر لری نه ځو ... دگل خان پر اعصابو ورو ، ورو فشار زیاتیده ، هغه هیڅکله په مغزو کی داسی کشمکش نه و محسوس کړی دده مور هیڅکله داسی راز دارانه رویه نه وه غوره کړی ، په زرگونو پوښتنی دگل خان په زړه کی گرځیدلی : ایا زینب بل کورته لاړه ده؟ ولی ؟ ایا دمور او زینبی تر منځ جنگ شوی ؟

ولی جنگ ددوی په مینځ کی شوی ؟ دوی خو جنگ نه کاوه بیا ولی جنگ وکړ ؟ زه به زینبی ته سخته سزا ورکړم ورته وبه وایم چی له مور څخه بخښنه وغواړی ، هغی ولی مور گوښی پریښی او لاړه ده ، له زیاتی غصی دگل خان رنگ تك سور شو هغه چی شااوخوا نظر واچاوه لیدل یی چی له کلی راوتلی اوهیڅ کور نه ښکاری ، دځان سره یی وویل : موردی چیرته بیایی؟

زینبه او نوری چیرته دی ؟چیرته دی ؟!

مورسخته ستری شوی وه ورووړو یی گامونه اخستل ، مور یی ناڅاپی ودریده دگل خان ساه اخیستل بند شول ، مخامخ دکلی هدیره وه !

ما به مخکی هم په سختی پیدا کاوه خو اوس بیخی راڅخه ورك شوی زه دخپل لمسی او نږور قبر پلټم » گل خان چیغی کړی :

قبر ...قبر ... ته څه وایی .... »

موروورته وویل : وروغږیږه .... نوری دلته ویده شوی ، هغه به راویښه شی گل خان وارخطا شو : نوری اوس هم ویده ده ... اوس ویده ده .... گل خان چیغی زیاتی شوی : موری ...موری ... مور ورته وویل راځه ....دا مخکی ښی لاس ته ... ، ناڅاپی ددوقبرونو مینځ کی کیناسته په تیاره کی دواړو قبرونو باندی گوتی وهلی : دادی زینبه ... او دلته نوری ویده دی ..... گل خان دواړه قبرونه ولیدل ، سترگی نمجنی شوی ، اوښکی وبهیدی ، ژړیده بیایی چیغی کړی ، موری !داولی ؟ داڅنگه ؟...

سپین سری موری نږور پر قبر شگی سمولی ، دزیاتی مینی داسی شوه تابه وی چی زینبه یی مخی ته ناسته ده داسی لکه دهغی په وجود چی گوتی وهی په تیاری کی دمور غږ چورلیده غږ یی ژبغړانده شو گل خانه ! یو میاشت دولس ورځی مخکی هغوی راغلل .... هغه ظالمان چی زموږ هیواد یی دوینو ډنډ کړ هغوی راغلل ، کلی محاصره کړ موږ ټول یی راټول کړو زموږ دکوروونو تلاشی یی پیل کړه ، دتاپه باب او دنورو مجاهدینو په باب یی پوښتل ، څوك یی په څپیړه ووهل ، څوك یی په کنداغونو ووهل ، ته خو پوهیږی چی کلی کی ځوانان چیرته و یواځی سپین سری ښځی ، ماشومان او ځوانی ښځی وی هغوی وویل : که دمجاهدینو مرسته وکړی کلی ته به اور ورته کړو ، ښځی به بی عزته کړو ، هغوی به چی ماشومان ولیدل دمیږو په شان به یی رانیول ، د« گلفشان » لس کلن زوی یی راونیوه اووی ویل :

دابه ښارته لاړشی ، سبق به ووایی ، روسیی ته به لاړشی ، لوړتعلیم به وکړی ، ،«گلفشان » خپل زو ی پسی ورغله دوی هغه په لغتی ووهله په کنداغونو یی ووهله ، گولی پری وچلولی او ویی وژله ، گلفشان مره شوه زوی یی

مړ شو او دموراو زوی وینه سره یو ځای شوه گل خانه ازینبه ډیره زروره وه ، کله چی یو روسی پوځی دنوری خواته ورغی دی نوری په ځمکی ودروله دیوه پوځی څخه یی ټوپك واخیست بیا یی ډزی پیل کړی ، څو تنه پوځیان ووژلی شول څو تنه ټپیان شول ، دی یی هم وویشته خو بیا یی هم چی پوځیان ولیدل دنوری خواته وروان دی طاقت پکی پیداشو ټوپك یی سم کړ او خپل نوری یی پخپله وویشتله .

گل خانه! زینبی نوری دروسانو لاس ته ورنکړه ، کله چی هغه مړه کیده دنوری سره یی په غیږکی وه او چی کله یی ساه ورکوله وی ویل :« موری اکله چی گل خان راغلو ورته ووایه ماستا غزت وساته ، ما پرنښوده چی پر نوری دروسانو لاس ولگیږی ، موری ورته ووایه ! چی ته تلی هم نوری ویده وه او چی ته راغلی بیاهم نوری ویده ده.

دگل خان په سترگو کی اوښکی وچی شوی ارامه شوسترگو یی ددواړو قبرونو طواف کاوه دمور او لور قبر ، یولوی او یو ورکوټی قبر ، ورکوټی قبر ، دلوی قبر په غیږ کی و .

موروورته وویل :

په دی ورځ زیاتی ښځی ووژل شوی ، زیات ماشومان دتورو خاورو میلمانه شول خود یوه کافر هم پر چا لاس ونه لگید ، په کلی کی خو سپین ږیری او سپین سری ښځی پاتی شوی ، موږ ټولو ته وروستی غسل ورکړ ، موږ ټول خبش کړل ناڅاپی دمور په غږ کی سکتگی پیداشوه .

وگوره گل خانه !په دی هدیره کی ستا پلار ویده دی په دی هدیره کی دکلی ټولی ځوانی ښځی او ماشومان ویده دی ... گل خانه ! زه به هم دلته ویده شم .

گل خان په تیاره کی دقبرونو خواته لیدل ، دآسمان خواته یی ولیدل ، آسمان تك شین و ، هغه خپل کلی ته راغی دزړه دکومو ټوټو سره یی چی لیدل وی لیدل ، دکوم غږ اوریدل یی چی غوښتل وای ورید !! کومی څیری چی لیدلی وی لیدی !! مور ورته وویل:

گل خانه استا دتگ وخت دی ... تراوسه کافران ژوندی دی ، دښمن شته بیایی ساه واخیسته وی ویل : زما فکر مه کوه ، زه خپلو کی یم ، دخپلو سره به ویده شم !! بیا جگه شوه ودریده ، گل خان دقبرونو له منځ څخه خپل څادر پورته کړ مورته یی ووی ویل : موری راځه .... زه تاترکوره ورسوم ....مور ورته وویل : نه گل خانه زه پخپله ځم ... ته دخپل فرض پوره کولو ته لاړ شه ځنډ مه کوه ... نوری ویده ده ،.... زینبه ویده ده ....ټول ویده دی ..زه هم ویده شم دگل خان غږ ډډشو،موری ....موری ....

مور ورته وویل : ژاړه مه .... چی څومره ژړل ووموژړل ، اوس دی اوښکی خپل اختیار کی که ...

ولی ژاړی ؟ دلته نه ستالور ته کوم تکلیف شته نه دی ښځی ته ... ستامور هم خپلی ورځی پوره کړی خو زویه دښمنان ختم کړه ....

گل خان دمور په وړاندی سر وښوراوه ، مور دزوی پر سرلاس راکش کړ .... نور نو ځه گل خانه ! الله (ج) ناصر او حافظ شه ، گوره پرشاگولی ونه خوری ددښمن سر په غوځولو کی سستی ونکړی ، گل خان دهدیری خواته وکتل بیایی وویل:

موری اواوره .... اوس به زموږ دښمن ... به کله هم دلته رانشی ، کله به هم رانشی....

مور به هغوی یو گام پر مختگ ته هم پرینږدو .... داسیمه به دهغوی هدیره کړو ....

مور ورته وویل .... انشاالله ..... گل خان حرکت وکړ او دشپې تیاري رڼایي ته ځاي پریښود .



راغلی لیکونه

دمنبع الجهاد مجلی لوستونکو اومینه والو په دی میاشت کی هم دفرهنګی ټولنی په نوم خپل لیکونه رالیږلی او تر موږ رارسیدلی دی چی موږ یی دنومونو دزیاتوالی له امله دځنو ورونو نومونه او دځینو دلیکونو څخه یوه برخه په دی ګڼه کی خپروو .

دصوابی دبره کی کمپ څخه قاری خدایداد ، دکرمی ایجنسی دسرو غوږګو ددارالعلوم شمیسه احمدیه څخه طالب العلم حبیب الرحمن طوطاخیل ، دمانسهری ضلع ازادخان مارکیت څخه محمد نور قوماندان ، دکوهاټ بیرون جنګل خیل ګیټ مرغی منډی څخه قمرګل مجاهد ، دشوری انقلاب اتفاق اسلامی افغانستان دکمسیون فرهنګی څخه الحاج محمد هاشم واعظی زاده ، دبلوچستان نورالای حبیب مارکیټ څخه رازمحمد پکتیاوال ، دجنوبی وزیرستان وانه دیرینور کمپ څخه زده کونکی محمد طاهر مطیع ، دخپیانګی څلورم نمبر کمپ څخه زده کوونکی سنګین ، زده کوونکی اکبرخان ولی محمد درویش ، دضلع میانوالی تحصیل عیسی خیل څخه میر زمان کوازوال ،دپاکستان ضلع هریپوره اګخانه ګلابت کالونی اسمان چوك څخه عبداللطیف حبیب ، له همدی ځای څخه سمع الحق ،دهریپور اتمان چوك څخه بخت محمد ګردیزی ، دالمان د«افغانی مسلمانوځوانانو انجمن » غړیو ، دپیښور دصدرڅخه عبدالصبور ، د وانه څخه محمد انور ،د لاس انجلس کلفورنیا څخه محمد ظاهر ، دضلع بنو څخه حفیظ الله «ځدران » ، شفیق الله ځدران ،قدرت الله ځدران ، په خپلو رالیږلو لیکونو کی دفرهنګی ټولنی کارکوونکو ته سلامونه ویلی او دمجلی دستاینی وروسته یی دنشراتو دوراستولو غوښتنه کړی او هم ځینو ورونو دمجلی د ورسیدو داد راکړی دی ، فرهنګی ټولنه ددغو خوږو دوستانو سلامونو ته وعلیکم وسلام وایی او هم به کوښښ وکړی چی دامکاناتو په صورت کی دنشراتو مینه والو ته خپل نشرات وراستوی .

همدارازموږ نورو ورونو هم دفرهنګی ټولنی په نوم لیکونه رالیږلی چی موږ یی دلته ځینی برخی خپروو .

دحضرت سلمان فارسی (رض) غونډ مجاهدینو هریو محمد سنګین وفادار ، رافت جان جهادیار ، رحمت الله جان او رحمت خان په خپل رالیږلی لیك کی دفرهنګی ټولنی کارکوونکو ته دسلامونو ویلو وروسته لیکلی :« دمنبع الجهاد مجله چی تر اوسه په خپل وخت اوښه چاپ شوی ده په رښتیا سره دافغانستان دمجاهد ملت دزړه اواز دی او داسی مضامین په کی خپرېږی چی دمجاهد تنده پری ماتیږی او زیاتوی چی موږ مجاهدین ستاسی ددی لوی خدمت څخه ډیره مننه کوو او هم درته دالله (ج) ددربار څخه دلازیات بریالیتوب غوښتونکی یو .

زموږ یو بل ورور ع-ر - غزیز په خپل رالیږلی لیك کی دفرهنګی ټولنی کارکوونکو ته دسلامونو ویلو وروسته لیکلی :

... نشریه ماه عقرب وقوس برایم رسید یك جهان ممنون وسپاسگزارم نشریه منبع الجهاد وهفته نامه جهاد هنداره یگانه منبع خبر ونظریات علمی ، جهادی وسیاسی است که از دیار هجرت مسلسل به دسترس ام قرار میگرد .... خداوند (ج) به شما قوفیق عطا فرماید تانشرات تانرا مانند گذشته ها برایم ارسال دارید ونیز سعی هرچه بیشتر در بهتری معیار نشریه به حرج دهید معیار صحافت مظامین ادبی وسیاسی خپلي ها بهتر شده ... موفقیت های هرچه بیشتر در زمینه به بهتر سازی نشریه تان از خداوند لایزال ویکتا تمنا دارم .

نوموړی په خپل لیك کی یولړ پیشنهادونه هم رالیږلی چی فرهنګی ټولنه به زیار وباسی تر څو دامکاناتو په صورت کی ددغه ورورذکر شوو موضوعاتو ته په خپلو نشراتو کی ځای ورکړی .

له چترال څخه زموږ دایمی همکار عبدالرشید «اریا» دفرهنګی ټولنی کارکوونکو ته دسلامونو ویلو او مجلی ستایلو وروسته ګیله کړی او لیکی چی : له خپلو نامناسبو حالاتو نه ګیله وکړم که ستاسی له اداری نه ، حالات به ځکه نه ګرموم چی زموږ دخپلو اعمالو مولو ددی او که تاسی دګیلی اجازه راکوی نوداده چی یو خو مجله ناوخته چاپیږی بل چی تر څو زموږ لاسونو ته رارسی ، حوصله مو ورته بیخی په مورګو اوستی وی او لوستو توان راسره پاتی نه وی .

فرهنګی ټولنه ددغه ورور سلامونو ته وعلیکم سلام وایی او دمجلی ستاینی څخه یی مننه کوی ، پاتی شوه دګیلی خبره نوموږ دغه ورور ته لیکو چی تر اوسه پوری خو دمنبع الجهاد وخت په وخت چاپ شوی او فرهنګی ټولنه زیار ایستلی تر څو مجله ژرتر ژره لوستونکو او مینه والو ته ورورسوی بیا هم که کله داکار دځینو مشکلاتو له امله ځنډیدلی وی نو ورونه باید خپله حوصله په ځای وساتی او موږ به هم زیار وباسو تر څو خپل نشرات دامکاناتو په صورت کی وخت په وخت دغو دوستانو ته ورواستوو.

ابدي ژوندي

شهيد ميراخان

شهيد ميراخان دمستو خان زوي په ١٣٤٥هـ ش كال دلوگر ولايت په پل علم سيمه كي زيږيدلي ؤ .
نوموړي په افغانستان كي دثور كودتا دكيدو وروسته دپاكستان اسلامي هيواد ته هجرت كړي ، دهجرت وروسته يي دكمونستانو په مقابل كي په وسله وال جهاد پيل كړي او دجهاد په دوران كي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني او مالي تاوانونه وراړولي .
بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ١٣٧٠/١/١١هـ ش نيټه دخوست دتاريخي فتحي په ورځ دخوست په بازار كي دشهادت لوړ مقام ته ورسيد

«اناالله وانا اليه راجعون»

شهيد طالب العلم رناخان

شهيد رناخان په ١٣٥٢هـ ش كال كي زيږيدلي او په قوم سينكي كوچي ؤ .
نوموړي دخپل كم سن په درلودلو سره په مختلفو مدرسو كي ديني زده كړي كړي او دزده كړو تر څنگ يي دكمونستانو په مقابل كي وسله وال جهاد هم كاوه ، چي دجهاد په دوران كي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيات ځاني او مالي تاوانونه وراړولي .
بالاخره دغه نوميالي مجاهد دگرديز په عملياتو كي په ١٣٧٠/٧/١٥هـ ش نيټه دبنوزيو قرارگاه دفتحي وروسته ددښمن دتوپ په گولي ولگيد او دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(اناالله وانا اليه راجعون)

شهيد محمد صوفي

شهيد محمد صوفي دمرحوم حاجي فقير محمد زوي په ١٣٣٢هـ ش كال دپكتيا ولايت دخوست داسماعيل خيلو دلپوريو په كلي كي زيږيدلي ؤ نوموړي دخوښن په ليسه كي ابتدايي زده كړي سرته رسولي وي ، چي په افغانستان كي دثور دكودتا وشوه ، نوده هم دكودتا سره جوخت دكمونستانو په مقابل كي په وسله وال جهاد پيل وكړ او دجهاد په دوران كي يي ددين او وطن دښمنانو ته زيانونه ځاني او مالي تاوانونه وراړولي .
بالاخره دغه نوميالي مجاهد په ١٣٥٩/١٠/١٥هـ ش نيټه دلپوريو په سيمه كي ددښمن سره په يوه مخامخ جگړه كي دشهادت لوړ مقام ته ورسيد .

(اناالله وانا اليه راجعون)

شهید مولوي شکرالله

شهید مولوي شکرالله «بشري» د ډاکتر حیات الله «بشري» زوي چي د ننګرهار ولایت دخوږیانیو دبازخیلو په کلي کي سترګي غړولي .

نوموړي لومړي زده کړي یي د «کامي» سیمي په یوه ښوونځي کي سرته رسولي اولوړي زده کړي یي په پیښور کي دامام ابوحنیفه (رض) په مدرسه کي تکمیل کړي.

دثور کرغیرني کودتا په کیدو سره یي وسله وال جهاد پیل کړي ، دجهاد په دوران کي زیات افتخارات ګټلي .

بلاخره دغه نومیالي مجاهد (۱۳۷۰هـ ش کال دعقرب په میاشت کي دغازي اباد په څلورم فارم کي دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

(اناالله وانا الیه راجعون)

شهید روکي

شهید عبدالرحمن مشهور په روکي دمدیر غلام غوث زوي دننګرهار ولایت دبهسود اوسیدونکي ؤ.

نوموري خپل تعلیمات یي تر اتم ټولګي دبهسودو دمحمدي صاحب زاده په ښوونځي کي سرته رسولي او په ۱۳۶۳ هـ ش کال کي یي پاکستان ته هجرت کړي دهجرت سره جوخت یي په وسله وال جهاد پیل کړي او په دي دوران کي اسلامي انقلاب ته زیات افتخارات ګټلي .

بالاخره دغه نومیالي مجاهد د(۱۳۷۱هـ ش)کال دروژي په (۲۷) دثمر خیلو په سیمه کي دشهادت لوړ مقام ته ورسید.

(اناالله وانا الیه راجعون)

شهید جمین خان

شهید جمین خان دشیرعلم زوي دپکتیا دګردیز اوسیدونکي او په قوم ځدران ؤ.

نوموړي دیني روزنه یي په خپله سیمه کي سرته رسولي ، دثور تر کرغیړني کودتا وروسته یي هجرت کړي او دملحدینو په مقابل کي یي وسله وال جهاد پیل کړي ، دجهاد په دوران کي یي ډیر افتخارات ګټلي .

بالاخره دغه نومیالي مجاهدپه (۱۳۶۰) هـ ش کال کي دروسانو سره په مخامخ جګړه کي دشهادت لوړ مقام ته ورسید .

(اناالله وانا الیه راجعون)

بسم الله الرحمن الرحيم

نبوي لارښوونې

دزيد بن خالد(رض) څخه روايت دی چې
پيغمبر (ص) وفرمايل :
چاچې دالله (ج) په لار کی جنګيدونکی
مجاهد ته وسايل تهيه کړل جهاد يی
کړی او چاچی په ښه توګه د غازی د
کورنی سرپرستی وکړه په حقيقت کی
جهاد يی کړی (متفق عليه)

دگردیز دهوایی ډگرترڅنگ د رادار مرکز یوه څنډه

دگردیز دامنیتی کمربند یوه پوسته